﴿يُثَبِّتُ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ آمَنُواْ بِٱلْقَوْلِ ٱلثَّابِتِ فِى ٱلْحَيَاةِ ٱلدُّنْيَا وَفِى ٱلآخِرَةِ وَيُضِلُّ ٱللَّهُ ٱلظَّالِمِينَ وَيَفْعَلُ ٱللَّهُ مَا يَشَآءُ﴿٢٧﴾ سورة ابراهيم﴾

# د قبر شپه

ليكوال:مولوي محمد غني فاروقي

PDF Creator: Obaidullah farooqi
0782122678

Ketabton.com



(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

د کتاب ځانګړنې:


| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | : | د قبر شپه |
| لیکوال | : | مولوي محمد غني فاروقي |
| اړیکه | : | ۰۷۹۹۸۰۰۹۳۵ |
| کمپوز او ډیزاین | : | صادق الله صادق |
| چاپ کال | : | ۱۳۹۳ ل. |
| چاپشمېر | : | ۱۱۰۰ ټوکه |
| د خپرونو لړ | : | (۲٤۲) |

**خپرندوی**

**ګودر کتاب خپرنځی - ننګرهار**

ګودر کتاب پلورنځی، لانډیني پوړ، اسحق زي مارکېټ، بزازي څلورلارې، جلال اباد

اړیکې: ۰۷۹۵۳۵۳٦۱۰-۰۷۹۸٤۸۷۸۷۹-۰۷۹۷۵۰۰۵۰٦


د چاپ حقوق خوندي دي.



# ډالۍ

**جنتي وریښمینو جوړو کې پوښلې، د مشکو پر عطرینو وږمو خوشبویه، د ایمان پر مانیزې طلا سینګار، د علیین ماڼۍ کې نازولې مېلمنې:**

**هو؛ د قبر ناوې ته!**

**م. غ. فاروقي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کايناتو جوړې

چې مې شيرين جانان خبرېږي
زمـــا بــه يــې زنــې پــه مــلــمــل تــړلــې ويــنــه

هوکې؛ د اسلامي نړۍ اتلو ځوانانو، ورونو او خويندو، تاسې پوهېږئ! چې د دنيا جوړه اخرت دى، د شپې جوړه ورځ ده، د سپين جوړه تور رنګ دى، د سپين زر جوړه سره زر دي، د شتمنۍ جوړه فقر دى، د ښايست جوړه بدرنګي ده، د تيارې جوړه رڼا ده، د لمر جوړه سپوږمۍ ده، د روغتيا جوړه ناروغي ده، د وچې جوړه لمده ده، د سمې جوړه غر دى، د ګرمۍ جوړه يخني ده، د ايمان جوړه کفر دى، د نېکمرغۍ جوړه بدمرغي ده، د حق جوړه باطل دى، د خوږ جوړه تريخ دى، د اسمان جوړه ځمکه ده، د خير جوړه شر، د بريا جوړه ناکامي ده، د مينې جوړه کرکه، د انسان جوړه پېرى، د سبا جوړه بېګاه، د حرکت جوړه سکون، د ښکته جوړه بره، د پيل جوړه پاى ده.

او د ژوند جوړه مرګ دى، د کايناتو د جوړو مانيز او فطري اتحاد ته په پام مو هڅه وکړه، چې ګرانو لوستونکو او مينه والو ته د دنياوي ژوند د استوګنځي هاخوا د برزخي ژوند د يو دېره ځاى (قبر) په اړه لنډ معلومات برابر کړو.

د الله تعالى په فضل او ځانګړې لورينې پر دې بريالي شو، چې د ژوند جوړې مرګ سره د اشنايۍ د پيلولو په موخه د مرګ د ياد لړۍ، د مرګ شېبې، غسل، کفن، جنازه، د قبر جوړښت، خاورين کور ته د سپارلو احکام، د قبر ازموينه، د ازموينې ډول، د ازموينې پلاوى او يو شمېر نور قرآني او نبوي زېورات (د قبر شپه) تر سيورى لاندې د قبر ناوې ته د عقيدوي ګاڼې په بڼه د قرآن او سنت له خزانو نه راټول کړ، که څه هم چې د قبر شپې په غېږ کې نيولي معلومات په ډېره لنډه او



ساده بڼې سره دي، خو هيله مو دا ده، چې الله تعالى يې د مسلمانانو لپاره د خير او د قبر په شپه کې د رڼا وسيله وګرځوي.

د يادې هڅې بشپړاوي، سينګارولو او تر تاسې پورې د رسولو لړ کې د ګودر خپرندويې ټولنې مشر قاري قدرت الله تائب، صادق الله صادق او زاهد الله جانان نه د زړه له تله مننذوى يم.

الله تعالى دې يې له موږ او تاسې ټولو مينه ناکو لوستونکو سره له يارانو نه د جدايۍ شېبو په ژبه په (لااله الاالله) کلمه جاري او ژوندۍ وساتي.

نور مو د وخت زرينې شېبې نه نيسم، په دې تمه چې د دعاګانو په ښکلې لپه کې مې له ياده ونه باسئ.

ستاسې د مينې پوروړى
محمد غني فاروقي
مسجد مېنه-جلالکوټ
۳۰-۵-۱۳۹۳ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بسم الله الرحمن الرحیم**

# لومړی څپرکی

## د مؤمن لپاره ډالۍ

**دا حقیقت دی، چې ژوند سره شتمني او ثروت وي، ژوند ستر اسماني سوغات دی، د ژوند جوړه مرگ دی، هو؛ مرگ هم د ایمان خاوندانو لپاره الهي ډالۍ ده، داسې ډالۍ چې په وسیله یې دوست خپل دوست ته رسېږي، د دوستانو ترمنځ د مینې او راشه-درشې په پار د پُل بڼه لري.**

**عبدالله بن عمرو رضی الله عنهما د حدیث راوي دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي:(مرگ د مؤمن لپاره ډالۍ ده.)[1]**

**همدا راز حسین بن علي رضی الله عنه د حدیث راوي دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: (الموت ریحانة المؤمن).**

**یانې: مرگ د مؤمن لپاره د گل په څېر دی.**

1- المستدرك على الصحيحين للحاكم (4/ 355).



**عائشه رضی الله عنها د حدیث روایت کړی دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: مرگ غنیمت دی او د الله تعالی نافرماني معصیت (گناه) ده... .**

**ناپوهي بې لارېتوب دی، ظلم رسوایي ده، د الله تعالی اطاعت د سترگو یخوالی دی، د الله تعالی له وېرې ژړا کول د نجات ذریعه ده، ډېره خندا د هلاکت لامل دی.**

**له گناهونو څخه رښتینې توبه کوونکی داسې دی، لکه: له سره یې چې گناه نه وي کړې.[1]**

**(مُحَمَّدَ بْنَ الْمُنْكَدِرِ، يَقُولُ: " بَلَغَنِي أَنَّ آدَمَ، عَلَيْهِ السَّلَامُ لَمَّا مَاتَ ابْنُهُ قَالَ: يَا حَوَّاءُ مَاتَ ابْنُكِ، قَالَتْ: وَمَا الْمَوْتُ؟ قَالَ: لَا يَأْكُلُ، وَلَا يَشْرَبُ، وَلَا يَقُومُ، وَلَا يَمْشِي، وَلَا يَتَكَلَّمُ أَبَدًا، قَالَ: فَصَاحَتْ حَوَّاءُ، فَقَالَ آدَمُ: عَلَيْكِ الرَّنَّةُ وَعَلَى بَنَاتِكِ، وَأَنَا وَبَنِيَّ مِنْهَا بَرَاءٌ"[2])**

**د محمد بن منکدر په روایت کې راغلي، چې کله د ادم علیه السلام زوی مړ شو، نو حوا رضی الله عنها ته یې وویل: زوی دې مړ شو.**

1- بيهقي.

2- حلية الأولياء وطبقات الأصفياء (3/ 148).

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې وویل: مرګ څه شی دی؟

ادم علیه السلام وویل: نه خوراک کوي او نه څښاک، نه ودرېږي او نه کېني او نه خبرې کوي.

راوي وايي حوا رضی الله عنها چغه کړه.

ادم علیه السلام وویل: پر تا او ستا په لورګانو دې ویر وي او زه او زما زامن ترېنه خلاص یو.

د ابراهیمي ملت بنسټ اېښودونکي ته چې کله ملک الموت (د مرګ پرښته) راغله، چې روح یې واخلي، ابراهیم علیه السلام ورته وویل: ملک الموته! تا داسې کوم دوست لیدلی، چې د خپل دوست روح له هغه نه واخلي؟

د مرګ پرښته بېرته د الله تعالی لور ته ورغله او د ابراهیم علیه السلام خبره یې ورته وکړه، الله تعالی د مرګ پرښتې ته وویل: ابراهیم ته ووایه ((داسې کوم دوست دې لیدلی، چې د خپل دوست دیدن بد ګڼي!؟))

د مرګ پرښتې د الله تعالی پیغام ابراهیم علیه السلام ته راورساوه. ابراهیم علیه السلام وویل: چې داسې ده، نو همدا شېبه مې روح واخله... [1].

---

1- التذکره فی احوال الموتی واموراالآخرة ، مخ:۱۲.



ابودرداء رضی الله عنه وايي: نشته هېڅ مؤمن؛ مګر مرګ د هغه لپاره غوره دی، که څوک یې نه باوروي، نو الله تعالی وايي:

﴿وَمَا عِنْدَ ٱللَّهِ خَيْرٌ لِّلْـأَبْرَارِ﴾ ژباړه:((او څه چې له الله تعالی سره دي د غوره بندګانو لپاره هماغه ډېر غوره دي.))

همدا راز الله تعالی وايي: ﴿وَلاَ يَحْسَبَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ أَنَّمَا نُمْلِي لَهُمْ خَيْرٌ لِّـأَنْفُسِهِمْ﴾ ژباړه:((دا مهلت چې مونږ ورکوو کافران دې دا د ځان لپاره غوره نه ګڼي.))

او حیان بن اسود ویلي: ((مرګ یو پُل دی، چې دوست خپل دوست ته رسوي.

## د ژوند جوړه

په عامه هدیره کې د ځان، کورنۍ او خپلو خپلوانو د قبرونو لپاره ځای نیول او له هغې نه د سیخانو کټارې تاوول او قولف اچول شرعاً مناسب کار نه دی، ځکه اوس مهال په ځانګړې توګه په ښاریو کې د هدیرو لپاره وقف شوي ځایونه ډېر کم دي، دولت هم د مړو لپاره کومه ستراتیژي نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هو؛ داسې ستراتيژي، چې د سيمې د استوګنو د مړينې په مهال د هغوی لپاره هديره، د بې وزلو او فقيرانو د مړينې تکفين او تجهيز برابر کړي، نشته که څه هم چې مرګ د ژوند جوړه ده، که دولت د ژوند لپاره ستراتيژۍ ټاکي، پکار ده چې د مرګ لپاره هم ستراتيژي وټاکي او دا ستراتيژي بايد د قرآن او سنت د پالېسيو سره جوړه وي؛ نه په ټکر کې.

مرګ د ژوند جوړه ده، قبر د اخرت لومړی کور دی، ښايي برزخي نړۍ ته د سفر ټول لازم توکي برابر کړای شي، ځکه سفر يقيني دی، ټکټ وړيا دی، سيټ ساتلی دی.

له دنيا نه روانېدل دي، وروستی منزل يې اخرت دی، د سفر موده هم ډېره کمه ده؛ بلکې څو ثانيو او شېبو کې ځمکه کې دننه د دوه ګزو په اندازه ځمکنی پرواز دی، د پرواز نېټه د اجل وخت دی. سل فيصده يقيني دی، په همدې اړه مسافرينو ته لازم دي، چې هره شېبه تيار او چمتو واوسي، د سفر په اړه د تفصيلي معلوماتو او اړينو توکيو لپاره قرآن او سنت ته مراجعه وکړي او يا هم د



ربښتيني عالمانو څخه د سفر د شرايطو معلومات لاسته راوړي.

يوه خبره د يادولو وړ ده، چې ګران قدره مسافرين ورونه او خويندې دې يوازې د سفر جوړې لپاره پينځه متره سپينه ټوټه له ځانه سره ولري، د بې ګټې سامان الاتو اخيستل نه دي پکار، يوازې نېک اعمال، صالح اولاد او ګټور علم چې نورو ترېنه ګټه حاصله کړې وي، په دې اوږد سفر کې ګټه لري.

د نورو سامانونو د اخيستلو هڅه مه کوئ، که درباندې پېټې شو يا په کار رانغله ذمه واري مو خپله ده.

ګران قدره مسافرينو!

هيله ده، چې هره شېبه د سفر لپاره تيار واوسئ او دا خبره هم په ياد ولرئ، چې د سفر لاره تياره ده، د رنګارنګ خطراتو امکان شته، د قبر جونګړه مو هم ځانله او تياره ده، د وحشت وېرې، مارانو، لړمانو کور دی، پام مو وي، چې د ايمان او عمل صالح پر فولادي پوښاک ځانونه سينګار کړئ، د توحيد د عقيدې ځل بل څراغ له ځان سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



واخلئ، چې د سفر او د مسافرۍ په کور کې د تیارو او حشراتو ښکار نه شئ.

## د مرگ هیله

الله تعالی په دې برخه کې د نړۍ د ښکلي بشر یوسف علیه السلام حکایت داسې کوي:(تَوَفَّنِي مُسْلِماً وَأَلْحِقْنِي بِٱلصَّالِحِينَ)

ژباړه:((زما خاتمه پر اسلام وگرځوه او په پای کې ما له صالحانو سره یو ځای کړه.))

مریم علیها السلام هم داسې هیله څرگنده کړې وه:(يٰلَيْتَنِي مِتُّ قَبْلَ هَـٰذَا وَكُنتُ نَسْياً مَّنسِيّاً).

ژباړه:((کاشکې زه له دې نه مخکې مړه وای او نوم نښان مې نه وای پاتې شوی.))

د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حدیث کې هم د قیامت د نږدې کېدلو پرمهال د ځینو انسانانو هیله داسې تعبیر شوې ده:((تر هغې به قیامت قایم نه شي، تر دې چې



یو سړی به د بل سړي پر قبر ورتېرېږي او وايي به کاشکې زه د دې قبر والا پرځای وای.))[1]

که څه هم چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په احادیثو کې د مرگ هیله او ارزو په ځانگړي ډول سره تعبیر شوې.

امام مسلم رحمه الله د انس رضی الله عنه په روایت حدیث نقل کړی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي:((ستاسې نه یو کس دې د هغه ضرر او تکلیف له امله چې پر ده راغلې وي، د مرگ هیله نه کوي، که بیا هم هرومرو د مرگ هیله کوي، نو داسې دعا دې کوي، ای الله تعالی! ژوندی مې ولره، تر هغې چې ژوند زما لپاره غوره وي او زما روح واخله (مړ مې کړه) که مرگ راته غوره وي.))

دغه راز د انس رضی الله عنه په روایت حدیث کې راغلي:((ستاسې هېڅ یو کس دې د مرگ هیله نه کوي او نه دې د هغه د راتگ وړاندې د غوښتلو دعا کوي، ځکه کله

1- صحیح البخاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ستاسې يو كس مړ شي، د عمل لړۍ يې پرېكړای شي او يقيناً مؤمن ته د هغه عمر نه زياتوي، مګر خير.))[1]

امام بخاري رحمه الله ويلي:((ستاسې يو كس دې د مرګ هيله نه كوي، كه محسن نېكو كار وي، نو د خير چارې به يې زياتې او كه بدكاره وي، نو كېدای شي ځان ملامته كړي.))[2]

## د مرګ ياد

مرګ ايماني حقيقت دی، هو؛ داسې ربښتينی حقيقت، چې په ډېر ياد يې د انسان اړيكې له دنيا سره پرې كېږي او د كايناتو له خالق سره وصلېږي.

مرګ د خوندونو ماتوونكی دی، د همدې له امله چې مرګ د انساني حواسو او نفساني غوښتنو اداره او كنترول كوي.

رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: ((د خوندونو د ختموونكي (ماتوونكي) ياد ډېر كوئ.))

1- صحيح مسلم.

2- صحيح البخاري.



عمر فاروق رضی الله عنه وايي: موږ ترې پوښتنه كړه، ای د الله تعالی رسوله! د خوندونو ختموونكی څه شی دی؟

رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: مرګ.

ابن عمر رضی الله عنه وايي، له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره ناست وم، يو انصاري راغی، پر موږ يې سلام واچاوه، بيا يې وويل: ای د الله تعالی رسوله! كوم مؤمنان غوره دي؟

رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل: هغوی چې ښه اخلاق لري.

هغه بيا پوښتنه وكړه: كوم مؤمنان عقلمند دي؟

رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: هغوی، چې د مرګ ياد ډېر كوي او له مرګ نه وروستيو حالاتو لپاره تياری نيسي، همدوی عقلمند دي.[1]

امام ترمذي د شداد بن اوس رضی الله عنه په روايت حديث نقل كړی، رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: عقلمند انسان هغه دی، چې خپل ځان وپېژني او ځان سره

1 - التذكره فی احوال الموتی واموراالآخرة ، مخ:۱۵.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**حساب وکړي او له مرګ نه وروستي (ژوند) لپاره عمل (صالح) وکړي.**

**او کم عقل هغه دی، چې ځان د خپلو نفسي غوښتنو (غلام) او پیرو کړي او پر الله تعالی هیلې تړي.[1]**

**انس رضی الله عنه د حدیث راوي دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي:((د مرګ یاد ډېر کوئ، ځکه د مرګ یاد ګناهونه له منځه وړي او دنیا کې انسان ته پرهېزګاري وربښي.))**

**دغه راز حدیث کې راغلي:((یوازې مرګ د واعظ په څېر بس دی.))[2]**

**هوکی ګرانو لوستونکو!**

**مرګ د ټولو خوندونو ختموونکی دی او عالمان وايي، چې د مرګ په ډېرو یادولو سره هیلې لنډېږي او دا خبره سمه ده، چې کله په انسان کې حرص او اوږدې هیلې کمزورې شي، انسان د نېکبختۍ په لور ګامونه پورته کړي، ځکه اوږدې هیلې له دنیا سره اوږدې اړیکې انسان ته**

1 - د حدیث سند صحیح دی.

2- التذکره فی احوال الموتی واموراالآخرة، مخ:۱۵.



**یادوي، حرص یې هم ځوانېږي او د حرص او اوږد امید له امله د الله تعالی عبادت او معرفت نه پاتې کېږي او په ورو ورو د دنیا د مینې پر خړ سېلاب لاهو کېږي.**

**د رسول الله صلی الله علیه وسلم ملګری او د اسلامي نړۍ لومړی خلیفه ابوبکر صدیق رضی الله عنه بیا د مرګ یاد د ښه او اوږد ژوند راز بولي، وايي:((مرګ په یاد ولرئ، ژوند به مو اوږد وي.)) او په بل ځای کې وايي:((مرګ راپه زړه کړئ، نو هغه به تاسې ته ژوند در وبښي.))**

**ابودرداء رضی الله عنه وايي: درې څیزونه د خلکو بد ایسي؛ خو زما خوښ دي:**

**۱: بېوزلي، ځکه ارام بښونکې ده.**

**۲: ناروغي، ځکه د ګناهونو کفاره ده.**

**۳: مرګ، ځکه له الله تعالی سره د مخامخ کېدو لویه وسیله ده.[1]**

**تیمي رحمه الله به ویل:((دوه څیزونو د دنیا له خوندونو سره زما اړیکه شلولې ده ۱. مرګ، ۲. د الله تعالی په مخ کې ودرېدل.))**

1 - صادق، صادق الله، د پوهانو خبرې. (لومړی ټوک ۱۳۹۳ل.) مخ: ۱۰۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**عمر بن عبدالعزيز رحمه الله به عالمان راټول کړل، بيا به يې په ګډه د مرګ، قيامت او اخرت داسې مذاکره او يو تر بله سره ياد کاوه، چې دومره به يې ژړل، تا به ويل، ګوا چې جنازه يې مخې ته ايښې ده.**

**سفيان ثوري رحمه الله به چې کله مرګ ياداوه، بيا به يې تر ډېرو ورځو خوراک-څښاک نه کاوه، که چا به ترې پوښتنه وکړه، ويل به يې: نه پوهېږم.**[1]

**عبدالقادر جيلاني رحمه الله يې بيا د نفسي ناروغيو درمل بولي او وايي:((مرګ ياد ساتل د نفس د ټولو ناروغيو درمل دي.))**

**اسلامي عالمانو ليکلي:((څوک چې د مرګ ياد ډېر کوي، هغوی پر درېو نعمتونو نمانځل کېږي:**

**١. په بېړنۍ توګه هغوی ته د توبې کولو وړتيا ورکول کېږي.**

**٢. د زړه قناعت. ٣. په عبادت کې خوشالي.**

**او څوک چې مرګ هېر کړي، پر درېو طريقو عذاب ورکول کېږي:**

1- التذکره فی احوال الموتی واموارالآخرة، مخ:١٦.



**١. د توبې کولو له توفيق څخه بې برخې کېږي.**

**٢. د کفايت په اندازه په ورکړل شوې برخه نه راضي کېدل.**

**٣. او په عبادت کې يې لټي او تنبلي په برخه کېږي.))**[1]

**رسول الله صلی الله عليه وسلم د قبرونو د زيارت کولو اجازه هم د دې له امله ورکړې ده:((چې د دې په ذريعه انسان په دنيا کې پرهېزګاره کېږي او له بل پلوه انسان ته اخرت ياد وي.))**

**اپلاتون بيا وايي:((دنيا تل د هوښيارانو په مرګ او د جاهلانو په ژوند اوښکې تويوي.))**

## د مرګ ياد زړه کې نرمي پيداکوي

**وايي چې عائشې رضی الله عنها ته يوې ښځې د خپل زړه د سختوالي نه شکايت وکړ، عائشې رضی الله عنه ورته وويل: د مرګ ياد ډېر کوه! زړه به دې نرم شي، هغې ښځې په دې نصيحت عمل وکړ ((او زړه کې يې نرمي پيدا شوه)).**

**بيا د مؤمنانو مور عائشې رضی الله عنها ته راغله او له هغې يې مننه و کړه.**[1]

1 - التذکره فی احوال الموتی واموارالآخرة، مخ:١٧.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وايي چې حسن بصری رحمه الله د یو ناروغ پوښتنې ته ورغی، هغه یې په داسې حال کې ولید، چې د مرګ بې هوشیو د ځنکدن د کمر په غاړه درولی و، د هغه د مرګ د شپېو غم، سختي یې چې ولیده، ډېر ترېنه اغېزمن شو، ډېر خواشینی کور ته راغی، رنګ یې هم الوتی و.**

**کور والاوو یې ورته وویل: الله تعالی دې پر تاسې رحم وکړي، ډوډۍ تیاره ده.**

**حسن بصری رحمه الله وویل: بچیانو تاسې پوه شئ او خوراک څښاک مو پوه شه، پر الله تعالی قسم، تر هغې چې ژوندی یم، د هغه لپاره به تیاری نیسم، عمل به کوم، تر هغې چې ورسره مخامخ شم.**[2]

**امام بخاري رحمه الله او امام مسلم رحمه الله حدیث نقل کړی، رسول الله صلی الله علیه وسلم پر یوه هدیره تېرېده، هلته یې یوه ښځه ولیده، چې قبر ته ناسته او ژاړي.**

**رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: له الله تعالی څخه ووېرېږه او صبر وکړه.**

---

1- التذکره فی احوال الموتی واموراالآخرة، مخ:۱۹.

2- التذکره فی احوال الموتی واموراالآخرة، مخ:۱۹.



**له دې حدیث نه معلومېږي، چې د قبر څنګ ته ژړا روا ده؛ خو تر هغې، چې د جاهلیت د دود په څېر ژړا، چغې او فریاد نه وي.**

**داسې ژړا چې زړه دردمن کوي، سترګې ژاړي، له سترګو اوښکې تویېږي؛ د رحمت او د زړه د نرمۍ او خواخوږۍ له امله وي.**

**دا مهال هم یو شمېر خلک د کورنۍ د غړي د مرګ پرمهال داسې کړنې سرته رسوي، چې اسلام یې غندي او د دې کړنو اړیکه د جاهلیت له زمانې سره تړي، د بېلګې په توګه پر مړي د ژړا پر مهال مخ وهل، ګرېوان څېرې کول، د سر ویښتان ویستل، پر مړي ځان غورځول، د مړي لاسونه راپورته کول او پر خپل مخ مږل او دې ته ورته نورې کړنې ترسره کول، د اسلام په سپېڅلي دین کې ځای نه لري.**

**محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم ویلي:((هغه څوک زموږ له امت څخه نه دی، چې پر مړي د ژړا پر مهال مخونه وهي، ګرېوانونه څېري کو او د جاهلیت د زمانې د خلکو په څېر غږونه پورته کوي.))**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځينې خلك د خپلو مړو داسې ستاينې كوي، چې حقيقت نه لري، كه حقيقت ولري، هم. امام بخاري رحمه الله دا كړنه په ناروا ستاينو كې شمېري.

يو شمېر خلك په طبيعي او كله په غير طبيعي ډول پر ځان پېريان راولي، ځان راغوځوي او د خلكو پام ځان ته را اړوي، په ټوليز ډول اسلامي شريعت له داسې كړنو منع كړې او دا كړنې يې د عذاب لامل ښودلي دي.

## د مرگ پرښته له چا اجازه نه غواړي!؟

مرگ د چا جاه وجلال، قيادت او منصب ته نه گوري، د مرگ پرښتې ته بې تفاوته ده، كه د بادشاه كور ته ورځي او كه د گدا، هغه پرته له وېرې او اجازې د هر انسان كور ته د روح اخيستلو لپاره ورځي.

د خوږ ژبي، خوږ غږي، بادشاه پيغمبر داود عليه السلام د خلافت ماڼۍ ته ملك الموت (د مرگ پرښته) ورغله.

داود عليه السلام ورته وويل: تاسې څوك يئ؟

د مرگ پرښتې وويل: هغه څوك چې له بادشاهانو څخه نه وېرېږي او نه يې بنگلو ته له ورتللو څوك بندولاى شي او نه رشوت او بډې قبلوي.



داود عليه السلام وويل: بيا؛ نو تاسې د مرگ پرښته ياست؟

هغه وويل: هو!

داود عليه السلام وويل: تاسې راغلئ او ما له تر دې دمه تيارى نه دى نيولى؟

د مرگ پرښتې وويل: فلانكى خپلوان مو څه شو؟، فلانكى اشنا مو څه شو؟ فلانكى گاونډى مو څه شو؟

داود عليه السلام وويل: هغوى مړه شو.

د مرگ پرښتې وويل: ايا د دوى په مړينه كې ستاسې لپاره عبرت نه و، چې مرگ لپاره مو تيارى نيولى وي؟[1]

د كتاب مينه والو! له دې كيسې نه دا زده كړه كېږي، چې د خپلو خپلوانو، گاونډيانو او دوستانو پر مړينه ښايي انسان د خپل مرگ لپاره تيارى ونيسي.

## د مرگ استازې

د احاديثو ځينو كتابونو كې په ضعيف سند سره دا حديث راغلى دى:((چې تبه له مرگ نه وېره وركوونكې ده.))

1- التذكره فى احوال الموتى واموراالآخرة، مخ:٤٦.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ياني: دا مانا، چې تبه د مرگ استازې ده، گوا چې د مرگ د راتگ خبر ورکوي او د تبې له امله ډېر ځلې د مرگ وېره احساسولای شي.[1]

## ملك الموت هر كور ته پينځه ځلې گوري

له عطاء بن يسار رضی الله عنه څخه روايت دی، وايي چې:((د مرگ پرښته هره شپه او ورځ هر كور ته په غور او ځيركتيا سره پينځه ځلې گوري، چې ايا هغه ته د هغه كور له اوسېدونكو څخه د چا د روح را اخيستلو حكم شوی او كه نه.))

انس رضی الله عنه وايي:((د مرگ پرښته هره ورځ د بنده مخ ته اويا ځلې گوري، كله چې كوم كس خاندي.

نو د مرگ پرښته وايي: ډېره د حيرانتيا او تعجب خبره ده، چې زه يې د روح اخيستلو لپاره راغلې يم او دا خاندي.))

## د ځناورو او حشراتو روحونه څوک اخلي؟

1- التذكره فی احوال الموتی واموالآخرة، مخ:٤٦.



انس رضی الله عنه وايي، رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي:((د ځناورو، چينجيو او نورو حشراتو روحونه د الله تعالی تسبيح وايي، هر كله چې د هغوی تسبيح ختمېږي، نو د هغوی ژوند ختمېږي او د دغو حشراتو مرگ د ملك الموت په قبض او واک كې نه دی.))[1]

1- شرح الصدور، مخ:٧٠.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مرگ پرښتې له چا اجازه غوښتې وه!؟

له حسين رضی الله عنه څخه روايت دی، چې جبرايل عليه السلام د محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم د مرگ د ناروغۍ په وخت کې حاضر شو، د حال احوال پوښتنه يې ترې وکړه.

محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم وويل: ناروغي مې سخته ده، خواشيني او پرېشان يم.

هماغه مهال د مرگ پرښتې کور ته د ورننوتلو اجازه وغوښته، جبرايل عليه السلام وويل: ای د الله تعالی رسوله! د مرگ پرښته د دننه راتللو اجازه غواړي، له تا څخه مخکې يې له هېچا اجازه نه ده غوښتې او نه به يې راتلونکي کې له تاسو وروسته له چانه اجازه وغواړي.

د کايناتو سردار محمد مصطی صلی الله عليه وسلم اجازه ورکړه، د مرگ پرښته حاضره شوه، په ډېر ادب سره ودرېده، وړانديز يې وکړ: ای د الله تعالی رسوله! د اطاعت حکم راکول شوی دی، که تاسې اجازه راکړئ، نو ستاسې روح به واخلم او که اجازه مو نه وي، نه يې اخلم؟



محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم وويل: ايا رښتيا همداسې کوئ؟!

هغه وويل: هو!

جبرايل عليه السلام وويل: ای د الله تعالی رسوله! الله تعالی ستاسې ديدن ته لېواله دی.

محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم وويل: ای د مرگ پرښتې! د الله تعالی د حکم پيروي وکړه، ياني عملي يې کړه.

د مرگ پرښته د خاتم النبيين او سيدالمرسلين محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم څنگ ته نږدې شوه او د هغه مبارک روح يې واخيست.[1]

## د شپې غږيز پيغام

هره شپه د راتلو پرمهال غږ کوي:((څومره مو چې وس وي، ببره وکړئ، په ما کې د خير کارونه ترسره کړئ، ځکه زه بيا د قيامت تر ورځې پورې تاسې ته نه راگرځم.))[2]

گرانو لوستونکو!

---

1- طبراني، شرح الصدور.

2- التذکره فی احوال الموتی واموراالآخرة، مخ:۱۶۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د شپې غرېز پیغام ته په پام هڅه وکړئ، د شپې ګڼو ارزښتونو ته پاملرنه وکړئ.**

**د شپې په خاموشۍ کې داسې نېکې کړنې ترسره کړئ، چې پر کولو یې خوښ او خوشاله اوسئ. هرې شپې ته د ارزښت او قدر په سترګه وګورئ، د شپې تروږمۍ مو د ایمان او عمل صالح په رڼا روښانه کړئ، چې د قبر شپه مو هم روښانه شي.**

**هو؛ دا حقیقت دی، که شپه غنیمت ونه ګڼو، د وخت د شېبو درناوی یې ونه کړو، طبیعي ده، چې ډېر څه به مو دلاسه ورکړي وي، د وخت یوه داسې برخه به مو له لاسه وتلې وي، چې په خاموشه غېږه کې یې هر اړخیزه ښودنه او روزنه ترلاسه کولای شو.**

## د مرګي سیلۍ

**امام ترمذی رحمه الله د مطر بن عکامس په روایت حدیث نقل کړی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي:((په کوم ځای کې چې الله تعالی د یو بنده د روح اخیستلو پرېکړه وکړي، ده ته په هماغه ځمکه کې څه حاجت پیداکړي.))**



**یانې دا کس هماغه ځای ته د خپلې اړتیا د پوره کولو په موخه لاړ شي او هملته یې روح واخیستل شي.**

**امام قرطبي رحمه الله د اثارو قدیمه وو پر بنسټ ذکر کړي، چې له سلیمان علیه السلام سره په شاهي دربار کې یو کس ناست و.**

**سلیمان علیه السلام ته یې وویل: د هند په هېواد کې کار لرم، غوښتنه مې دا ده، چې شمال (هوا) ته امر وکړئ، چې په همدې ساعت او شېبو کې مې هند ته ورسوي.**

**سلیمان علیه السلام (ملک الموت) ته وکتل، ګوري چې خاندي.**

**د بې ساري بادشاهۍ باچا سلیمان علیه السلام ترې وپوښتل: ولې خاندې؟**

**ملك الموت وویل: د تعجب خندا کوم، ما ته د الله تعالی له لوري امر شوی، چې د دې ساعت په وروستۍ یا پاتې برخه کې د ده روح په هند کې واخلمه او دا له تا سره په څنګ کې وینم.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



وايي، چې باد ته حکم وشو او هغه سړی يې په هماغه ساعت کې هند ته ورساوه او د هغه روح يې د هندوستان په هېواد کې واخيست.[1]

# دويم څپرکی

## وصيت مو له ځان سره ليکلی وساتئ!!

که څوك د مرگ وړاندې د څه شي وصيت کول غواړي، نو له ځنډ پرته دې، سملاسي پورته شي او خپل وصيت دې وليکي او ليکلی دې يې له ځان سره وساتي.

رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي:((هېڅ مسلمان ته مناسب نه دي، چې هغه په داسې حالت کې دوه شپې تېرې کړي، چې د څه شي وصيت کول غواړي؛ مگر له هغه سره د هغه وصيت په ليکلي ډول موجود نه وي.))

ابن عمر رضى الله عنه ويلي:((چې له کوم وخت راهيسې ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم نه دا حديث اورېدلی،

1- التذکره فی احوال الموتی وامورالآخرة، مخ:۸۱.



پر ما يوه شپه هم داسې نه ده تېره شوې، چې له ما سره دې زما وصيت په ليکلي ډول نه وي.))[1]

دا چې اوس مهال خلك د مړي په تجهيز، تکفين، جنازې، ښخولو او تعزيت کې رنگارنگ بدعتونه او رواجونه سرته رسوي، دې لپاره مناسب ده چې انسان د مړينې وړاندې وصيت وکړي، چې زما د مرگ نه وروسته زما ټول معاملات يانې: غسل، جنازه، ښخول، د قبر جوړول او د تعزيت مراسم، د رسول الله صلى الله عليه وسلم د سنتو مطابق سرته ورسوئ او له بدعتونو او دودونو ځان وساتئ، د بېلگې په توگه زما جنازه مه ځنډوئ، زما قبر پوخ مه جوړوئ، جنډې پرې مه ودروئ، ليکل پرې مه کوئ، همداراز زما د مړينې وروسته د ماښامي په نوم د ډوډۍ ورکړه، اوومه، څلوېښتمه او کليزه نمانځل مه کوئ.

**گرانو لوستونکو!**

هيله ده، چې زما او هم ستاسې وصيت همداسې وي.

## وروستۍ خبره

1- رواه صحيح البخاري، صحيح مسلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام مسلم رحمه الله د ابو سعیدالخدري رضی الله عنه په روایت حدیث نقل کړی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي:((خپلو مړیو (هغوی ته چې د ځنکدن شېبې یې نیږدې شوې وې) د لااله الاالله د کلمې تلقین او تکرار کوئ!))

معاذ بن جبل رضی الله عنه د حدیث راوي دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي:((د چا چې وروستۍ خبره (لااله الاالله) وي، جنت ته به ننوځي.))

شداد بن اوس رضی الله عنه د حدیث راوي دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي:((کله مو چې مړیو ته مرګ راشي، نو سترګې یې پټې کړئ.))[1]

ځکه چې سترګې د روح پسې وي او تاسې خیر او د خیر خبرې کوئ، ځکه پرښتې پر هغه دعاګانو امین وایي، چې د مړي کورنۍ خپل او خپلوان یې کوي.

د همدې نبوي هدایت پر بنسټ اسلامي عالمان وایي:((د مړ کېدونکي انسان څنګ ته دې د خیر خلک، نېکان او عالمان وروبلل شي، چې هلته ښې خبرې وکړي، د الله

1 - رواه سنن ابن ماجه.



تعالی یاد او الله تعالی ته دعاګانې وکړي، تر هغې چې پر مړ کېدونکي شخص د ځنکدن ګرانې شېبې اسانې شي.

## وروستۍ شېبه

سهل بن سعد رضی الله عنه د حدیث راوي دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي:((یقیناً یو بنده د دوزخ والاوو عملونه سرته رسوي او په حقیقت کې دی له جنتیانو څخه وي او کله چې یو بنده د جنتیانو عمل سرته رسوي او دی له دوزخیانو څخه وي او په تحقیق سره ټول عملونه خاتمو پورې اړه لري.))[1]

دا حدیث پر دې دلیل دی، چې خاتمې پټې دي، یوازې الله تعالی پوهېږي، چې څوک به دوزخ او څوک جنت ته ځي، ښایي الله تعالی نه تل دا سوال وکړو، چې: ای الله تعالی! د ژوند وروستۍ شېبې مو پر ایمان او د توحید پر عقیده ښایسته کړه او خاتمه مو ښکلې کړه.

اسلامي عالمان وایي:ان شاءالله هغوی به له بدې خاتمې نه خلاص وي، چې ظاهر او باطن یې پر دین برابر وي، زړه کې یې ایمان پوخ وي، هلته د زړه په مانۍ کې یې د

1- رواه صحیح البخاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



توحید د عقیدې مشالونه روښانه وي او څرګند حالت یې پر اسلامي، نبوي او اخلاقي ګاڼه سینګار وي.

ډېر ځلې هغوی د بدې خاتمې بلا داړي، چې عقل یې فاسد او خراب شوی وي، د کوچنیو ګناهونو سربېره پر لویو ګناهونو هم ټینګ ولاړ وي، د الله تعالی د احکامو خلاف په څرګنده اقدام کوي.

پر همدې بنسټ په پای کې د شیطان په جال کې ښکار شي، د مرګ وړاندې د ځان اصلاح او توبې ته تیار نه شي او وروستۍ شېبه یې تر ټولو بده شېبه شي، کله کله هم داسې کېږي، چې پر دین جوړ او برابر کسان خپل حالت ته ناسم بدلون ورکړي، د دین احکام پرېږدي، د دنیا پر شیطاني مینه اخته شي، د الله تعالی د شرعي حریم او نبوي سنتو له دایرې نه بهر ووځي او خپله خاتمه د شیطان په شاګردۍ او غلامۍ کې بده او ناکاره خاتمه کړي.

د بلعم بن باعوراء په څېر ډېری بېلګې شته، چې پر دین او مذهب پوه خلک و، خو د دنیا جاه و جلال او شتمنیو بې لارې کړ.

## نصرانی پېغله



امام قرطبي رحمه الله د بدې خاتمې په اړه یوه کیسه نقل کوي، وايي:((چې د مصر هېواد په یو جومات کې یو مؤذن و، چې تل به یې پر عبادت او نېکو کړنو بوخت و، د عبادت پر مانیز لباس او اطاعت پر الهي انوارو او رڼاګانو پوښلی و، یوه ورځ د خپل عادت پر اساس د جومات هسکې منارې ته د اذان لپاره اوچت شو.

هلته د جومات په څنګ کې د یو نصراني ذمي کور و، هغه کور لور ته یې وکتل، د نصراني پر پېغلې لور یې سترګې ولګېدې، پر عشقي فتنه اخته شو، زړه یې د هغې طرف ته لاړ، اذان یې پرېښود، له منارې نه راښکته شو او د انصاري کور ته ورننوت.

هغې پېغلې ورته وویل: څنګه راغلې، څه غواړې؟

د مصر د جومات مؤذن وویل: تا غواړم.

هغه وویل: د څه لپاره؟

ده وویل: زما عقل دې له منځه وړی او زما ټول زړګی دې رانه اخیستی.

پېغلې په لومړي ځل د ده د غوښتنې هرکلی ونه کړ.

مؤذن وویل: زه به له تا سره واده وکړم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې وویل: دا ناشونې ده، زه نصرانۍ پېغله یم او ته مسلمان یې او پلار به مې هم درنه کړي.

مسلمان مؤذن له نصرانۍ پېغلې سره د واده کولو لپاره نصراني شو او دا ورځ همدلته له هغوی سره په کور کې ایسار شو، د همدې ورځې په منځ کې د کور بام ته د کوم څه لپاره اوچت شو، ناڅاپه د بام له سره پرېوت او مړ شو.

نو دا بدبخته نه پر خپل دین او نه د هغې پر دین پاتې شو.))[1]

## د غوره خاتمې نښې

د غوره خاتمې ځینې نښې په قرآن او حدیث کې ذکر شوي دي، خو له دې سره سره بیا هم د انسان اخروي کامیابي او ناکامي په بشپړ ډول د الله تعالی په لاس کې ده، په دې څوک نه پوهېږي، چې الله تعالی به په خپلو بنده ګانو کې څوک او د چا کړنې خوښې وي، څوک به د هغه د رحمت وړ ګرځېږي او څوک به د عذاب وړ وي، الله تعالی پخپل ستر کتاب سورة ال عمران کې د ځینو کسانو د غوره خاتمې یاد داسې کړی:

[1] - التذکره فی احوال الموتی وامورالآخرة.



(وَلاَ تَحْسَبَنَّ ٱلَّذِينَ قُتِلُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ أَمْوَاتاً بَلْ أَحْيَاءٌ عِندَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُونَ ﴿١٦٩﴾ فَرِحِينَ بِمَآ آتَاهُمُ ٱللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ وَيَسْتَبْشِرُونَ بِٱلَّذِينَ لَمْ يَلْحَقُواْ بِهِمْ مِّنْ خَلْفِهِمْ أَلاَّ خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلاَ هُمْ يَحْزَنُونَ﴿١٧٠﴾ يَسْتَبْشِرُونَ بِنِعْمَةٍ مِّنَ ٱللَّهِ وَفَضْلٍ وَأَنَّ ٱللَّهَ لاَ يُضِيعُ أَجْرَ ٱلْمُؤْمِنِينَ﴿١٧١﴾)

ژباړه:((کوم کسان چې د الله په لار کې وژل شوي دي، هغوی مړه مه ګڼئ، هغوی خو په حقیقت کې ژوندي دي، د خپل رب پر وړاندې روزي مومي. څه چې الله د خپلې لورېینې له مخې هغو ته ورکړي دي، پر هغه خوښ او سوکاله دي او ډاډه خوشاله دي، په دې چې کوم مؤمنان له هغو وروسته په نړۍ کې پاتې دي او لاتراوسه پورې هلته نه دي رسېدلي، د هغو لپاره هم څه وېره او کړاو نشته. هغوی د الله په لورېینه او د هغه په مهربانۍ خوشاله او سوکاله دي او هغو ته څرګنده شوې ده، چې الله د مؤمنانو اجر نه ضایع کوي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



دويم، د مرگ په مهال د مؤمن بنده پر تندي د خولې راتلل.[1]

درېيم، رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: کوم کس چې د جمعې په شپه او يا ورځ کې مړ شي، الله تعالى هغه د قبر له فتنې او عذاب نه ساتي.[2]

څلورم، رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: د الله تعالى د خوشالۍ لپاره د (لااله الاالله) ويونکى که ترمرگه پورې په همدې عقيده پاتې شي الله تعالى به ورته جنت ورکړي.[3]

پينځم، رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: د الله تعالى په لار (جهاد) کې يوه ورځ او يوه شپه څوکۍ کول د يوې مياشت د عبادت نه غوره ده.

که هغه په دې حال کې مړ شي، نو هم به يې اجر او رزق جاري وي او د فتنې نه به هم ساتل شوى وي.[4]

1- رواه الترمذى.
2- رواه الترمذى.
3- مسند احمد.
4- صحيح مسلم.



رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي:((د الله تعالى د رضا لپاره صدقه کوونکى که ټول عمر خپله صدقه جاري وساتي، د مړينې پرمهال به الله تعالى جنت ورکړي.))[1]

رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي:((د چا چې په ژوند کې وروستۍ کلمه په اخلاص سره (لااله الاالله) وي، هغه به جنت ته ننوځي.))[2]

د رحمت نبي صلى الله عليه وسلم ويلي:((څوک چې د خپل ځان په ساتنه کې مړ شي، شهيد دى.))[3]

رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي:((د الله تعالى په لاره کې د يوې ورځې نفلي روژې ساتونکى که پر دې عمل مړ شي، جنت ته به ننوځي.))[4]

رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي:(( د (T.B) پر ناروغۍ مړ کېدونکى شهيد دى.))[5]

1- مسند احمد.
2- مستدرک الحاکم.
3 - صحيح بخاري.
4 - مسند احمد.
5-مجمع الزوائد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي:((څوك چې د خپل اهل و عيال د عزت په ساتنه كې مړ شي، شهيد دی.))[1]

رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي:((د الله تعالى په لاره كې مړ كېدونكى شهيد دی.))[2]

رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي:((څوك چې د خپل دين په ساتنه كې مړ شي، شهيد دی.))[3]

رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي:((څوك چې د خپلې وينې په ساتنه كې مړ شي، شهيد دی.))[4]

رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي:((كومه ښځه، چې د خپل بچي د زيږېدنې له امله مړه شي، شهيده ده.))[5]

رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي:((د ذات الجنب (د اړخ په درد) يانې په نمونيه ناروغۍ مړ كېدونكي، شهيدان دي.))[6]

1- سنن النسائی.
2- صحيح مسلم.
3- سنن ابي داود.
4- سنن الترمذی.
5- مسند احمد.
6- موطا امام مالک رحمه الله.



رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي:((د طاعون پر ناروغۍ مړ كېدونكى شهيد دی.))[1]

رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي:((څوك چې د الله تعالى په لاره كې ووژلی شي، شهيد دی.))[2]

رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي:((څوك چې د ګېډې په ناروغۍ (د درد له امله) مړ شي، شهيد دی.))[3]

رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي:((څوك چې غرق يا په اوبو كې ډوب شي، شهيد دی.))[4]

رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي:((پر چا چې دېوال راپرېوځي او مړ شي، شهيد دی.))[5]

## د جبين پرخه

امام ترمذی، نسائی او ابن ماجه رحمهم الله عليهم په ګډه صحيح حديث نقل كړی:(الْمُؤْمِنُ يمُوتُ بِعَرَقِ الْجَبِينِ).

يانې: مؤمن د جبين (تندي) پر خولو سره مري.[1]

1- صحيح مسلم.
2- صحيح مسلم.
3- صحيح مسلم.
4- صحيح مسلم.
5- موت سے قبر تک، د اردو ژبې اثر.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**سلمان فارسي رضی الله عنه وايي: له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه مې واورېدل، ويل يې ((د ځنکدن په حالت کې د مړ کېدونکي انسان درېو نښو ته ګورئ: که پر جبين يې خوله راغلې وه او سترګو ته يې اوښکې راغلې وې او د پوزې سوري يې خلاص شوي وو، نو دا د الله تعالی له لوري رحمت دی (او که د ځوان زندۍ کړای شوي اوښ په څېر يې غږ وځي)، رنګ يې پيکه او الوتی و، له خولې نه يې ځګونه وځي، نو دا د الله تعالی له لوري عذاب دی، چې پر ده نازل شوی.))[2]**

**عالمان وايي:((پر تندي يې خولې د دې له امله راغلې وي، چې دی له خپل رب نه حياء کوي، چې چېرې يې د خپل رب له احکامو مخالفت نه وي کړی او دا خوله په تندي ځکه راځي، چې له تندي نه لاندې غړی خو مړه وي، ساه ترېنه وتلې وي او د ژوند او روح قوه يې يوازې د بدن په برنۍ برخې کې پاتې وي او حياء په سترګو کې وي**

1- مسند أحمد ط الرسالة (38/ 154).

2- التذکره فی احوال الموتی واموالآخرة، مخ:٢٤.



**او دا وخت هم د حياء وي، خو کافر بيا له دې ټولو ړوند وي.))**

**د همدې له امله اسلامي عالمان دا وايي:((د چا پر جبين چې خوله معلومېږي، دا سمه ده، چې دا د الله تعالی رحمت دی، خو دا يوازې له ولي او نېک انسان څخه نه وي؛ بلکې دا د دې له امله وي، چې دی سره له زېږي، کرامت او ډاليو له الله تعالی څخه حياء کوي.))**

**عبدالله بن مسعود رضی الله عنه وايي:((پر مؤمن چې د هغه له ګناهونو څخه کوم ګناهونه پاتې وي، هغه ترېنه د مرګ پرمهال لرې کېږي، د همدې له امله يې پر تندي خوله راځي.))**

**امام قرطبي رحمه الله ويلي:((کله کله په ځينو کسانو کې درې واړه نښې ښکارېږي، ځينو کې يوه نښه يا دوه نښې ښکاره شي او موږ د ځينو کسانو پر تنديو د خولو راتللو شاهد يو او د نښو ښکاره کېدو توپير په اعتبار د عملونو د خلکو سره وي.))**

**ابراهيم نخعی رحمه الله نه روايت دی، چې علقمه، اسود ته وصيت وکړ، ورته يې وويل: زما د مرګ پرمهال له ما سره**

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسه، ماته د کلمې ویلو تلقین وکړه، کله چې زما پر وچولي خوله وګورې، نو ماته زېری راکړه.[1]

ابن ابی شیبه رحمه الله له سفیان ثوري رحمه الله څخه روایت کړی، چې د اسلام د سپېڅلي دین عالمانو او زاهدانو به د مړي پر تندي خوله راتلل، د هغه د ښې خاتمې نښه ګڼله.[2]

## د غرغرې شېبې

الله تعالی د قرآن کریم په ډېرو ایاتونو کې خپل بنده ګان توبې کولو ته هڅولي او دوی یې پر دې پوه کړي، چې د دنیا او اخرت نېمکرغي په توبه کې ده، د الله تعالی امر او هڅونې ته په پام لازم ده، چې له مرګ او مرض وړاندې هر مؤمن له خپلو ګناهونو سره اړیکه وشلوي، پښېماني ښکاره کړي او په اخلاص سره الله تعالی ته توبه وباسي، د ځنکدن په شېبو کې توبه د اعتبار وړ نه ده.

الله تعالی د سورة النساء په یو ځای کې ګناهګارانو ته خبر ورکړی، چې د مرګ پرمهال توبه نه قبلېږي:

1 - شرح الصدور.

2 - شرح الصدور.



﴿وَلَيْسَتِ ٱلتَّوْبَةُ لِلَّذِينَ يَعْمَلُونَ ٱلسَّيِّئَاتِ حَتَّىٰٓ إِذَا حَضَرَ أَحَدَهُمُ ٱلْمَوْتُ قَالَ إِنِّى تُبْتُ ٱلْـَٔانَ وَلَا ٱلَّذِينَ يَمُوتُونَ وَهُمْ كُفَّارٌ أُوْلَـٰٓئِكَ أَعْتَدْنَا لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا﴿١٨﴾﴾

ژباړه:((خو د هغو خلکو لپاره توبه نشته، چې پرله پسې بد کارونه کوي، تر دې پورې چې کله له هغو نه د یو تن د مرګ نېټه رارسېږي؛ نو په هغه وخت کې وایي، چې اوس مې توبه وایستله او همدغه راز د هغو کسانو لپاره هم توبه نشته، چې د مرګ تر وخته پورې په کفر کې پاتې شي، د دغه ډول خلکو لپاره خو موږ دردناکه سزا تیاره کړې ده.))

د رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیث هم پر دې دلیل دی، چې د غرغرې په حالت کې توبه نه قبلېږي.

امام ترمذي رحمه الله په حسن سند سره حدیث نقل کړی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي:((الله تعالی د بنده توبه قبلوي، تر هغې چې د غرغرې حالت ته نه وي رسېدلی.))[1]

1- التذکره فی احوال الموتی واموالآخرة، مخ:۴۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیث ته په عقیده او پام ښايي په عادي شپېو کې له ګناه څخه سملاسي توبه وباسو، بیا ګناه ونه کړو او هم د توبې لړۍ د غرغرې تر شپېو ونه غځوو، ځکه هغه مهال توبه نه قبلېږي.

## سپینه ماڼۍ

حسن بصری رحمه الله ویلي:((کله چې د مؤمن روح واخیستل شي، اسمان ته پورته کړای شي او د مؤمنانو له روحونو سره یوځای شي، له ده څخه پوښتنه کوي، وايي: فلانکي څه وکړ؟

دی به ورته وايي: هغه تاسو ته نه دی راغلی؟

هغوی وايي: پر الله تعالی سوګند! نه راغلی او نه پر موږ تېر شوی.

بیا دوی وايي: هغه به دوزخ ته استول شوی وي... .))

وهب بن منبه رحمه الله ویلي:((یقیناً په اووم اسمان کې الله تعالی د روحونو د یوځای کېدلو لپاره یو لوی کور جوړ کړی، چې (البیضاء) یانې: سپینه ماڼۍ ورته ویل کېږي.

کله چې له دنیاوالو نه یو کس مړ شي او نورو روحونو سره یې لیدن وشي، هغوی ترې د دنیاوالو په اړه داسې پوښتنې



کوي، لکه غایب او مسافر انسان چې کله کور ته راشي او د خپلې کورنۍ د غړو، خپلو خپلوانو او دوستانو په اړه پوښتنې کوي.))[1]

## د الله تعالی دوسته سلام!

انس بن مالك رضی الله عنه د حدیث راوي دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي:((چې کله د مرګ پرښته د الله تعالی نېك بنده ته راشي، داسې سلام کوي: ای د الله تعالی دوسته! پر تا دې سلام وي، پاڅېږه او د خپل هغه کور نه ووځه (چې تا پکې د نفس غوښتنې قرباني کړې) او وران دې کړ، هغه کور ته لاړشه چې تا پر (عبادت) ودان کړی.))[2]

## الله تعالی مو پر مینه نازوي

د ژوندانه د شپېو پای ته رسېدل، له مرګ سره غاړه غړۍ کېدل، له بدن نه د روح جلا کېدل او د مؤمن روح د پېغلو پرښتو په ورا کې د (علیین) هسکې الهي ماڼۍ ته تلل، الله تعالی سره د وصال او ملاقات په خبر دي، هغوی چې د

1- التذکره فی احوال الموتی وامورالآخرة، مخ: ٥٧.

2- احوال برزخ، مخ:٣٤ (اردو).

(c) ketabton.com: The Digital Library



**عباداتو پرګاڼه ښکلي او پسوللي وي، د ایمان پر نوراني سورلۍ د لنډمهالې دنیا نه رخصت اخلي، د الله تعالی ملاقات ته لېواله وي او له دې سره مینه ساتي، چې د الله تعالی لور ته ورستانه شي.**

**الله تعالی یې هم ملاقات ته لېواله وي، امام بخاري رحمه الله د عباده بن صامت رضی الله عنه په روایت حدیث نقل کړی، رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل:((څوک چې د الله تعالی ملاقات خوښوي، الله تعالی د هغه ملاقات خوښوي او څوک چې د الله تعالی ملاقات نه خوښوي، الله تعالی د هغه ملاقات نه خوښوي.))[1]**

## روحونه چېرته ځي!؟

**د برزخي ژوند په هکله د اهل السنة د عالمانو دوه قوله دي:**

**لومړی: دا ژوند په جسد (بدن) او روح دواړو سره دی؛ مګر روح په جسد کې نشته، په دلیل کې دا ایت دی:**

1- صحیح البخاري.



**﴿ٱللَّهُ يَتَوَفَّى ٱلْأَنفُسَ حِينَ مَوْتِهَا وَٱلَّتِي لَمْ تَمُتْ فِي مَنَامِهَا فَيُمْسِكُ ٱلَّتِي قَضَىٰ عَلَيْهَا ٱلْمَوْتَ وَيُرْسِلُ ٱلْأُخْرَىٰ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ﴿٤٢﴾ سورة الزمر)**

**ژباړه:((هغه همدغه الله دی چې دمرګ په وخت کې ساګانې اخلي او څوك چې لاتر اوسه پورې نه دی مړه شوي، د هغه روح په خوب کې قبض کوي، بیا چې د هغه دمرګ فیصله پر چا نافذوي، هغه ساتي او د نورو ساګانې تر یو ټاکلي وخت پورې بېرته (جسدونو ته) لېږي. په دی کې غټې نښانې دي، د هغو کسانو لپاره چې غور او فکر کوونکي دي.))**

**دارنګه هغه حدیث د بخاري چې پر دوه کسانو باندې په قبرونو کې عذاب و، رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: (يُعَذَّبَانِ فِي قُبُورِهِمَا).**

**یانې: پر دوی د دوی په قبرونو کې عذاب دی او عذاب په داسې څیز کې نه دی، چې د هغې نه ځان بچ کول ګران دي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنگه بل حدیث کې راغلي دي، چې سورلۍ د رسول الله صلی الله علیه وسلم ودرېدله، رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل:(دا د دې له امله چې پر یهودیانو د دوی په قبرونو کې عذاب دی (او په قبر کې بدن وي، روح نه وي)).

دا پر دې دلالت کوي، چې بدن لپاره هم تنعیم یا تعذیب[1] شته او د روح لپاره په خپل مستقر (ارام ځای) کې تنعیم یا تعذیب دی.

دویم قول: دا دی چې برزخي ژوند یوازې د روح لپاره دی، مگر د روح لپاره یو مثالي جسد ورکړای شي، چې د هغې په واسطې سره تنعیم یا تعذیب ورکېدلای شي.

او د دې قول لپاره دلیل صحیح حدیث دی، چې امام مسلم رحمه الله ذکر کړی دی، چې د شهیدانو روحونه په ججورو د شنو مرغیو کې دي او سیل کوي، په جنت کې چې کوم ځای یې خوښه وي او ارام لپاره هغه پنجیرو ته راځي، چې د عرش نه لاندې ځړېدلي دي، الله تعالی د دوی طرف ته یو ځل ښکاره شو، چې تاسې څه غواړئ،

1- تنعیم د نعمتونو په مانا دی او تعذیب د کړاوونو په مانا کارېږي.



دوی وویل: ای ربه! موږ نور څه وغواړو، تا موږ ته هر څه راکړي دي، بیا دویم ځل الله تعالی دوی ته وویل: هر کله چې دوی پوه شول، ویې ویل: الله تعالی! غواړو چې موږ دنیا ته واپس کړه. (بل روایت کې دي) چې زموږ روحونه زموږ پخوانیو جسدونو (بدنونو) ته واپس کړه، چې قتال وکړو ستا په لار کې بیا شهیدان شو، ځکه ډېر ثوابونه د شهادت یې ولیدل.

الله تعالی ورته وویل: ما پرېکړه کړې ده، چې دوی (روحونه) دنیا ته بېرته نه شي تللی، دا حدیث دلالت کوي، چې د دوی ژوند برزخي او روحاني دی.

او د دوی بدنونه په نورو بدنونو سره بدل کړای شوي دي، یا یې د دوی روحونه په نورو جسدونو کې اچولي دي.

شیخ القرآن عبدالسلام وروسته لیکلي:

((زما رایه دا ده، چې اول قول غوره دی، چې له بدن سره هم د هغې مناسب معامله الله تعالی کولای شي او روحونو له یې هم نور اجساد (بدنونه) مثالیه ورکړي دي، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې لپاره چې په ټولو احاديثو عمل وکړای شي-والله اعلم.))[1]

## د روحونو ارام ځای

په برزخ کې روح جدا دی له بدنه، په دې اړه د مفسرینو ډېر اقوال دي، لومړی دا چې، روحونه د مؤمنانو په جنت کې دي او روحونه د کافرانو په اور کې دي.. دویم قول دا دی، چې روحونه د مؤمنانو په دروازه د جنت کې دي، د جنت راحت او نعمتونه ورته رسېږي.

درېيم دا، چې د قبرونو په خوا کې دي او د کعب رضی الله تعالی عنه نه نقل دی، چې روحونه د مؤمنانو په علیین[2] کې دي (په اوم اسمان کې) او روحونه د کافرانو په سجین[3] کې دي (په اومه ځمکه کې).

ابن حزم رحمه الله ویلي دي: مستقر (ارام ځای) د روحونو هغه دی، چې د پیدایښت له بدن نه مخکې کوم ځای کې و او ابن عبدالبر ویلي دي، چې روحونه د

[1]- احسن الکلام، ټوک:۷. فاروقي، محمد غني، الشهید، ۲۱مخ.

2- علیین له اسمانونو او ځمکې نه پورته دی، لاندې د عرش نه او پلنوالی یې د اسمانونو او ځمکې په څېر دی.

3- سجین له اوو ځمکو څخه لاندې د مشرکانو او کافرانو د روحونو دفتر دی.



شهیدانو په جنت کې دي او روحونه د عامو مؤمنانو د قبرونو په خوا کې دي.

شرح عقیدة الطحاویة کې لیکل شوي: خلاصه د دلیلونو دا ده، چې ځېنې په اعلی علیین کې دي، ځېنې په ملاء اعلی[1] کې دي او ځېنې په ججورو د شنو مرغیو کې دي گرځي په جنت کې، چې کوم ځای یې خوښه وي او ځېنې یې بند دي د جنت له دروازو سره...[2].

له دې نه معلومه شوه، چې مستقر د روح بدن نه دی، کله چې د شهید په اړه دا خبره یاده شوه، کله چې د هغه روح د شنې مرغۍ په ججوره کې دی، دارنگه د هر مؤمن په اړه په صحیح البخاري کې راغلي:(چې د هر مؤمن روح یو مارغه دی، چې د جنت په ونو کې گرځېږي.[3])

# درېیم څپرکی

## غسل

1 - ملاء اعلی (پاسنۍ نړۍ) د ملایکو مجلس ته وایي.

2 - شرح عقیدة الطحاویة ٤٥٤ مخ.

3- مؤطا امام مالک رحمه الله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مړي ته غسل ورکول فرض کفايي دي، په دې اړه د رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه حدیث فقهاوو په دلیل کې نیولی، چې یو کس له اوښ نه غورځېدلی و، بیا مړ شوی و، رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه مهال ویلي و: پر اوبو او د بېرو پر پاڼو یې ولمبوئ او دوه جامو کې کفن ورکړئ.

اسلامي فقهاء مړي ته د غسل و رکولو کې بېړي ته ژمن دي او دا سنت بولي په هغه صورت کې چې د مړي ثبوت یقیني شي، که چېرې د غسل نه مخکې څوک ښخ کړای شي، د هغه بېرته راویستل او غسل ورکول لازم دي، که چېرې د مړي د بدن څه برخه وموندل شي، غسل به ورکوي او د جنازې لمونځ به پرې کوي، ځکه صحابه کرامو اتحاد کړی دا د شوافعو او حنابله وو مسلک دی.

امام ابوحنیفه رحمه الله او امام مالك رحمه الله ویلي: که چېرې د مړي د بدن ډېره برخه وموندل شي، غسل به ورکوي او د جنازې لمونځ به پرې کوي او که لږه برخه یې موندل شوې وه بیا پرې د جنازې لمونځ نه کېږي او نه غسل ورکول کېږي، همدا راز اسلامي فقهاء و ایي که مړي ته د غسل پرمهال اوبه نه وي یا د غسل ورکولو



سره د بدن د غړو پرېوتلو وېره وه، تیمم د غسل پرځای ورکولای شي.

د غسل ورکوونکي ځانګړنې:په دې اړه اتفاقي نظر دا دی، چې سړی به سړي ته غسل ورکوي او ښځه به ښځې ته غسل ورکوي.

د امام ابوحنیفه رحمه الله د مسلك عالمان په دې نظر دي، چې سړي ته نه دي روا چې خپلې مړې مېرمنې ته غسل ورکړي او د هغې پر بدن دې لاسونه ولګوي، ځکه د دوی ترمنځ د نکاح اړیکه پرې شوې ده.

خو له دوی نه په صحیح قول کې دا ثابته ده، چې د خپلې مېرمنې بدن ته کتلای شي، همداراز د احنافو یو شمېر علماء په دې نظر دي، چې ښځه خپل خاوند ته غسل ورکولای شي؛ که څه هم چې د رجعي طلاق په عدت کې وي، د جمهورو علماوو نظر دا دی، چې د ښځې او خاوند دواړو څخه هر یو، یو بل ته غسل ورکولای شي.

د جمهورو فقهاوو دلایل:امام احمد بن حنبل او ابن ماجه رحمهم الله علیهم د عائشې رضی الله عنها په روایت حدیث نقل کړی. عائشه رضی الله عنها وایي، رسول الله صلی الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



عليه وسلم جنة البقيع ته د جنازې لپاره تللی و، کله چې د جنازې نه راستون شو، کور ته راغی، زما پر سر درد و او ویل به مې: وی پر سر مې درد دی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: هو! زما پر سر هم درد دی. بیا یې راته وویل: عائشې ته ولې خپه یې، که له مانه مخکې مړه شوې، غسل به درکړم، کفن به درکړم، د جنازې لمونځ به درباندې وکړم او ښخه به دې کړم.

عائشې رضی الله عنها به ویل: که زه د خپل کار په اړه له وړاندې خبره وای، چې د کوم په اړه چې وروسته خبره شوم، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته به له خپلو میرمنو پرته بل چا ته غسل ورکړی نه وای.(1)

دغه راز علي کرم الله وجهه فاطمة الزهرا رضی الله عنها ته غسل ورکړی و او ابوبکر صدیق رضی الله عنه خپلې میرمنې اسماء رضی الله عنها ته وصیت کړی و.

امام احمد بن حنبل رحمه الله ویلي: غسل ورکوونکي لپاره لاندې شرطونه لرل اړین دي:۱. اسلام. ۲. عقل. ۳. نیت.

1- رواه احمد، ابوداود، و ابن ماجه.



د احنافو عالمان بیا د پاکوالي صحت لپاره نیت لازم نه بولي؛ بلکې دا د مکلف انسان د غاړې نه د فرضو د ادا کېدلو لپاره شرط بولي.

اسلامي فقهاء د غسل ورکوونکي لپاره د غسل پر احکامو پوهه او امانتکاري مستحب بولي.

ابن عمر رضی الله عنه ویلي: ستاسې مړو ته دې غسل نه ورکوي، مگر هغوی چې امینان وي.

یانې: که د غسل ورکولو په وخت کې د مړي څه رازونه او عیبونه ویني، هغه امانت ساتي او نه یې رسوا کوي.

حدیث کې راځي: څوک چې مړي ته غسل ورکړي او د هغه څه عیبونه او نور څه رازونه پټ کړي، الله تعالی به ورته څلوېښت ځلې ښښنه وکړي.

که چېرې مړي ته د غسل ورکولو پرمهال د خیر څه نښې نښانې وگوري، لکه د مړي پر مخ رڼا، د هغه پر شونډو موسکا او داسې نور...(1) مستحب خبره دا ده، چې خلکو ته وویل شي، د دې لپاره چې نور خلک پرې ترحم وکړي، د

1- رواه الحاکم، صحیح.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د لارې پیروي او د هغه د ښایسته سیرت په څېر خپل سیرت هم برابر کړي.

امام ابوداود، ترمذی، حاکم او بیهقي رحمهم الله علیهم د ابن عمر رضی الله عنهما په روایت صحیح حدیث نقل کړی. رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي:((د خپلو مړو ښېګڼې یادوئ او له بدګڼو څخه یې ځان وساتئ.))

د دې لپاره چې د مړي بدن د عامو خلکو له لیدنې ساتل شوی وي، پکار دا ده، چې د غسل لپاره ځانګړی ځای برابر شي، په اطاق یا بل کوم پرده پوښ ځای کې وي، چې د باد او باران څخه بچ وي.

## غسل ورکوونکی دې بیا غسل وکړي

جمهور عالمان وایي: هغه کس لپاره غسل مستحب دی، چې مړي ته یې غسل ورکړی وي، ابوهریره رضی الله عنه د حدیث راوي دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي:((څوک چې مړي ته غسل ورکړي، بیا دې خپله هم غسل وکړي.))[1]

1- ابوداود، ابن ماجه.



بیهقي رحمه الله ویلي:((صحیح خبره دا ده، چې دا له ابوهریره رضی الله عنه څخه موقوف حدیث دی.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مړي تخت

کله چې د غسل ورکولو لپاره لازم توکي، یانې: ګرمې-یخې اوبه، د اوبو جوړولو لپاره لوښی، صابون او نور برابر شول.

سړی به د خلکو له نظر نه هاخوا په پرده کې پر تخته کېږدي، له خپلو خیالي او مینه ناکو جامو څخه به یې بربنډ کړي، په داسې طریقه چې پر عورت به یې ورته څه ټوټه خوره کړې وي.

بیا به یې شا لور ته په مایل ډول کېنوي، په داسې حال کې چې ښی لاس به یې د مړي پر اوږه ایښی وي او غټه ګوته یې د هغه د په نُقره (ژور ځای) کې ایښې وي.

پر ګېډه به یې لاس راکاږي، که چېرې په ګېډه کې یې څه وي، چې هغه ترې ووځي، د غسل ورکوونکي لاسونو ته به پلاستیکي دستکشې (دستانې) پرتې وي، د نامه نه پر لاندې برخه به یې ډېرې اوبه تېرې کړې، که څه وي، چې هغه له اوبو سره لرې شي، بیا به پر صابون او اوبو هغه برخه ښه صفا کړي، کله چې ښه ډاډمن شي، چې دواړه خواوې ښه پاکې شوې.

## د غسل د پیل اودس



د ټولو مذاهبو امامان پر دې متفق دي، چې غسل ورکوونکی به مړي ته اودس ورکوي. هو؛ داسې اودس څرنګه چې ژوندي انسان ته د غسل نه وړاندې پکار دی.

د احنافو او حنابله وو د مسلك فقهاء وایي: چې مړي ته د اودس ورکولو پرمهال خولې او پوزې ته د اوبو اچولو اړتیا نشته، ځکه کله چې اوبه ګېډې ته د خولې او پوزې له لارې ورسېږي، د ګېډې دننه پیلیتې ته حرکت ورکوي.

خو د الفقه الاسلامي وادلته لیکوال لیکي:((چې د اودس پرمهال به غسل ورکوونکی د مړي خولې ته ګوته ننباسي، مګر په بشپړ ډول به د مړي خوله نه خلاصوي؛ بلکې د مسواك په څېر به پر ګوتو د هغه غاښونه پاکوي، همداراز د نوکانو لاندې برخې به یې هم پاکوي. کله چې په درست ډول مړي ته د اودس له ورکولو وزګار شي، بیا به یې سر او ږیره ووینځي.[1]))

د یادونې وړ ده، چې د مړي سر دې په داسې طریقه لږ پورته کړای شي، چې د غوږونو په سوریو کې اوبه داخلې نه شي.

---

1- الفقه الاسلامي وادلته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځینې فقهاوو لیکلي:((غوره دا ده، چې غاښونه او پوزه یې په لمده ټوټه مسح کړي، تر دې چې دننه طرف یې پاک شي.[1]))

د یادونې وړ ده، چې غسل ورکوونکی مړي ته اودس ورکولو پرمهال د ژوندیو په څېر د سر مسح هم ورکولای شي.

د شهادت پر ګوته به د مړي د غوږونو په داخلي برخه او دواړو غټو ګوتو سره د غوږونو شا مسح کړي، د ګوتو خلال به ورته وکړي، په هر حال داسې اودس به ورکړي، چې اودس په اندامونو کې څه شی وچ پاتې نه شي.

بیا یې سر ووینځي، د سر وینځلو وروسته به یې ږیره ووینځي، بیا به یې پر کیڼ اړخ په ارام سره واړوي، پر ښي اړخ به یې اوبه واړوي، صابون به پرې ووهي، بیا به پرې اوبه واړوي او د اوږې نه تر قدم پورې به یې ښي اړخ ښه پاک کړي، بیا به یې پر ښي اړخ واړوي او پر کیڼ اړخ به یې اوبه واچوي، صابون به پرې ووهي او بیا به پرې اوبه واړوي. د دواړو اړخونو د اړولو را اړولو پر مهال به هڅه

1- صحيح فقه السنة وادلته، ټوک:۳، مخ:۵۵۱.



کوي، چې د مړي د بدن پر مخامخ او شا برخو کې کوم ځای وچ پاتې نه شي. که چېرې په غسل کې د بېرو د پاڼو اوبو کارول کېدلای شي، نو د لومړي غسل وروستي ځل کې به پرې خالصې اوبه واړوي.

لومړی ځل غسل واجب دی او تر درې څلورو پورې د سړي پر بدن اوبه تېرول مستحب عمل دی.

غسل دې وتر (طاق) وي، لکه حدیث کې چې راځي:((الله تعالی طاق دی او طاق خوښوي.))[1]

که د سړي بدن په درېو ځلو کې پاک نه شو، د اوو ځلو پورې غسل ورکولای شي، که په اووه ځلونو کې یې بدن پاک نه شو، غوره دا ده، چې تر هغې یې ووینځي، چې بدن یې پاک شي... .

بیا به یې پر یو نوي او پاک جان-پاک پاک او وچ کړي... د سجدې پر اندامونو به یې (کافور) ووهي، پر سر او او ږیرې به یې خوشبویي وشیندي.[2]

1- صحيح الترمذی.

2- الفقه الاسلامي و ادلته، ټوک:۲، مخ:۴۱۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زړه مــــې له غیرته په ګوګل دننه دود شي
## ږمنځ چې دې بې پامه و هې ګوتې په کاکل

اسلامي فقهاوو لیکلي: د مړي د سر او ږیرې د ویښتانو ږمنځول، خرېیل، همدارنګه د نوکانو اخیستل یې نشته، ځکه دا کار د زینت لپاره وي او مړی له زینت او سینګار څخه خلاص دی.

دا په ټوله کې د احنافو او مالکیانو مسلک دی او د احنافو په نېز کراهت یې هم کراهت تحریمي دی، که نوکان یا ویښتان یې پرې کړي وي، د هغه سره دې یې په کفن کې ونغاړي، او دا غوره رایه ده... په هر حال د مړي د سر، ږیرې، برېتونو، تخرګونو او د نامه نه لاندې ویښتانو اخیستل او همداراز د نوکونو اخیستل مکروه دي، د مړي د بدن ټولې برخې د درناوي وړ دي؛ خو د اصلاح او اخیستلو په اړه یې څه ثبوت نشته، دا یو نوی کار دی او په دین کې له ځانه جوړ شوی دی.



هر نوی کار بدعت دی او رسول الله صلی الله علیه وسلم په دین کې له ځانه د نویو کارونو د جوړولو او منځ ته راوړلو څخه منع کړې ده.

د حدیثو ستر امام احمد بن محمد بن حنبل رحمه الله نه په راجح (غوره) روایت کې نقل شوي، هغه ویلي:((چې د احرام په حالت کې مړ شوی وي، برېتونه یې لنډولای شي او هم یې نوکونه پرېکولای شي، که اوږده وي، همدارنګه د تخرګونو ویښتان به یې اخیستلای شي، ځکه دا نظافت دی، د غړي د پرې کولو پورې اړه نه لري او دا یې د خیرو د لرې کولو سره تشبېه کړې.))

د برېتو، نوکانو او تخرګونو نه چې څه واخیستلای شي، له مړي سره به یې په قبر کې ږدي، لکه څنګه چې د هغه پرېوتي غړي ورسره په قبر کې اېښودل کېږي.

امام احمد بن حنبل رحمه الله د ام عطیه رضی الله عنها حدیث نقل کړی. هغې ویلي:((د مړې ښځې سر دې ووینځل شي، کوم ویښتان چې د دوی په لاسونو کې وغورځېدل، هغه دې ووینځي او بېرته دې یې سر پورې کړي.))

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ويښتانو او نوکانو ښخول د ژوندي په حق کې مستحب دي، نو د مړي په حق کې خو تر ټولو زيات غوره او مناسب دي؛ ځکه د مړي د بدن هره برخه داسې ده، لکه د هغه د بدن غړي.[1]

## د قبر جوړه!؟

کفن د مسلمانانو په اجماع سره فرض کفايي دی او په دې برخه کې ډېر نصوص شته. ابن عباس رضی الله عنهما ويلي:((يو سړی د احرام په حال کې له خپلې اوښې وغورځېد، موږ هم له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره وو.

رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: پر اوبو او د بېرو پر پاڼو غسل ورکړئ، د احرام په جوړه کې کفن ورکړئ، خوشبويي پرې مه لګوئ او سر يې مه پټوئ، بې شکه الله تعالی به يې د قيامت په ورځ په داسې حال کې راپاځوي، چې تلبيه به وايي.[2]))

1- الفقه الاسلامي، وادلته، ټوک:۲، مخ:۴۱۳.

2- صحيح البخاري، صحيح مسلم.



د نارينه وو کفن: امام بخاري رحمه الله د عائشې رضی الله عنها په روايت صحيح حديث نقل کړی:((رسول الله صلی الله عليه وسلم ته په درېو سپينو، يمني سحُولي[1] جامو کې کفن ورکړل شوی و، چې له (کُرَسُف) پنبې (مالوچو) جوړې شوې وې، چې کميس او پګړۍ پکې نه وو.))

له دې او ځينو نورو حديثونو نه لاندې لارښوونې په پام کې نيول مستحب دي: ۱. کفن بايد سپين رنګ کې وي، تاييد په دې حديث کې کېږي:((سپين رنګې جامې واغوندئ، ځکه دا غوره جامې دي او خپلو مړو ته پکې کفنونه هم ورکړئ.))[2]

۲. سړي ته دې په درېو جامو کې کفن ورکړل شي. ۳. له مالوچو څخه بايد جوړ شوی وي.۴. کميس او پګړۍ به پکې نه وي.

که کميس او پګړۍ ورکړل شي، څه پروا نه لري، که څه هم چې پرېښودل يې غوره دي، ابن عمر رضی الله عنهما وايي:

1- سحول، د يمن د علاقې نوم دی.

2 - صحيح البخاري، صحيح مسلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



((کله چې عبدالله بن اُبی رضی الله عنه وفات شو، زوی يې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغی، ويې ويل: ای د الله تعالی رسوله! کميس مو راکړئ، چې پلار ته مې پکې کفن ورکړم او تاسې پرې د جنازې لمونځ وکړئ او بښنه هم ورته وغواړئ.

رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته کميس ورکړ... .))[1]

٥. چې يوه له جامو دې (ثوب حبيرة)يانې:نرمه او نقش داره وي.

٦. پر کفن دې خوشبويي لګوي. جابر رضی الله عنه د حديث راوي دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي:((کله چې پر مړي خوشبويي لګوئ، نو درې ځلې يې ولګوئ.))[2]

نارينه کفن: ١. کميس؛ له غاړې نه تر پښو پورې وي. ٢. پرتوګ؛ له سر نه تر پښو پورې وي. ٣. څادر؛ به له ټولو نه اوږد وي، دومره چې د سر نه تر پښو پورې طرفونو ته اوږد وي او پراخوالی بايد ولري، چې غوټې ورته واچول شي.

1- صحيح البخاري، صحيح مسلم.

2- مسند احمد. صحيح فقه السنة، ټوک:١، مخ:٥٥٩.



ښځينه کفن: ١. کميس. ٢. پرتوګ. ٣. پړونی. ٤. سينه بند. ٥. څادر.

نارينه ته د کفن ورکولو طريقه:نارينه مړي لپاره به لومړی (لفافه) لوی څادر وغوړوي، بيا به پرې دپاسه ازار (پرتوګ) وغوړوي، بيا به کميس وغوړوي. کميس به د (T) په شکل منځ کې قيچي کړي، او په داسې ډول به يې پر پرتوګ وغوړوي، چې د کميس يو طرف د مړي لاندې او بل طرف پرې دپاسه راشي، کميس به مړي ته ورواغوندي. بيا به پرې د کيڼ لوري نه د پرتوګ غاړه راواړوي، بيا به پرې له ښي لور نه د پرتوګ اړخ راتاو کړي.

دې لپاره چې د پرتوګ ښي طرف پرې دپاسه راشي، لکه څرنګه چې د ژوند پرمهال ښي طرف پر کيڼ لوري دپاسه راځي. درېيم قدم کې به پرې د لوی څادر د کيڼ لوري برخه راتاوه کړي، بيا به پرې ښۍ خوا راتاوه کړي او د پښو او سر لور يو ته به غوټې ورکړي.

ښځينه ته د کفن ورکولو طريقه: لومړی به لوی څادر وغوړوي، بيا به پرې پرتوګ وغوړوي، بيا به کميس ورواغوندي، ويښتان به يې دوه کمڅې کړي، پر سينه به

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې ورته ښي او کيڼ لور ته (د کميس له پاسه) راخواره کړي. بيا به ورته زړوکی ورپه سر د څادر لاندې کړي، بيا به پرې پرتوګ او څادر راتاو کړي او له دې وروسته به يې کفن د قدمونو دپاسه په ټوټو وتړي.

## د ښخولو حکم

اسلامي فقهاء پر دې متفق دي، چې د مړي ښخول فرض کفايي دي. ځکه د ځمکې پرمخ د مړي پرېښودل د هغه سپکاوی دی، همداراز خلکو ته يې له بدبويي نه زيان رسېږي. اصل په دې کې د الله تعالی دا قول:(أَلَمْ نَجْعَلِ ٱلْأَرْضَ كِفَاتاً﴿٢٥﴾أَحْيَآءً وَأَمْوَاتاً﴿٢٦﴾)

ژباړه:((ايا موږ ځمکه راغونډوونکې ساتونکې نه ده ګرځولې. د ژونديو لپاره هم او د مړو لپاره هم.))

د مړي ښخول په لويه هديره کې غوره دي، ځکه رسول الله صلی الله عليه وسلم به د مدينې مړي د بقيع په هديره کې ښخول... .



ځکه لويې هديرې ته ډېر خلک راځي او مړو ته ډېرې دعاګانې کوي، په کور کې د مړو ښخول جواز لري او حرام نه دی.

ځکه رسول الله صلی الله عليه وسلم د عائشې رضی الله عنها په کور کې ښخ شوی و.

د الفقه الاسلامي وادلته ليکوال ليکلي:((په کور کې د مړو ښخول که څه هم چې زيان شوی نيمګړی ماشوم وي، مکروه دی؟

ځکه کور کې د مړو ښخول يوازې د انبياء کرامو ځانګړنه ده.

همدا راز پکار دا ده، چې مړي په غوره هديره کې ښخ کړای شي او دا هغه چې نېکان او شهيدان پکې وي، د دې لپاره چې ده ته د هغوی برکتونه هم ورسېږي.))

امام بخاري رحمه الله او مسلم رحمه الله صحيح حديث نقل کړی. رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي:((کله چې موسی عليه السلام ته مرګ حاضر شو، الله تعالی نه يې سوال وکړ، چې د بيت المقدس سپېڅلې ځمکې ته يې د يو کاڼي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د گوزار او د هغې د غورځېدلو د ځای په اندازه نېږدې کړي.))

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي:((که چېرې تاسې هغه ځای کې وای، نو هوري به مو د کثیب احمر (سره ډېره کی) سره د موسی علیه السلام قبر لیدلای وی.))

عمر فاروق رضی الله عنه هم د عائشې رضی الله عنها نه اجازه غوښتې وه، چې د خپلو دوو یارانو رسول الله صلی الله علیه وسلم او ابوبکرالصدیق رضی الله عنه په څنگ کې د قبر لپاره ځای ورکړي.[1]

## مړي ښکلولی شئ؟

د تبرک، دوستانې او درناوي په نیت د مړي ښکلول روا دي، ځکه محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم عثمان بن مظعون رضی الله عنه ښکل کړی و.

همدا راز ابوبکرالصدیق رضی الله عنه گران قدره پیغمبر محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم ښکل کړی و.

د مړي مخ ته کتل روا دي، اسلامي عالمانو د نبوي نصوصو پر بنسټ د مړي مخ ته کتل روا بللي او له بلي لوري

1- الفقه الاسلامي وادلته، ټوک:۲، مخ:۴۵۸.



د مړي مخ ته په کتلو کې له دنیا سره د انسان اړیکې کمزورې کېږي، مرگ ته د تیاري نیولو خبر دی.

او اخرت لور ته د نېږدې کېدلو ژوندی وسیله ده.

جابر رضی الله عنه ویلي: کله چې زما پلار شهید شو، ما به یې له مخ نه څادر لرې کاوه، ورته به مې لیدل او ژړل به مې.[1]

## مړی مه ځنډوئ!

امام احمد رحمه الله ویلي: د مړي کرامت دا دی، چې ژر ژر یې د کفن او د فن چارې بشپړې شي.

کله چې طلحه بن براء رضی الله عنه ناروغ و، رسول الله صلی الله علیه وسلم یې پوښتنې ته ورغی، د هغه د لیدلو پرمهال یې داسې وویل: زه طلحه په داسې حال کې وینم چې د مرگ شېبې یې رانېږدې شوي، بیا ماته خبر راکړئ او په کفن او ښخولو کې یې بیړه وکړئ، ځکه مناسب نه ده، چې د مسلمان مړي جسد د هغه د کورنۍ غړو په منځ کې ډېر وځنډولی شي.

1- الفقه الاسلامي وَأَدِلتُهُ، ټوک:۲، مخ:۴۰۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې نور احاديث هم شته، چې د مړي د کفن-دفن او جنازې په اړه د بېړې لاربنوونه کوي.

امام احمد او ترمذي رحمهم الله عليهم هغه حديث نقل کړی، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم علي کرم الله وجهه ته ويلي و:((ای علي! درې کارونه دي، چې (وخت يې راشي) له خپل وخت نه يې مه وروسته کوئ، لمونځ چې کله يې وخت راشي، جنازه چې کله حاضره شي او بې واده هلك او جينۍ چې کله خپل سيال ومومي.[1]))

ابوهريره رضی الله عنه د حديث راوي دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي:(نفس المؤمن معلقة بدينه حتی يقضی عنه.) يانې: د مؤمن روح د هغه تر پور پورې نښتی وي، تر هغې چې د هغه له لوري ادا کړای شي.[2]

اسلامي عالمان وايي: دا په هغه وخت کې چې له مړي نه مال پاتې وي، ښايي پور يې ترېنه ادا کړي، مگر څوك چې دومره مال نه لري، چې پور پرې ادا کړي او په داسې حال کې مړ شي، چې د پور د ورکړې هوډ ولري، په دې

1- الفقه الاسلامي وادلته، ټوک:۲، مخ:۴۰۲.

2- احمد، ابن ماجه، الترمذی.



اړه احاديثو کې داسې څه شته، چې پر دې دلالت کوي، چې الله تعالی د ده پورونه ادا کوي.

د ابي امامه رضی الله عنه په روايت حديث کې راغلي: څوك چې پر داسې پور پوروړی وي، چې په زړه کې يې د پور ورکړه وي او مړ شي الله تعالی ترېنه تېرېږي.

او د هغه غريم (قرض خواه) چې په څه راضي کېږي، ورکوي يې.

او څوك چې پور واخلي او په زړه کې يې د هغې اداکول نه وي او په همدې حال کې مړ شي، الله تعالی ترېنه د پور خاوند لپاره بدله اخلي.[1]

حديث د ابن عمر رضی الله عنه کې راغلي: پور په دوه ډوله دی، څوك چې مړ شي او د پور د ورکړې نيت يې زړه کې و، نو زه د هغه (ولي) وارث يم او څوك چې په داسې حال کې مړ شي، چې د پور د ورکړې نيت نه لري، د ده له نېکيو څخه به نېکۍ اخيستل کېږي او د پور خاوند

1- رواه الطبراني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته به ورکول کېږي، په هغه ورځ به نه دنيار او نه درهم وي.[1]

## د قبر ځنګ کې ژړا

د رسول الله صلى الله عليه وسلم درېيم يار او د رسول الله صلى الله عليه وسلم د دوو ګرانو لورګانو (رقيه او ام کلثوم رضى الله عنهما) خاوند عثمان بن عفان رضى الله عنه به چې کله پر قبر (د قبر ځنګ کې) ودرېد، دومره به يې وژړل، چې ږيره مبارکه به يې لمده شوه.

چا ورته وويل:د جنت او دوزخ د ياد پرمهال نه ژاړې او له قبره ژاړې؟

عثمان بن عفان رضى الله عنه وويل: رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي:((قبر د اخرت له منزلونو څخه لومړی منزل دی، که له دې څخه څوک د ژغورنې ځولۍ ته وغورځېږي، نو وروستي منزلونه به يې اسانه وي او که له دې څخه څوک نجات ونه مومي، نو وروستي منزلونه يې له قبره هم سخت دي.))

1- الفقه الاسلامي وادلته، ټوک:۲، مخ:۴۰۳.



براء بن عاذب رضى الله عنه وايي: موږ له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره په يوه جنازه کې حاضر و، رسول الله صلى الله عليه وسلم د قبر پر غاړه کېناست، ويې ژړل او نور يې هم وژړل، تر دې چې پر اوښکو يې د قبر خاورې لمدې شوې.

بيا يې وويل: ای ورونو! د دې لپاره ځانونه تيار کړئ.[1]

معاذ رضى الله عنه له عائشې رضى الله عنها څخه پوښتنه وکړه: چې په قبر کې له مؤمن سره څه ډول سلوک کېږي؟

د مؤمنانو مور عائشې رضى الله عنها ورته په ځواب کې وويل: که مؤمن وي، قبر يې څلوېښت ګزه (لاسه) پراخه کېږي.

امام قرطبي رحمه الله وايي:((د قبر پراخوالی له سوال او ځواب څخه وروسته کېږي.[2]))

## د جنازې د لمانځه طريقه

1- رواه سنن ابن ماجه.

2- شرح الصدور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د نورو لمونځونو په څېر د جنازې لمانځه لپاره هم اودس ضروري عمل دی. قبلې لور ته مخامخ ودرېدل او صفونه برابرول ضروري خبره ده.**

**کوم الفاظ، چې د نیت لپاره خلکو کې دود دي، دا شرعاً ثابت نه دي، بلکې له ځانه جوړ شوي دي، نیت د زړه عمل دی، په زړه کې نیت کول بسنه کوي، په ژبه د نیت ویل په شریعت کې نشته.**

**لومړی به تکبیر تحریمه یانې الله اکبر ووایي، بیا به سورت الفاتحه (الحمدلله) ولولي.**

**ځکه چې طلحه بن عبیدالله رضی الله عنه وایي:((عبدالله بن عباس رضی الله عنهما د جنازې لمونځ وکړ، د جنازې په لمانځه کې یې سورت فاتحه په لوړ غږ سره ولوسته، بیا یې د لمانځه وروسته وویل: دا مې د دې لپاره په لوړ غږ وویله، چې تاسې پرې پوه شئ، چې دا سنت ده.[1]))**

**له دې حدیث څخه څرګندېږي، چې د جنازې په لمانځه کې قرائت په جهر (ښکاره) سره لوستل هم روا دي.**

1- صحیح البخاري.



**له سورت فاتحې سره به د قرآن کریم څه برخه هم لولي.[1]**

**بیا به الله اکبر وایي. له الله اکبر څخه وروسته به درود لولي:**

**(أللّهُمّ صَلّ عَلی مُحَمَّدٍ وَعَلَی اَلِ مُحَمَّدٍ کَمَا صَلَّیْتَ عَلَی اِبْرَاهِیْمَ وَعَلَی اَلِ اِبْرَاهِیْمَ اِنَّکَ حَمِیْدٌ مَّجِیْدٍ. أللّهُمَّ بَارِكْ عَلی مُحَمَّدٍ وَعَلَی اَلِ مُحَمَّدٍ کَمَا بَارَکْتَ عَلَی اِبْرَاهِیْمَ وَعَلَی اَلِ اِبْرَاهِیْمَ اِنَّکَ حَمِیْدٌ مَّجِیْدٍ.) له دې درود پرته که بل کوم مسنون او په احادیثو کې ثابت درود ورته یاد وي، د دې پرځای یې هم لوستلی شي.**

**بیا به درېیم ځل الله اکبر ووایي.**

**له تکبیر څخه وروسته به دغه مسنونې دعاګانې ولولي:**

**(أَللّهم إغفِر لِحَیِّنا وَمَیِّتِنا وَشَاهِدِنا وَغَآئِبِنَا وَصَغِیْرِنَا وکَبِیْرِنَا وذَکَرِنَا وَأُ نْثَانَا، أ للّهُمّ مَن أ حْیَیْتَه مِنا فأَ حْیِه عَلی الإِسْلام، ومَن تَوَفَیتَه مِنّا فَتَوفّه عَلی الإِ یمَانِ.[2])**

1- سنن نسائی.

2- رواه احمد (٥/ ٤١٢)، والنسائی (١٠٩٢٣)، والترمذی (١٠٢٤) وقال حدیث: حسن صحیح.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او بله:

(اللَّهُمَّ اغْفِرْ لَهُ وَارْحَمْهُ وَعَافِهِ وَاعْفُ عَنْهُ وَأَكْرِمْ نُزُلَهُ وَوَسِّعْ مُدْخَلَهُ وَاغْسِلْهُ بِالْمَاءِ وَالثَّلْجِ وَالْبَرَدِ وَنَقِّهِ مِنَ الْخَطَايَا كَمَا نَقَّيْتَ الثَّوْبَ الأَبْيَضَ مِنَ الدَّنَسِ وَأَبْدِلْهُ دَارًا خَيْرًا مِنْ دَارِهِ وَأَهْلاً خَيْرًا مِنْ أَهْلِهِ وَزَوْجًا خَيْرًا مِنْ زَوْجِهِ وَأَدْخِلْهُ الْجَنَّةَ وَأَعِذْهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ أَوْ مِنْ عَذَابِ النَّارِ.[1])

بيا به څلورم ځل الله اكبر ووايي.

او په دې الفاظو (اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ الله) به سلام وګرځوي.

له سلام وروسته به صفونه مات کړي، مړی به په شرعي طريقه قبر ته ورښکته کړي او قبر ته د ورښکته کولو يانې د مړي د سپارلو پرمهال به دا دعا:

(بِسْمِ اللَّهِ وَعَلَى سُنَّةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) ووايي.[2]

1. صحيح مسلم - (3 / 59)

2- سنن أبي داود (3/ 214).



د ماشوم په جنازه کې به له درېيم تکبير څخه وروسته دا دعا وايي:

(أَللهمَ اجعَلهُ لَنَا فَرطًا وَاجعَلَهُ لَنَا فَرطًا، أَللهُمَ اجعَلهُ لَنَا أَجراً وَذُخراً أ للهُم اجعَلهُ لَنَا شَافِعًا وَمُشَفَعًا)

يا دا دعا: (اللَّهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا فَرَطًا وَسَلَفًا وَأَجْرًا.[1])

يادونه: همدا دعا د ماشوم هلك او ماشومې جينۍ دواړو لپاره ويل کېدلای شي.

1- صحيح البخاري (2/ 89).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د جنازې لمونځ چېرې کېږي؟

پـه قبر د جنازې لمونځ اداکول روا دي.[1]

د اړتيا پـه وخت کې پـه جومات کې هم د جنازې لمونځ اداکېدلای شي. رسول الله صلی الله عليه وسلم پر سهيل بن بيضاء رضی الله عنه باندې پـه جومات کې د جنازې لمونځ ادا کړی و.[2]

د مړي د ښخولو وروسته د هغې پر قبر د جنازې لمونځ اداکول هم روا دي.[3]

رسول الله صلی الله عليه وسلم نه پـه کور کې هم د جنازې لمونځ اداکول ثابت دي.[4]

## د کومو کسانو د جنازې لمونځ کېږي او د کومو نه؟!

- د شهيد جنازه کول صحيح دي.[5]

---

1- صحيح البخاري، صحيح مسلم.

2- صحيح البخاري، صحيح مسلم.

3- صحيح مسلم.

4- مستدرک حاکم. موت سے قبر تک، مخ:۵۹-چاپ: لاهور.

5- صحيح البخاري. په دې اړه د تفصيلي بحث لپاره د (الشهيد) کتاب لوستلای شئ.



- پـه غايبانه ډول د جنازې لمونځ اداکول روا دي. رسول الله صلی الله عليه وسلم پـه غايبانه ډول د نجاشي د جنازې لمونځ ادا کړی و.[1]
- د الله تعالی پـه حدودو کې چې مړ شي، د جنازې لمونځ پرې اداکېدلی شي.[2]
- رسول الله صلی الله عليه وسلم د خيبر پـه ورځ پر هغه کس د جنازې لمونځ نه و اداکړی، چې د غنيمت پـه مال کې يې خيانت کړی و، بلکې خلکو ته يې وويل: پر خپل ملګري مو د جنازې لمونځ ادا کړئ.[3]
- رسول الله صلی الله عليه وسلم پر پوروړي د جنازې لمونځ نه و اداکړی؛ بلکې نورو خلکو ته يې وويل: پر ملګري مو د جنازي لمونځ اداکړئ.[4]
- رسول الله صلی الله عليه وسلم پر ځان وژونکي د جنازې لمونځ نه و ادا کړی.[5]

---

1- صحيح البخاري او صحيح مسلم.

2- صحيح مسلم.

3- سنن ابي داود.

4- صحيح البخاري او صحيح مسلم.

5- صحيح مسلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلامي عالمان وايي: پر ځان وژونکي دې حاکم يا ستر عالم د جنازې لمونځ نه اداکوي، عام خلک دې پرې لمونځ ادا کړي، چې خلکو ته ځرګنده شي، چې په غير شرعي ډول د ځان وژنه خومره ستر جرم دی او خلک ترې ځان وساتي.

- همدا راز د فاسق (نافرمان) کس سره هم داسې معامله ده.[1]

[1]- مسند احمد. موت سے قبر تکک، مخ: ۵۸.



## دوه ستر غرونه

امام بخاري رحمه الله او مسلم رحمه الله حديث نقل کړی. رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي:((څوک چې د جنازې سره لاړ شي، بيا د جنازې لمونځ وکړي، هغه لپاره يوه قيراط اجر دی او که تر ښخولو هلته ايسار شي، هغه لپاره دوه قيراطه اجر دی او قيراط د اُحد د غر په څېر دی.))[1]

او په يو حديث کې راغلي:((دوه قيراطه د دوو سترو غرونو په څېر دي.))

## پر قبر که د اور پر سکروټو ناسته؟

د اسلامي امت فقهاء پر دې متفق دي، چې د قبرونو درناوی د رسول الله صلی الله عليه وسلم په سنتو کې ثابته خبره ده، پر قبر ناسته، پښې ايښودل، دپاسه پرې خوب، هلته د تشو يا غټو بولو حاجت رفع کول او داسې نورې بدې او غير شرعي کړنې دي.

1- الفقه الاسلامي وادلته، ټوک:۲، مخ:۴۵۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي:((پر قبرونو مه کېنئ او هغه لور ته لمونځ مه کوئ!!!))[1]

همدغه ډول بل حدیث کې راغلي، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي:((دا چې سړی د اور پر سکروټو کېني، بیا یې اور د بدن پوستکي ته ورسېږي، ده لپاره دا غوره ده، چې پر قبر کېني.))

د امام ابوحنیفه رحمه الله د مسلك فقهاء کراهت، کراهت تحریمي ګڼي یانې پر قبر ناسته حرامه ده.[2]

1- رواه مسلم، عن ابي مرثد الغنوي.

2- الفقه الاسلامي وادلته، ټوک:۲، مخ:٤٦٤.



# څلورم څپرکی

## د قبر بنسټګر

په دې اړه بېلابېلې نظریې او رایې ورکول شوي، ځینې وایي: د قبر د کیندلو لومړی بنسټ کارغه ایښی دی؛ هغه مهال چې قابیل خپل ورور هابیل وواژه.

ځینې بیا وایي: بني اسرائلو یې بنسټ ایښی؛ خو دا خبره بې بنسټه ده.

ځینې لا دا هم وایي: چې قابیل ته د ښخولو طریقه او چل زده و، خو د سپکاوي له امله یې در په در په میدان کې وګرځاوه.

خو ډېری مفسرین په دې نظر دي، چې ده ته د ښخولو چل یاد نه و، قرآن کریم دې حقیقت ته د مائدې په سورة کې داسې اشاره کړې ده:

(فَبَعَثَ ٱللَّهُ غُرَابٗا يَبۡحَثُ فِي ٱلۡأَرۡضِ لِيُرِيَهُۥ كَيۡفَ يُوَٰرِي سَوۡءَةَ أَخِيهِۚ قَالَ يَٰوَيۡلَتَىٰٓ أَعَجَزۡتُ أَنۡ أَكُونَ مِثۡلَ هَٰذَا ٱلۡغُرَابِ فَأُوَٰرِيَ سَوۡءَةَ أَخِيۖ فَأَصۡبَحَ مِنَ ٱلنَّٰدِمِينَ ﴿٣١﴾ سورة المائدة)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه:((بیا الله یو کارغه ولېږه، چې د ځمکې په کیندلو یې لاس پورې کړ، چې هغه ته وښیي چې د خپل ورور جوسه څنګه پټه کړي. د دې کار په لیدلو هغه وویل: افسوس پر ما! ما د دې کارغه په څېر هم ونه شو کړای، چې د خپل ورور د جوسې د پټولو تدبیر مې کړی وای، له هغه وروسته یې په خپلو کړو ډېره پښېمانتیا وکړه.))

په تسهیل کې راغلي دي، چې:((دوه کارغانو جګړه وکړه، تر دې چې یو بل سره مړ کړ.))[1]

او قرطبي کې دي، چې:((بیا یې کنده وکیندله، ښخ یې کړ، پایله یې دا شوه، چې وښایي ده ته یانې: چې د ورور لاش په خاورو کې پټ کړي.))[2]

## د قبر ودانیز جوړښت

قبر باید ماهي پوش جوړ کړای شي، په شریعت کې د قبر د پخولو، سنګکاري کولو، چونه کولو او رنګولو اجازه نشته.

1- تسهیل، ټوک:۱، مخ:۱۰٤.

2- قرطبي، ټوک:٦، مخ:۱٤۱. (فتح الرحمن فی ترجمة القرآن وتفسیرالفرقان، محمد عبدالجبار باجوړی، مخ:۱۷۸).



امام مسلم رحمه الله د جابر رضی الله عنه په روایت حدیث نقل کړی، هغه وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم د قبر له چونه کولو پر هغې د کېناستلو او پر هغې د ابادۍ له جوړولو نه منع کړې ده.

همدارنګه امام ترمذی رحمه الله د جابر رضی الله عنه په روایت حدیث نقل کړی، دی وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم د قبر له چونه کولو، پر هغې د لیکلو او ابادۍ جوړولو او د هغې له پایمالولو منع کړې ده.[1]

امام قرطبي رحمه الله لیکلي:((امام مالك رحمه الله هم د قبر چونه او رنګول بد ګڼي، ځکه دا د دنیا د زینت او سینګار پورې اړه لري او قبر د اخرت کور دی، د دې په لوړولو، پخولو او رنګولو ویاړ نه دی پکار او نه دا د ویاړ ځای دی، د انسان شخصیت پر ښکلي او رنګین قبر سره نه ښایسته کېږي، اصل زینت په قبر کې د مړي لپاره د تقوا او عمل صالح زینت او سینګار دی.))

قبر پر ایمان او عمل صالح رڼا کېږي، پر قبر رنګینه غلافونه خورول، جنډې پرې درول، ډیوې او شمعې پرې

1- رواه مسلم، ابوداود، وترمذی. د حدیث سند صحیح دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلول، مالګه پرې کېښودل، قرآني اياتونه او شعرونه پرې ليکل د اسلامي شريعت او نبوي لارښوونو خلاف عمل دی، هلته د منجاورانو ناسته او د زيارت په نوم پيسې ټولول او دغه راز د قبر په خوا کې مېلې جوړول، د هغه پر نوم نذرونه منل او بيا هلته د ځارويو حلالول او پخول او داسې نور... دا ټول شرکي، کفري، ناروا او حرام عملونه دي.

ځينې ځايونو کې پر قبرونو جوماتونه جوړ شوي، ډېری خلك د قبر والا روح ته په احترام هلته لمونځونه کوي او داسې انګېري، چې د قبر په څنګ کې لمونځ کول ډېر ثواب لري، دا فاسده او غير شرعي عقيده ده.

رسول الله صلی الله عليه وسلم پر يهودو او نصاراوو د دې له امله د الله تعالی د لعنت يادونه کړې، چې د خپلو انبياوو له قبرونو يې جوماتونه جوړ کړي و، اوس مهال ليدل کېږي، چې ډېری زيارتونو ته نارينه او ښځينه د دې لپاره ورځي، چې هلته مېلې او خوښۍ ونمانځي، د دې خلکو ډېری برخه ښځينه جوړوي، که اسلامي او نبوي لارښوونې مطالعه کړای شي، نو الله تعالی او رسول الله صلی الله عليه



وسلم پر هغو ښځينه وو لعنت ويلی دی، چې ډېری زيارتونو ته ځي.

دې خلکو په حقيقت کې قبرونو ته د ورتللو عقيدوي بنسټ نړولی، ځکه هديرو، زيارتونو او قبرونو ته ورتلل، د دې لپاره نه دي چې هلته دې نارينه او ښځينه په ګډه اسلامي حجاب مات کړي، ناسم او ناروا دودونه دې ترسره کړي؛ محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم د دې لپاره قبرونو ته، د ورتګ امر کړی، چې په دې سره په دنياوي ژوند کې انسان پرهېزګاره کېږي او همدار راز مرګ او اخرت پرې يادېږي.

پر همدې بنسټ له ټولو مسلمانو ورونو او خورلنو څخه مې هيله دا ده، چې قبرونو ته د ورتللو پرمهال اسلامي عقيدوي او نبوي مقررات په پام کې ونيسي او په هديرو او زيارتونو کې له ناروا او دوديزو کړنو څخه په کلکه ډډه وکړي.

## د مسافرۍ کور

رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: د خوندونو ختموونکی يانې مرګ زيات يادوئ، ځکه پر قبر هېڅ داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځ نه تېرېږي؛ مګر هغه پکې اعلان کوي، وايي: زه د مسافرۍ کور یم، زه د یوازې والي کور یم، زه د خاورو کور یم او زه د چینجو کور یم.

کله چې مؤمن بنده په قبر کې کېښودل شي، قبر ورته وايي:((ستړی مه شې، ښه دې وکړ چې راغلې، د ځمکې پرمخ چې څومره خلك ګرځېدل، په هغه ټولو کې ته ماته ګران وې، کله چې نن ورځ ته ماته وسپارل شوې، نو وبه ګورې، چې زه له تا سره څنګه سلوك کوم.))

بیا به هغه لپاره قبر د هغه د نظر د لګېدلو په اندازه پراخه کړای شي او د جنت طرف ته به یوه دروازه پرانیستل شي او کله چې بدعمله او کافر بنده په قبر کې کېښودل شي، قبر ورته وايي:((بد دې وکړ، چې ته راغلې، د ځمکې پرمخ چې څومره کسان ګرځېدل، په هغو ټولو کې ته زما بد راتلې، کله چې نن ورځ ته ما ته وسپارل شوې، اوس به نو ووینې، چې زه له تا سره څه کوم؟!))

بیا به پرې قبر راتنګ کړای شي، تر دې چې یوه پوښتۍ به یې په بله پوښتۍ کې ننوځي.



د حدیث راوي ابوسعیدالخدري رضی الله عنه وايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپلو ګوتو په وسیله د قبر د بد سلوك تصویر انځور کړ، ځینې ګوتې یې په ځینو نورو کې ننویستې، موخه یې دا وه، چې د بدعمله او کافر انسان پوښتۍ داسې یو بل کې ننوځي.

بیا پر هغه نوي (۹۰) یا (۹۹) ښاماران مقرر کړای شي، که چېرې یو ښامار له هغوی څخه په ځمکه کې پوکی وکړي، تر قیامته پورې به له ځمکې څخه څه شین بوټی رازرغون نه شي، دغه ښاماران به دا بدعمله او کافر شخص د قیامت تر ورځې پورې چیچي.

بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم ویل: یقیناً قبر باغچه ده، د جنت له باغونو څخه یا یوه کنده ده، د اور له کندو څخه.[1]

---

1- د حدیث سند حسن، غریب دی او ځینې ضعیف بولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د قبر ژبه

**الله تعالی د نااشنا او بې نمونو قدرتونو لرونکی ذات دی، هغه ستر ذات پر هر څه زورور او واک لرونکی دی، څه چې وغواړي په هغه شېبه یې پیداکولای شي، د ځمکو، اسمانونو او د هغوی په غېږه کې د کایناتو پالونکی او تنظیموونکی ذات دی، پر دې هم قدرت لري، چې د کایناتو هر شیز ته د ونیا ژبه ورکړي او هغه پرې وغږېږي، د بېلګې په توګه قبر ته به هم د وینا او خبرو کولو وړتیا ورکوي.**

**عبدالله بن عبید بن عمیر وایي:**

**الله تعالی به قبر لپاره ژبه ورکړي، چې هغه به پرې خبرې کوي، وایي به"ای د ادم زویه! زه دې څنګه هېر کړی وم؟ ایا ته نه پوهېدې، چې زه د چینجیو کور یم، د یوازې والي او وحشت کور یم".))[1]**

## لحد

[1] - مائخذ، شرح الصدور.



**په اتفاق د فقهاء سره لحد له شق (صندوقي قبر) نه غوره دی، لحد چې د قبلې لور ته په قبر کې دومره ځای ژور کړي، چې مړی پکې ځای شي.**

**شق: چې ژوره کنده وباسي، لکه د نهر په څېر، یا یې دواړه اړخونه پر خښتو یا بل څه جوړ کړي او منځ کې یې داسې (شق) جوړ کړي، چې مړي پکې ایښودل کېږي او دپاسه پرې لرګي، تیږې، خښتې او نور د چت په څېر کېږدي، چت به د مړي له بدن نه لږ پورته وي، چې بدن سره یې ونه لګېږي.**

**د حنابله وو په نیز شق مکروه دی، دلیل کې یې دا حدیث راوړی.**

**رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي:((لحد زموږ لپاره دی او شق د نورو لپاره دی.[1]))**

**د احنافو، مالکیانو او شوافعو پرېکړه:**

**که ځمکه کلکه او وچه وه، لحد غوره دی؛ ځکه سعد بن ابی وقاص رضی الله عنه د مرګ پرمهال ویلي و:((زما لپاره لحد وباسئ او پر خښتو یې جوړ کړئ. لکه څرنګه چې د**

1- د حدیث سند ضعیف دی. الفقه الاسلامي وادلته، ټوک:۲، مخ:۴۵۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**رسول الله صلی الله علیه وسلم پر قبر خښتې درول شوې وې.))**

**او که ځمکه نرمه او ښوره وه، بیا (شق) ډېر غوره دی، چې قبر ژر ونه نړېږي.**

## قبر به څومره ژوروئ!؟

**رسول الله صلی الله علیه وسلم یو قبر کیندونکي ته ویلي وو:((د سر او پښو له پلوه یې ازاد جوړ کړه.))**

**رسول الله صلی الله علیه وسلم د اُحد د شهیدانو لپاره د قبرونو د کیندلو پروخت ویلي و:((قبرونه ورته وباسئ، ښه یې پراخه او ژور کړئ.))**

**اسلامي فقهاء وایي:((ژور قبر دا ګټه لري، چې د مړي له بدن څه داسې بدبوی نه حس کېږي، چې ژوندي ترې نه په کړاو شي او همدارنګه د مړي پر ویستلو هم په اسانۍ سره څوک نه بریالی کېږي او مړي ښه پټ وي.))**

**شوافع او حنابله وایي:((د قبر ژوروالی دې د یو معتدل او برابر انسان د قامت په اندازه وي، ځکه عمر فاروق رضی**



**الله عنه داسې وصیت کړی و او چا ترې انکار نه دی کړی او دا دواړه لاسه شرعي څلورنیم ګزه کېږي.))[1]**

**امام احمد رحمه الله ویلي:((قبر به د سړي د سینې برابر ژور وي او په دې کې سړی او ښځه یوشان دي.))**

**د احنافو په نېز:((قبر به د انسان د نیمایي قامت په اندازه ژوروي او یا به یې د سینې تر حد پورې ژور وي. او که د قامت له اندازې نه زیات شو، هغه ډېر ښه دی، غوره یې د نیمایي قامت په اندازه دی او (اعلی) ډېر لوړ او غوره یې د قامت په اندازه دی.))**

**((اوږدوالی به یې د مړي د قد د اوږدوالي په اندازه وي. او عرض (پلنوالی) به یې د طول (اوږدوالي) په نیمایي وي.))[2]**

## د مړو قبله

**ټول اسلامي فقهاء پر دې متفق دي، چې په قبر کې به د مړي ښکلی او نازک رخسار قبلې لور ته اړوي او مخ به یې د قبر دېوال ته لګوي، شاته دې یې خښته یا بل کوم څیز په**

---

1- الفقه الاسلامي وادلته، ټوک:۲، مخ:۴۵۹.

2- الفقه الاسلامي وادلته، ټوک:۲، مخ:۴۵۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې طريقه کېدي، چې ببرته د قبلې لور نه راوانه وړي او ستونې ساخت نه شي، ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم ويلي:((دا ستاسې د ژونديو او مړو قبله ده.))

او دا د مسلمانانو طريقه هم ده، رسول الله صلی الله علیه وسلم هم داسې ښخ کړای شوی و.

لحد ته دې هغه کس مړی ښکته کړي، چې ډېر ورته نېږدې وي او لحد کې د ايښودلو وروسته دې ووايي:(بِسْمِ اللَّهِ وَعَلَى سُنَّةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.)

صوفي او د حقيقت ترجمان شاعر د خپل جنس ملګرو ته په خطاب کې ويلي دي:

د رحمان وينا به هله درپـــه يـــــــاد شــــــي
چې دې يو ديوال ته مخ بل ته دې شا شي

## تابوت

په تابوت کې د مړي ښخول اصلاً د نصاراوو طريقه ده، هغوی به خپل مړي تابوتونو کې ښخول.

دا مهال د عذر له امله کارول کېږي، څنګه چې د فقهاوو له وينا معلومېږي.



د احنافو عالمان وايي: که اړتيا وه، لکه د ځمکې ښوره والی، چې قبر پکې سم نه راځي، يا ځمکه نمجنه وي، يا مړی د سمندر په اوبو کې خراب شوی وي، سنت طريقه دا ده، چې تابوت کې خاوره واچول شي.

د امام مالك رحمه الله د مسلك عالمان وايي: غوره دا ده، چې مړی تابوت سره ښخ نه شي.

د امام احمد بن حنبل رحمه الله عنه د مسلك فقهاوو ليکلي:((په تابوت کې د مړي ښخول ښه عمل نه دی، ځکه دا نه له رسول الله صلی الله علیه وسلم او نه له صحابه کرامو رضی الله عنهم نه نقل دی... .))

په دې مسئله کې همدا غوره خبره ده، (زه همدې ته ژمن يم.)[1]

## درې لپې خاوره

حاضرينو ته سنت دي، چې لحد کې د مړي د ايښودلو او ورته د تيږو برابرولو وروسته د سر له لوري درې لپې خاورې په قبر واچوي، دا به پر قبر د خاورو له اړولو وړاندې کوي.

1- الفقه الاسلامي وادلته، ټوک:۲، مخ:٤٧٤.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ابي هريره رضی الله عنه د حديث راوي دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم پر يو کس د جنازې لمونځ وکړ. بيا يې قبر ته ورغی او د سر له لوري يې پر هغه د هغه قبر ته درې لپې خاورې ورواچولې.(1)**

**عامر بن ربيعه د حديث راوي دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم پر جليل القدر صحابي عثمان بن مظعون رضی الله عنه د جنازې لمونځ ادا کړ، څلور تکبيرونه يې وويل: بيا يې وروسته قبر ته ورغی د قبر سرته يې ودرېد او درې لپې خاورې يې قبر ته ورواچولې.(2)**

1- ابن ماجه.

2- دارهطني.



# څلور پوړيزه قبرونه

**دا مهال د مسلمانانو په هديرو کې ليدل کېږي، چې قبرونه د شرعي طريقې خلاف جوړېږي، د قبرونو لوړوالی يوه هغه ناوړه پديده ده، چې د وياړ په توګه ترسره کېږي، څوک يو منزل، څوک دوه، څوک درې او ځينې يې بيا څلور پوړيزه جوړوي، چې دا ډول اوچت قبرونه په ښکاره د شريعت او نبوي سنتو خلاف دي.**

**اسلامي فقهاوو ليکلي:**

**((قبر د يو لوېشت په اندازه پورته کولای شي، يوازې دومره چې خلک پوه شي، چې دا قبر دی. د رسول الله صلی الله عليه وسلم قبر هم له ځمکې څخه يوه لوېشت اوچت و.))**

**قاسم بن محمد ويلي:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ام المؤمنین عائشې رضی الله عنها ته وویل:ای مورې! د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هغه د جوړه یارانو قبرونه راته ښکاره کړه، چې ویې ګورم.

ام المؤمنین عائشې رضی الله عنها راته درې واړه قبرونه ښکاره کړل، نو ما ولیدل نه اوچت و او نه ډېر ټیټ و او د مدینې واړه سره کاڼي پرې شیندل شوي وو.[1]

1- سنن أبي داود (3/ 215)، نیل الاوطار، ټوک:٤، مخ:٨٢.



## د خپلوانو هدیره

دوکتور وهبة الزحیلي لیکلي:

((دا مستحب دي، چې ټول خپلوان په یو ځای کې ښخ کړای شي؛ ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم د عثمان بن مظعون رضی الله عنه د قبر سرته نېږدې یوه تیږه کېښوده او ویې ویل: دا مې د دې لپاره کېښوده، چې زه پرې د خپل ورور قبر وپېژنم او د ده د کورنۍ غړي هم بیا د ده د قبر په ګاونډ کې ښخ کړای شي.))

که شونې وي او د خپلو خپلوانو هدیره جلا جوړه کړای شي، قبرونو ته ورتګ او ټولو ته په یوځای دعاکولو لپاره اسانه ده.

## د قبر شپه او تش پالنګونه

غوره دا ده، چې مړی د ورځې له مخې ښخ کړای شي او په هغو درېو وختونو کې نه وي، چې نفل پکې مکروه دي، لکه: د لمر ختلو، لمر برابرېدلو او لمر پرېوتلو وختونو کې.

که څه هم چې شپه کې د مړي خاورو ته سپارل، ښخول هم له کراهت پرته روا دي، دا د احنافو، حنابله وو او شوافعو غوره دریځ هم دی... .

د شپې د مړي د ښخولو د جواز دلیل: رسول الله صلی الله علیه وسلم هم په شپه کې ښخ کړای شوی و، امام احمد بن حنبل رحمه الله د عائشې رضی الله عنها نه نقل کړی.

ابوبکرالصدیق رضی الله عنه هم شپه کې ښخ کړای شوی و... .

صحابه کرامو هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ژوند پرمهال یو مړی شپه کې ښخ کړی و.

ابوداود د جابر رضی الله عنه نه نقل کړی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم هم یو مړی د شپې ښخ کړی و.[1]

د یادونې وړ ده، چې د افغانستان د جهاد په زرین دور کې ډېر زلمیان سپېڅلي شهیدان د شپې په تروږمیو کې د قبر غېږې ته سپارل شوي.

د مولانا بجلي گر له خولې مې اورېدلي:

ځمکې قلنگ دې زورور دی

1- الفقه الاسلامي وادلته، ټوک:۲، مخ:۴۷۱.



ځوانان خوندي کړې رالېږې تش پالنگونه

## د علیین مانۍ او د سجیین زندان!

امام احمد بن حنبل رحمه الله د براء بن عازب رضی الله عنه په روایت حدیث نقل کړی، وایي: موږ له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د یو انصاري جنازې ته لاړو، کله چې هدیرې ته ورسېدو، د قبر لحد لا تیار شوی نه و، رسول الله صلی الله علیه وسلم کېناست موږ هم له هغه چاپېره داسې غلي ناست وو، گوا چې پر سرونو مو مرغان ناست دي.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم په لاس کې یو لرگی و، چې ځمکه یې پرې گروله، بیا یې سر اوچت کړ او ویې ویل: ((اسْتَعِيذُوا بِاللَّهِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ.)) یانې: پناه غواړئ په الله تعالی سره د قبر له عذاب نه.

دا یې دوه یا درې ځلې وویل، بیا یې وویل: د مؤمن بنده چې کله له دنیا سره اړیکه پرې کېږي او اخرت ته یې مخه کېږي، له اسمان څخه ورته داسې سپین مخې پرښتې راشي، چې مخونه به یې د لمر په څېر روښانه ځلېږي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی سره جنتي کفن او جنتي خوشبويي هم وي، تر دې چې د سترګو نظر په اندازه لرې (له مؤمن بنده څخه) وړاندې کېني، بيا ملك الموت يانې د مرګ پرښته يې څنګ ته راشي او سرته نېږدې يې کېني، بيا ورته وايي: اى پاکه روحه! د الله تعالى د بښنې او رضامندۍ لور ته راوځه.

رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: روح يې داسې په اسانۍ سره له بدنه راووځي، لکه د اوبو څاڅکی چې د مشك له خولې نه راوځي، د مرګ پرښته يې چې کله روح واخلي، د سترګو د رپ په اندازه هم د ده په لاس کې نه پاتې کېږي، تر دې چې د پرښتو هغه بله ډله يې له دې واخلي، بيا يې د جنت په کفن کې ونغاړي او پر جنتي خوشبويي يې خوشبويه کړي او د مشکو په څېر داسې خوشبويه وږمې ترې پورته کېږي، چې د ځمکې ټول مخ يې نيولی وي.

بيا د ده روح مخ پورته وړي، د ده روح چې د پرښتو په هره ډله ورتېروي، هغوی وايي: دا ښکلی روح د چا دی؟

دوی ورته وايي: دا د فلانکي د فلانکي د زوی روح دی، چې په دنيا کې به خلکو په ښايسته نومونو نوماوه، تر دې



چې د دنيا اسمان ته يې ورسوي، پرښتې به د ده د روح لپاره د اسمان د دروازې د خلاصولو غوښتنه وکړي، دروازه به ورته پرانيستل شي.

د هر اسمان پرښتې يې تر هغې بل نېږدې اسمانه پورې د درناوي په توګه بدرګه کوي، تر دې چې اووم اسمان ته يې ورسوي، بيا به الله تعالى ووايي:(اكْتُبُوا كِتَابَ عَبْدِي فِي عِلِّيِّينَ، وَأَعِيدُوهُ إِلَى الْأَرْضِ، فَإِنِّي مِنْهَا خَلَقْتُهُمْ، وَفِيهَا أُعِيدُهُمْ، وَمِنْهَا أُخْرِجُهُمْ تَارَةً أُخْرَى)

يانې:زما د بنده عملنامه په عليين کې وليکئ او بېرته يې ځمکې ته واپس کړئ؛ ځکه دوی ما له همدې ځمکې څخه پيداکړي، همدې ته به يې بېرته راګرځوم او له همدې څخه به يې بيا راوباسم.

رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: بيا به يې روح بدن ته وروګرځول شي، دوه پرښتې به ورته راشي، دی به قبر کې راکېنوي، دواړه به ورته وايي: (مَنْ رَبُّكَ؟) يانې: رب دې څوک دی؟

دی به وايي: (رَبِّيَ اللَّهُ) رب مې الله تعالى دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بیا به ورته ووېل: (مَا دِينُكَ؟) دین دې څه دی؟**

**دی به ووايي: (دِينِيَ الْإِسْلَامُ) دین مې اسلام دی.**

**بیا به وپوښتل شي: دا سړی څوک دی، چې په تاسې کې استول شوی و؟**

**دی به ووايي: (هُوَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) دا رسول الله صلی الله علیه وسلم دی.**

**پرښتې به ترې پوښتنه وکړي: (وَمَا عِلْمُكَ؟) څنګه پوه شوې؟**

**دی به ووايي: د الله تعالی کتاب مې ولوست، ایمان مې پرې راوړ او د هغه رښتینولي مې ومنله!**

**د اسمان له لوري به یو غږ کوونکی اواز وکړي: (أَنْ صَدَقَ عَبْدِي، فَأَفْرِشُوهُ مِنَ الْجَنَّةِ، وَأَلْبِسُوهُ مِنَ الْجَنَّةِ، وَافْتَحُوا لَهُ بَابًا إِلَى الْجَنَّةِ) یانې:زما بنده رښتیا ووېل، جنتي فرش ورته وغوړوئ، جنتي جامې وروااغوندئ او د جنت لور ته ورته یوه دروازه پرانېزئ.**

**رسول الله صلی الله علیه وسلم ووېل: بیا به د جنت هواګانې او خوشبویي ورته راځي او د سترګو د نظر په**



**اندازه به یې ورته قبر پراخه کړای شي، یو داسې کس به ورته راشي، چې د ښکلي مخ خاوند به وي، ښایسته جامې به یې پرتن وي، ښکلې خوشبویي به ترې اوچتېږي.**

**وبه وايي: پر هغه څه زېری درکوم، چې نن به تا خوشاله کړي؛ دا هغه ورځ ده، چې له تا سره یې وعده شوې ده.**

**دی به ورته ووايي: ته څوک یې؟ ستا له مخه خو خیر معلومېږي، د خیر مخ دی.**

**هغه خوش رنګه کس به ووايې:(أَنَا عَمَلُكَ الصَّالِحُ) زه ستا نېک عمل یم.**

**دی به ووايي: ای ربه! قیامت راوله، ای ربه! قیامت راوله، تر هغې چې خپلې کورنۍ، مال، اهل و عیال ته لاړ شم.**

**بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم ووېل: د کافر بنده چې کله له دنیا سره اړیکه پرې کېږي او اخرت لور ته یې مخه کېږي، د اسمان له لوري د پرښتو یو ډله راشي، چې تور مخونه به لري، له هغوی سره به یوه بدرنګه کمپله وي.**

**له ده نه د سترګو د نظر په اندازه لرې به کېني، بیا به ملك الموت راشي، تر دې چې سرته نېږدې یې کېني.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته وايي به: اى خبيثه (پليته) روحه د الله تعالى د غضب او ناخوښۍ لور ته راوځه.

د هغه روح به په بدن کې خور شي او پرښتې د هغه روح په دومره سختۍ سره راوباسي، لکه اغزي لرونکی سيخ، چې له لمدو وړيو څخه وويستل شي.

کله يې چې روح واخلي، د سترګو د رپ په اندازه يې هم د ده په لاس کې نه پرېږدي، تر دې چې په ممسوح (کمپل) کې يې ونغاړي او له هغه څخه د مردارې په څېر دومره سخته بدبويي خوره شي، څومره چې د ځمکې پرمخ موندلای شي.

بيا يې مخ په بره وړي، د پرښتو پر هر ډله چې ورتېرېږي، پرښتې به وايي: دا پليت روح د چا دی؟

دوی به ورته ووايي: دا فلانکی د فلانکي زوی دی، چې په دنيا کې به پر بدو نومونو يادېده.

تر دې چې د دنيا اسمان ته به يې ورسوي، د دروازې د خلاصولو غوښتنه به وکړای شي، خو د اسمان دروازه به دغه روح ته خلاصه نه شي.

بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم دا ايت:



(لاَ تُفَتَّحُ لَهُمْ أَبْوَابُ ٱلسَّمَآءِ وَلاَ يَدْخُلُونَ ٱلْجَنَّةَ حَتَّىٰ يَلِجَ ٱلْجَمَلُ فِي سَمِّ ٱلْخِيَاطِ) ولوست.[1]

ژباړه:((د هغو لپاره به د اسمان دروازې هېڅکله خلاصې نه شي، جنت ته د هغو تګ دومره ناممکن دی، لکه د ستنې له سپم (سوم) څخه د اوښ تېرېدل.))

بيا به الله تعالى ووايي:(اكْتُبُوا كِتَابَهُ فِي سِجِّينٍ فِي الأَرْضِ السُّفْلَى، فَتُطْرَحُ رُوحُهُ طَرْحًا) يانې: زما د بنده عملنامه د ځمکې تر ټولو لاندينۍ برخې (سجيين) کې وليکئ، بيا به يې روح په ځمکه کې راوويشتل شي... .

بيا يې دا ايت:(وَمَن يُشْرِكْ بِٱللَّهِ فَكَأَنَّمَا خَرَّ مِنَ ٱلسَّمَآءِ فَتَخْطَفُهُ ٱلطَّيْرُ أَوْ تَهْوِي بِهِ ٱلرِّيحُ فِي مَكَانٍ سَحِيقٍ) ولوست.[2]

ژباړه:((او څوك چې له الله تعالى سره شريك ونيسي، نو داسې وګڼه، چې هغه له اسمانه راوغورځېده، اوس به يا هغه الوتونکی په الوزولو وتښتوي يا به يې باد داسې ژور

1- سورة الاعراف، ايت:٤٠.

2 سورة الحج، ايت:٣١.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای ته یوسي، وبه یې غورځوي چې هلته هغه ذرې ذرې لاړ شي.))

بیا به یې روح بدن ته واپس کړای شي، دوه پرښتې به ورته راشي، په قبر کې به یې راکښنوي، دواړه به ورته ووایي: (مَنْ رَبُّكَ؟) یانې: رب دې څوک دی؟

دی به ورته ووایي:(هَاهْ هَاهْ لَا أَدْرِي)یانې: هاه...هاه... زه نه پوهېږم.

دواړه به ورته ووایي:(مَا دِينُكَ؟) یانې: دین دې څه دی؟.

دی به ورته ووایي:(هَاهْ هَاهْ لَا أَدْرِي)یانې:هاه...هاه... زه نه پوهېږم.

بیا به ورته ووایي:دا کس (محمد صلی الله علیه وسلم) څوک دی، چې په تاسې کې لیږل شوی دی؟

دی به ورته ووایي:(هَاهْ هَاهْ لَا أَدْرِي)یانې: هاه...هاه... زه نه پوهېږم.

یو اواز کوونکی به له اسمان نه اواز وکړي:(أَنْ كَذَبَ، فَافْرِشُوا لَهُ مِنَ النَّارِ، وَافْتَحُوا لَهُ بَابًا إِلَى النَّارِ، فَيَأْتِيهِ



مِنْ حَرِّهَا، وَسَمُومِهَا، وَيُضَيَّقُ عَلَيْهِ قَبْرُهُ حَتَّى تَخْتَلِفَ فِيهِ أَضْلَاعُهُ، وَيَأْتِيهِ رَجُلٌ قَبِيحُ الْوَجْهِ، قَبِيحُ الثِّيَابِ، مُنْتِنُ الرِّيحِ).

یانې: دروغ یې وویل، د اور فرش ورته وغوړوئ او دوزخ لور ته ورته دروازه خلاصه کړئ، چې له هغې څخه به ورته د دوزخ تاو او ګرمي راځي، قبر به پرې راتنګ کړای شي، تر دې چې یوه پوښتۍ به یې په بلې هغې کې ننوځي، بیا به ورته یو بدرنګ او د بدرنګو جامو والا بدبویه سړی راشي، وبه وایي: پر هغه بد خبر زېری درکوم، چې تا به ډېر خپه کړي، دا ستا لپاره هغه ورځ ده، چې له تا سره یې وعده کېدلای شوه.

قبر والا به ورته ووایي: ته څوک یې؟ ستا مخ خو په شر او بدۍ راتلل کوي.

هغه بدرنګه او بدبویه سړی به ورته ووایي:(أَنَا عَمَلُكَ الْخَبِيثُ) یانې: زه ستا ناوړه او بد عمل یم.

دی به ووایي: ای الله تعالی قیامت مه راوله.[1]

1- تفسیر ابن کثیر، ټوک:۳، مخونه:٦٧٤-٦٧٥، چاپ: بیروت. مسند أحمد مخرجا (30/ 499).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ازموينې پاڼه

امام قرطبي رحمه الله وايي:

((چې له ځينو احاديثو څخه څرګندېږي، چې د قبر پوښتنې به درې درې ځلې کېږي، مګر نور روايات په دې کې چوپ دي، مګر د شمېر لحاظ پکې ساتل شوی، په دې مانا، چې د خلکو پر بنسټ به د پوښتنو په شمېر کې توپير وي.

ځکه طاؤس رحمه الله ويلي: مړی تر اوو ورځو پورې ازموينه کې وي.))[1]

امام قرطبي رحمه الله دا خبره هم ياده کړې، چې پوښتنې به په د توحيد، رسالت، دين يانې د عقايدو مضمون کې وي.

اسلامي عالمانو ليکلي: چې امتحان اخيستونکې پرښتې به د ډېری رواياتو په تاييد دوه تنه وي، چې يو يې په نکير او بل يې په منکر نومول شوی، دا ځکه چې شکل يانې بڼه به يې په بشپړ ډول د نورو مخلوقاتو په څېر نه وي، جلا شکلونه به لري، منکر او نکير په دې مانا، چې قبر والاوو ته

1- تفسير قرطبي.



به ډېر نااشنا وي، د احاديثو پر بنسټ د مؤمن لپاره به د ازموينې ډګر ډېر سخت نه وي او له نااشنا ازموينه اخيستونکي نه به هم نه ډارېږي، خو بدعمله او منافق به يې په ليدلو خپل حواس له لاسه ورکوي.

علامه ابن حجر رحمه الله ويلي: مړی به په قبر کې کېنوي او بيا به ترې د عقايدو مضمون کې پوښتنې پيلوي.

دی زياتوي، چې د ازموينې پرمهال به مړي ته هماغه خپل روح راګرځي، مګر داسې څرګندېږي، چې روح د بدن برنۍ برخې ته راځي.

نومورې عالم دا خبره هم روښانه کړې، چې دا خبره ناسمه ده، چې په قبر کې مړي ته محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم خپله راځي.

او هغوی چې حديث کې د (هذالرجل) کلمو نه استدلال کوي، استدلال يې ناسم دی.

دا د عالم برزخ د ځانګړې نړۍ پورې اړه لري، چې ازموينه اخيستونکي پرښتې به د الله تعالی د حکم مطابق له مړي څخه د محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم په اړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



انځوریزه پوښتنه کوي او که څنګه پر دې الله تعالی ښه پوهېږي.

علامه ابن حجر رحمه الله دا هم ویلي:((په قبر کې به له ماشومانو نه پوښتنې نه کېږي، ځکه چې پوښتنې له مکلف انسان څخه کېږي او کوچنیان مکلف نه دي.))

## د ازموینې ژبه

علامه ابن حجر رحمه الله ویلي، چې د حدیث له ظاهر نه معلومېږي، چې په قبر کې به د سوال او ځواب ژبه عربي وي، پوښتنې او ځوابونه به دواړه په عربي ژبه وي.

دا هم شونې ده، چې له هر چا څخه به د هغوی په ژبه پوښتنې وشي (الله تعالی ښه پوهېږي).



# پینځم څپرکی

## په قبر کې روح بدن ته څنګه راځي!؟

علامه عبدالسلام د سورة الزمر د ٤٢ ایت په تفسیر کې په دې اړه د نورو مفسرینو او محدثینو په حواله لیکلي:

(ٱللَّهُ يَتَوَفَّى ٱلۡأَنفُسَ حِينَ مَوۡتِـهَا وَٱلَّتِي لَمۡ تَمُتۡ فِي مَنَامِـهَا فَيُمۡسِكُ ٱلَّتِي قَضَىٰ عَلَيۡهَا ٱلۡمَوۡتَ وَيُرۡسِلُ ٱلۡأُخۡرَىٰٓ إِلَىٰٓ أَجَلٖ مُّسَمًّىۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يَتَفَكَّرُونَ﴿٤٢﴾ سورة الزمر.)

ژباړه:((هغه همدغه الله دی، چې د مرګ په وخت کې ساګانې اخلي او څوك چې لا تراوسه پورې نه دی مړ شوی، د هغه روح په خوب کې قبض کوي، بیا چې هغه د مرګ فیصله پر چا نافذوي، هغه ساتي او د نورو ساګانې تر یو ټاکلي وخت پورې بېرته (جسدونو ته) لېږي، په دې کې غټې نښانې دي د هغو کسانو لپاره چې غور او فکر کوونکي دي.))

جمهور عالمان د براء بن عازب رضی الله عنه د حدیث له امله چې ابوداود او امام احمد رحمهم الله علیهم روایت

(c) ketabton.com: The Digital Library



**کړی، د دې قایل دي، چې روح به قبر کې بدن ته راگرځي.**

**او ابو محمد بن حزم ویلي: چې هېچا دا روایت نه دی کړی، چې قبر کې روح بدن ته واپس کېږي، پرته له منهال بن عمرو نه او هغه قوي نه دی.**

**او دا ایت:(وَكُنْتُمْ أَمْوَاتاً فَأَحْيَاكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ ثُمَّ يُحْيِيكُمْ[1])**

**او بیا یې ترې منصوصي او معجزانه ځایونه جدا کړي دي، مگر علامه ابن القیم الجوزی رحمه الله د ابوداود شرح کې په تفصیل سره دا خبره ذکر کړې، ویلي یې دي:په کوم حدیث کې چې بدن ته د روح د راگرځېدلو مسئله ذکر شوې، په دې چې ابوحاتم بستي او ابن حزم کومه جرح کړې، هغه جرح صحیح نه ده او ابوموسی اصفهاني ویلي دا حدیث حسن دی، هر کله چې دا روایت ثابت دی. نو د دې ایت د سورة بقرې سره موافقت څرنگه دی؟ دې کې یو قول دا دی، چې علامه الوسي رحمه الله په روح المعاني کې غوره کړی، چې روح په قبر کې زوړ بدن ته نه واپس**

1- سورة البقرة، ایت:۲۸.



**کېږي؛ بلکې مثالي بدن ته ورننوځي او پر دې یې هغه حدیث په دلیل کې ذکر کړی، چې د ((شهیدانو روحونه د شنو مرغانو په ججورو کې اچول کېږي او جنت کې گرځي راگرځي.))**

**دویم قول دا دی، چې ابن القیم په شرح د ابوداود کې ذکر کړی، چې واپسي د روح بدن ته په قبر کې عاریضي وي، په دې سره په قبر کې همېشنی ژوند نه حاصلېږي او ابن عبدالهادي په الصارم المتکي کې ویلي، چې په قبر کې بدن ته د روح ورگرځېدلو سره حقیقي ژوند نه حاصلېږي او دا له مرگ سره منافع او ضد نه دی، یانې دغه واپسي له متشابهاتو نه ده، پر حقیقت یې نه پوهېږو؛ مگر ایمان پرې لرو، د همدې امله ملا علي قاري په (المرقات- صفحه ۱۹۸، لومړي ټوک) کې ذکر کړي، چې امام ابوحنیفه رحمه الله په قبر کې بدن ته د روح راگرځېدلو په مسئله کې توقف کړی دی او دارنگه یې په (۲۰۳مخ، لومړي ټوک کې) ذکر کړي، چې تعلق د روح د بدن له مړي سره په طریقه د حلول سره نه دی، د همدې تحقیق پر بنسټ د دې ایت**

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿فَيُمۡسِكُ ٱلَّتِي قَضَىٰ عَلَيۡهَا ٱلۡمَوۡتَ﴾ د راګرځېدلو سره هېڅ منافات نشته او له هغې نه انکار کول مناسب نه دي.[1]

## د قبر عذاب په قرآني هینداره کې

د قبر د عذاب شتون او د هغه منل ایماني عقیدوي مسئله ده، که څوک د قبر له عذاب یا په قبر کې له عذاب نه انکار کوي، په حقیقت کې د قرآن کریم او نبوي احادیثو انکار کوي او له یادو دوه اصلونو څخه انکار څرګند کفر دی.

که څه هم چې د قرآن کریم په ډېرو ایاتونو کې په څرګندو یا اشاروي ډول سره د قبر د عذاب ثبوت او شتون معلومېږي، دلته یې د بېلګې په توګه یوازې څو نمونې را اخلو:

﴿وَمَنۡ أَعۡرَضَ عَن ذِكۡرِي فَإِنَّ لَهُۥ مَعِيشَةً ضَنكاً وَنَحۡشُرُهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَامَةِ أَعۡمَىٰ ﴿١٢٤﴾ قَالَ رَبِّ لِمَ حَشَرۡتَنِيٓ أَعۡمَىٰ وَقَدۡ كُنتُ بَصِيراً﴿١٢٥﴾ سورة طه﴾

ژباړه:((او څوک چې زما له ((ذکر)) د نصیحت له درس، نه مخ واړوي د هغه لپاره به په دنیا کې تنګ ژوند وي او د

1- تفسير احسن الكلام، ټوک:۷، مخ:۳٤۹.



قیات په ورځ به موږ هغه ړوند راپاڅوو. هغه به وایي:"پروردګاره! په دنیا کې خو زه سترګور وم، دلته دې ولې ړوند را پاڅولم؟".))

دې ایت کې له ذکر نه کتاب الله، حق دین او د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنت مراد دي.

امام قرطبي رحمه الله هم دې ته اشاره کړې ده او له تنګ ژوند نه مراد د دنیا ژوند او یا د قبر عذاب دی.

همدا خبره له ابوسعید الخدري، ابو هریره او ابن مسعود رضی الله عنهم څخه هم روایت شوې ده.

د (معیشة) لفظ کې اشاره ده، چې د خوراک، څښاک، ټولې اسانتیاوې به لري، د دنیا له خوندونو به برخمن وي؛ مګر زړه به یې تنګ وي، پر غمونو او پرېشانیو به اخته وي او قبر به یې هم تنګ وي.

﴿وَإِنَّ لِلَّذِينَ ظَلَمُواْ عَذَاباً دُونَ ذَٰلِكَ وَلَـٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ لاَ يَعۡلَمُونَ ﴿٤٧﴾ سورة الطور﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه:((او د هغې نېټې د عذاب له راتګ نه مخکې هم د ظالمانو لپاره يو بل عذاب دی، خو له دوی نه زياتره نه پوهېږي.))

تفسير جواهر القرآن ليکلي:((د دې نه جنګ بدر کې قيد، وچکالي او د قبر عذاب مراد دی.))

﴿ٱلنَّارُ يُعْرَضُونَ عَلَيْهَا غُدُوّاً وَعَشِيّاً وَيَوْمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ أَدْخِلُوٓاْ آلَ فِرْعَوْنَ أَشَدَّ ٱلْعَذَابِ﴿٤٦﴾ سورة المؤمن (غافر)

ژباړه:((د دوزخ اور دی چې هغه ته سهار او ماښام (په عالم برزخ کې) هغوی وړاندې کولی شي او کله چې د قيامت ساعت راشي نو امر به وشي چې آل فرعون ډېر سخت عذاب ته ورننباسئ.))

دا هم له قرآني هينداري څخه د قبر پر عذاب دليل دی.

﴿کَلاَّ سَوْفَ تَعْلَمُونَ﴿٣﴾ ثُمَّ کَلاَّ سَوْفَ تَعْلَمُونَ﴿٤﴾ سورة التکاثر)



ژباړه:((هېڅکله داسې نه ده ډېر ژر به تاسې پوه شئ. بيا (واورئ چې) هېڅکله داسې نه ده ډېر ژربه تاسې پوه شئ.))

په لومړي ځل کې اشاره ده، وخت د ځنکدن ته، چې په هغه وخت کې به يې پر خپلې غلطۍ يقين راشي او په دويم کې اشاره ده، د قبر عذاب ته.

علامه ابن قيم رحمه الله دا قول په بدائع التفسير کې د حسن، مقاتل او عطاء رحمهم الله عليهم او ابن عباس رضی الله عنه په روايت کړی دی. او ابن قيم رحمه الله دې قول ته په پينځو وجو سره ترجېح ورکړې ده.

او حديث د ترمذي چې د علي رضی الله نه يې نقل کړی، هغه ويلي:((چې موږ د قبر په عذاب کې شک کاوه، تر دې پورې چې دا سورت نازل شو.))[1]

او ابوهريره رضی الله عنه ويلي:((پر کافر به قبر دومره راتګ کړای شي، چې يوه پوښتۍ به يې په بلې کې ننوځي او همدا تنګ ژوند دی.))[2]

---

1 - تفسير احسن الکلام، ټوک:۹، مخ:٤٠١.

2 - التذکره فی احوال الموتی واموراالآخرة، مخ: ١٢١.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د قبر عذاب له څه سرچینه اخلي!؟

ابوبکر بن ابی شیبه د ابو هریره رضی الله عنه په روایت حدیث نقل کړی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي:((د قبر ډېری عذاب له تشو بولو څخه وي.))

دا په دې مانا چې څوک د تشو بولو له څاڅکو څخه ځان نه ساتي او په دې برخه کې بې غوري کوي، د قبر پر عذاب به اخته کېږي.

امام بخاري او امام مسلم رحمهم الله علیه د رئیس المفسرین ابن عباس رضی الله عنه په روایت حدیث نقل کړی، دی وایي:((رسول الله صلی الله علیه وسلم پر دوو قبرونو ورتېر شو، ویې ویل: دې دواړو ته عذاب ورکول کېږي او په داسې لوی څیز کې عذاب ورکول کېږي، چې (ډېری خلك یې لوی نه ګڼي).

له دوی څخه یو تن به د نمیمت (چغلۍ) دنده سرته رسوله یانې د یو کس خبره به یې یو او د هغه بل کس خبره به یې ده ته رسوله او دې بل به د تشو بولو نه ځان نه ساته، رسول الله صلی الله علیه وسلم د ونې یوه شنه څانګه راوغوښتله، هغه یې په منځ کې دوه ځایه کړه، نیمه هغه یې



د یو پر قبر او نیمه نوره یې د هغه بل پر قبر وټومبله، بیا یې وویل: کېدای شي له دې دواړو څخه د قبر عذاب سپك کړای شي، تر هغې چې دا دواړه شنې وي.))

طحاوي د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه په روایت حدیث نقل کړی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي:((الله تعالی د خپلو بنده ګانو نه د یو بنده په اړه په قبر کې د هغه د عذاب حکم ورکړ، چې دا کس دې سل دُرې ووهل شي.

د همدې بد خبر له امله هغه الله تعالی ته سوالونه او دعاګانې پیل کړې، تر دې چې یوه دره ورته پاتې شوه، چې د یوې دُرې له امله یې قبر د اور نه ډك شو، کله چې ترې د اور لمبې پورته شوې او په خپل هوش کې راغی، ویې ویل: ولې مو په دُرو ووهلم؟

ورته وویل شو: تا به له اودس پرته لمونځ کاوه او پر مظلوم تېر شوی وې او د هغه مرسته دې نه وه کړې.[1]

امام ابوداود رحمه الله د انس بن مالك رضی الله عنه په روایت حدیث نقل کړی، رسول الله صلی الله علیه وسلم

1- التذکره فی احوال الموتی واموالآخرة، مخ: ۱۲۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويلي:((د معراج په شپه مې پر داسې خلكو تېرېدل وشو، چې د مسو نوكان يې لرل او خپل مخونه او سينې يې پرې راشكولې، ما جبرايل عليه السلام وپوښته، دا څوك دي؟

جبرايل عليه السلام راته وويل:دا هغه كسان دي، چې دنيا كې د خلكو غوښې خوري او د هغوى په اعراضو (شخصياتو) كې په خبرو اترو بوخت وي.

حديث كې د مسلمانانو سپكاوى د هغوى په شخصياتو كې ځان بوخت ساتل په داسې طريقه چې پر هغوى ملنډې وهلى شي، د هغوى د غوښو له خوراك سره تشبيه شوي.

څرنگه چې قرآن كريم كې د مسلمان غيبت د مړ مسلمان ورو د غوښو له خوراك سره تشبېه شوې دي، ځكه چې غيبت د انسان شخصيت قصابي كېږي او شخصيت يې سپك او شيندل كېږي، څرنگه چې دوى د خلكو غوښې خوړلي، همداسې به دوى د قيامت په ورځ د ميسو په نوكانو له خپلو سينو او مخونو غوښې راشكوي او دا به دوى لپاره عذاب او كړاو وي.

## د قبر عذاب



﴿ٱلنَّارُ يُعْرَضُونَ عَلَيْهَا غُدُوّاً وَعَشِيّاً وَيَوْمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ أَدْخِلُوٓاْ آلَ فِرْعَوْنَ أَشَدَّ ٱلْعَذَابِ﴿٤٦﴾ سورة المؤمن)

ژباړه:((د دوزخ اور دى، چې هغه ته سهار او ماښام (په عالم برزخ كې) هغوى وړاندې كولى شي او كله چې د قيامت ساعت راشي، نو امر به وشي چې آل فرعون ډېر سخت عذاب ته ورننباسئ.))

د دې ايت نه ډېرو مفسرينو محدثينو او د عقايدو عالمانو استدلال كړى، چې د قبر عذاب حق دى.

امام بخاري رحمه الله په ترجمة الباب عذاب قبر كې دا ايت ذكر كړى دى، په دې اړه لومړۍ ضروري خبره دا ده، چې په ډېرو صحيحو احاديثو كې د قبر د عذاب لفظ راغلى او عذاب فى القبر هم راغلى، د بېلگې په توگه((**إِنَّهُمَا لَيُعَذَّبَانِ فِي قُبُورِهِمَا... .**))[1]

ياني قبورهما كلمه پر دې دليل دى، چې په قبر كې عذاب شته، نو له دې تعبير نه انكار كول گمراهي ده.

1- (إِنَّهُمَا لَيُعَذَّبَانِ فِي قُبُورِهِمَا، وَمَا يُعَذَّبَانِ فِي كَبِيرٍ؛ كَانَ أَحَدُهُمَا يَمْشِي بِالنَّمِيمَةِ، وَالْآخَرُ لَا يَتَّقِي الْبَوْلَ) المنتخب من مسند عبد بن حميد ت صبحي السامرائي (ص: 210)

(c) ketabton.com: The Digital Library



مگر تفصيلي څرنګوالی د هغې زموږ له شعور او علم نه پورته دي، ځينې هغه تفصيلات چې په صحيح احاديثو کې راغلي، لکه: پوښتنه او ځواب کول، د هغې لپاره د مړي کېنول، د چا لپاره د قبر پراخوالی او د چا لپاره تنګوالی، د مرغيو په ګېډو او ججورو کې د روح اچول او داسې نور، د دې منل ضروري دي. بيا د اهل السنت والجماعت د عالمانو په دې کې دوه قوله دي، لومړی دا چې عذاب پر روح په خپل مستقر کې او پر بدن په خپل ځای کې، برابره خبره ده که روغ او سالم او که ذرې ذرې د حيواناتو په ګېډو کې، که په سمندر کې وي او که ايرې شوی وي او داسې نور... .

او بدن ته الله تعالی دومره ژوند ورکړی، چې د عذاب احساس کولای شي، مګر د روح تعلق او اړيکه له بدن سره، پر دې صريح صحيح دليل نشته. (دا چې روح څنګه بدن ته راګرځي، په دې به وروسته تر ځانګړي سرليک لاندې بحث وکړو).

دويم قول دا دی، چې عذاب يوازې په روح دی؛ مګر په شرط د مثالي جسد سره، چې پر هغې دا حديث ((چې د



مؤمن روح به د مرغيو په څېر د جنت ونو پورې نښتی وي.)) دلالت کوي او د عذاب اړيکه له اصل بدن سره نشته.

په دې کې لومړی قول صحيح دی، که چېرې پوښتنه وکړای شي، چې دا ايت مکي دی او د امام احمد بن حنبل رحمه الله حديث کې راغلي، چې د قبر عذاب نشته.

هو! څه وخت وروسته رسول الله صلی الله عليه وسلم ته د قبر د عذاب په باره کې وحې وکړای شوه او دا حديث وارد (راغلی) په مدينه منوره کې، نو چې په مکه کې الله تعالی دا ايت رالېږلی و او په دې کې د قبر د عذاب اثبات و، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم انکار ولې کاوو.

د دې ځواب ابن کثير رحمه الله په لاندې طريقو سره کړی، لومړی ځواب: په دې ايت سره يوازې د روح وړاندې کېدل پر اور په برزخ کې ثابت دي او دا دلالت نه کوي، چې بدن سره د عذاب اړيکه نشته او که نه نو بدن لپاره د عذاب حاصلېدل د دې ايت له نزول نه وروسته په احاديثو سره ثابت شو.

دويم ځواب دا دی، چې ايت يوازې دلالت کوي په عذاب د کافرانو او له دې نه د مؤمن عذاب په قبر کې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ثابتېده او په احادیثو سره عذاب د مؤمنانو ګناهګارانو ثابت شو.

درېیم ځواب دا دی، چې ایت دلالت کوي، په عذاب د روحونو باندې او په احادیثو کې عذاب د بدنونو هم ثابت شو.[1]

## د قبر عذاب حق دی!

د اهل سنت والجماعة د فقهاوو عقیده ده، چې د قبر عذاب حق دی، څرنګه چې نېکو مؤمنانو ته په قبر کې ارام او خوشالي وي او تر قیامته به د ښکلي برزخي ژوند نه ګټې پورته کوي، همدارنګه کافرانو او بدکارانو ته په قبر کې عذاب ورکول کېږي او دا په صحیح احادیثو کې ثابت دي.

عائشه رضی الله عنها ته یوه یهودۍ مېرمن راغله او له هغې سره یې د قبر د عذاب یاد وکړ، بیا یې ورته وویل: الله تعالی دې د قبر له عذاب نه پناه درکړي.

عائشې رضی الله عنها په دې اړه له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړه، هغه مبارک صلی الله علیه وسلم وویل: هو؛ د قبر عذاب حق دی.[1]

1- تفسیر احسن الکلام، ټوک:۷، مخ:۳۹۷.



ابو سعید رضی الله عنه د حدیث راوي دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي:((پر کافر په قبر کې نهه نوي ښاماران مقررولی شي، چې تر قیامته پورې به کافر چیچي، هغه داسې نااشنا زهر لري، که چېرې یو ښامار هم پر ځمکې پوکی ووهي؛ نو د ځمکې پرمخ به شین بوټی راښکاره نه شي.))[2]

د شیخ القرآن سردارولي د خولې خبره راته د دې حدیث په اړه مولانا اجرالدین کوله، چې (۹۹) ښاماران به پرې د دې له امله مقررېږي، چې دغه کافر د الله تعالی د (۹۹) اسماءالحسنی نومونو نه انکار کړی و.

زید بن ثابت رضی الله عنه وایي: یوه ورځ رسول الله صلی الله پر خپلې قچر سپور و، د بنو نجار قبیلې یو باغ ته یې تشریف یوړ، موږ ورسره هم د لارې ملګري وو، ناڅاپه د رسول الله صلی الله علیه وسلم قچر ټوپونه کړل، وترېده، دومره وترېده چې نېږدې وه رسول الله صلی الله علیه وسلم ترې نه غورځېدلی وای، هلته پینځه یا شپږ قبرونه وو،

1- مرنے کے بعد کیا ہوگا، مخ:۳۷، مولانا محمد عاشق الهی بلند شهري، اردو.

2- د حدیث سند صحیح دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله صلی الله علیه وسلم پوښتنه وکړه: څوك د دې قبرونو والا پېژني؟

یو کس وویل: زه یې پېژنم.

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: دوی کله مړه شوي؟

هغه کس وویل: د جاهلیت په زمانه کې.

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: انسانانو ته په قبرونو کې عذاب ورکول کېږي، که ماته دا وېره نه وی، چې تاسې به د مړو ښخول پرېږدئ، الله تعالی نه به مې غوښتې وای، چې تاسې ته یې هم د د دوی د قبر د عذاب څه برخه اورولی وای، کوم چې زه اورم.[1]

## ګرُز

براء بن عازب رضی الله عنه وايي: له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یوې جنازې ته لاړو... رسول الله صلی الله علیه وسلم د حدیث په اوږدو کې وویل: کله چې د یو مؤمن بنده روح ووځي، هغه روح ته ټولې پرښتې د ښښې

1- مرنے کے بعد کیا ہوگا، مخ:٤٠.



دعاګانې کوي، هغه که په اسمان کې وي او که د ځمکې او اسمان په منځ کې وي.

د اسمان دروازې د هغه روح ته پرانیستلای شي، د هرې دروازې والا، الله تعالی ته دا دعاګانې کوي، چې د دغه مؤمن بنده روح دې د هغوی له لوري بره لاړ شي.

د حدیث په پای کې یې وویل: یانې په هغه برخه کې چې د بدعمله انسان سره په قبر کې څه چال-چلند کېږي، الله تعالی پر کافر، مشرك بنده یوه ړنده، کڼه او ګونګه پرښته مقرره کړي، د هغه په لاس کې داسې میرزبه (ګرُز) وي، که چېرې پر هغه غر ووهل شي، خاورې به وګرځي، پر هغه ګرُز به دغه بد عمله انسان ووهل شي، چې د هغې له امله به یې بدن خاورې شي، بیا به یې الله تعالی خپل هغه حالت ته وروګرځوي، څنګه چې و.

بیا به پرښته بل داسې ګوزار ورکړي، (چې دومره به یې وډردوي) چې د ثقلینو (انسانانو او پېریانو) پرته به یې هر څه چغې واوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



براء رضی الله عنه وايي: بيا به د دوزخ په لور ورته يوه دروازه وکړای شي او د اور فرش او بستر به ورته وغوړولای شي.

سفيان ثوري رحمه الله د خپل پلار نه، هغه له خيثمه او خيثمه له براء رضی الله عنه د الله تعالی په دې قول کې:(يُثَبِّتُ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ آمَنُواْ بِٱلْقَوْلِ ٱلثَّابِتِ فِي ٱلْحَيَاةِ ٱلدُّنْيَا)[1] تفسير کې نقل کړي، چې مراد له دې ايت څخه د قبر عذاب دی.[2]

## قبر يې له غېږې غورځوي؟

انس رضی الله عنه د حديث راوي دی، وايي: چې يو کس د رسول الله صلی الله عليه وسلم ليکونکی و، له اسلام منلو وروسته بېرته مشرک شو، رسول الله صلی الله عليه وسلم د هغه په حق کې ښېرا وکړه، چې ځمکه يې قبول نه کړي.

کله چې مړ شو، ابوطلحه رضی الله عنه يې قبر ته ورغی، ګوري چې له قبر نه بهر پروت دی.

1- سورة ابراهيم، ايت: ۲۷.

2- مسند احمد، تفسير ابن کثير، ټوک:۳، مخ:٦٧٤.



هلته نېږدې خلکو نه يې پوښتنه وکړه، چې دا څه خبره ده؟

هغوی وويل: موږ څو څو ځلې دا ښخ کړی، ځمکه يې نه قبلوي، هر ځل مو چې ښخ کړی ځمکې بېرته بهر راغورځولی.

د همدې له امله مو بيا ښخ نه کړ او بهر مو د قبر پر غاړه پرېښود.[1]

1- مرنے کے بعد کیا هوگا، مخ:٤٨.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شپږم خپرکی

## د قبر له عذاب نه نجات ورکوونکی سورت

**عبدالله بن عباس رضی الله عنه ويلي: د رسول الله صلی الله عليه وسلم يو صحابي پر قبر خېمه درولې وه، هغه ته دا پته نه وه، چې دا قبر دی.**

**له قبر نه د:**

**(تَبَارَكَ ٱلَّذِى بِيَدِهِ ٱلْمُلْكُ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ﴿١﴾سورة الملك)**

**لوستلو غږ راتله، چې انسان لوسته. ياد شوی سورت لوستل کېده، تر دې چې ټول سورت يې ترپايه ولوست، هغه صحابي رضی الله عنه رسول الله صلی الله عليه وسلم ته د دې کيسې ياد وکړ، رسول الله صلی الله عليه وسلم**



**وويل:"دا منع کوونکی دی، دا نجات ورکوونکی دی، چې خپل لوستونکي ته د قبر له عذاب نه نجات ورکوي."[1]**

1- تفسير ابن كثير، ټوک:٦، مخ:٢٦٥.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ژغورونکې ډالۍ

عبدبن حمید په خپل (منتخب) کې د عکرمه رضی الله عنه په روایت حدیث نقل کړی، چې ابن عباس رضی الله عنهما یو کس ته وویل: داسې حدیث درته ډالۍ نه کړم؟ چې ته به پرې خوشاله شې؟

هغه کس وویل: ولې نه.

ابن عباس رضی الله عنهما وویل:"(تَبَارَكَ ٱلَّذِی بِيَدِهِ ٱلْمُلْكُ) يانې سورت الملك لوله، خپلې مېرمن، د کورنۍ غړو، ټولو بچيانو، کوچنيانو او ګاونډيانو ته يې هم ورزده کړه.

ځکه دا نجات ورکوونکی يا جګړه کوونکی سورت دی، چې د قيامت په ورځ به د خپل لوستونکي له خوا د خپل رب په وړاندې جګړه او دفاع کوي، له الله تعالی څخه به غواړي، چې ده ته د قبر او دوزخ له عذابونو نه نجات ورکړي، بيا يې وويل: رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي،



زما دا خوښېږي، چې دا سورت زما د هر امتي په زړه کې وي."[1]

جابر رضی الله عنه د حديث راوي دی، دی وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم به تر هغې نه ويده کېده، چې (آلم) تنزيل او (تَبَارَكَ ٱلَّذِی بِيَدِهِ ٱلْمُلْكُ) سورتونه به يې لوستي نه و...[2]

ابوهريره رضی الله عنه د حديث راوي دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: په قرآن کريم کې د دېرشو ايتونو والا يو سورت دی، چې د قيامت په ورځ به تر هغې خپل (مينه وال) لوستونکي ته شفاعت کوي، چې بښنه ورته وکړای شي او دا سورة (تَبَارَكَ ٱلَّذِی بِيَدِهِ ٱلْمُلْكُ) دی.[3]

## دوه ورځې، دوه شپې

د کايناتو په نظام او د وختونو په ښکلې لړۍ کې ځينې داسې ورځې او شپې شته، چې له نورو جلا ځانګړنې لري، لکه:د قبر شپه، د جمعې شپه، د واده شپه، د اخترونو

1- تفسير ابن کثير، ټوک:٦، مخ: ٢٦٦.
2- تفسير ابن کثير، ټوک:٦، مخ: ٢٦٥.
3- د حديث سند صحيح دی، تفسير ابن کثير، ټوک:٦، مخ:٢٦٥.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپې، د جمعې ورځ، د عرفې ورځ، د عاشورا ورځ او داسې نورې... .

انس بن مالک رضی الله عنه ویلي:((ایا پر داسې دوه ورځو او دوه شپو خبر درنه کړم، چې خلکو د هغې په څېر د ورځو او شپو په اړه څه نه دي اورېدلي؟

لومړی: هغه ورځ چې د الله تعالی له لوري تاته زېری درکوونکی راشي، یا د الله تعالی د رضا او یا له تا څخه د الله تعالی د ناراضیتوب او خپګان خبر درکړل شي.

دویمه: هغه ورځ چې ته په کې د خپل رب حضور ته د عملنامې اخیستلو لپاره حاضرېږي، یا به عملنامه په ښي لاس او یا به په کیڼ لاس کې درکول شي.

لومړی شپه: هغه چې ته به په قبر کې په لومړي ځل شپه تېرول پیلوي او له دې وړاندې دې پکې هېڅ کله هم شپه نه ده تېره کړې.

دویمه شپه: هغه شپه ده، چې د سحر له سپینې غېږې به یې د قیامت ستره ورځ راښکاره کېږي.[1]

## د قبر یاران

1- التذکره فی احوال الموتی واموراالآخرة ، مخ:۸٤.



ابوهریره رضی الله عنه وایي: کله چې مړی په قبر کې کېښودل شي، نو د هغه نېک عملونه ترې ګردچاپېره تاوېږي، که چېرې ګناه د هغه د سر له لوري راځي، نو د قرآن کریم د تلاوت ثواب له هغه دفاع کوي او که د پښو له لوري راځي، نو د تهجدو لمونځونه یې دفاع کوي، که د لاسونو له لوري راځي، نو لاسونه وایي: پر الله تعالی سوګند، چې ده به موږ د صدقې او دعا لپاره غزولو، نو د ده لور ته د راتللو لار نشته، که د مخ له لوري راځي، نو د الله ذکر (یاد) او روژه به په خپل معنوي قوت د هغه دفاع کوي، همدارنګه لمونځ او روژه یو لور ته ولاړ وي، وایي: چې که چېرې کوم کمی وي، نو موږ به یې پوره کړو.

لنډه دا، چې د هغه نېک عملونه به قبر والا ته له عذابونو څخه داسې نجات ورکوي، دفاع به یې کوي، لکه څوک چې د خپلې کورنۍ نه غمونه لرې کوي او مخه یې نیسي، له دې وروسته ورته ویل کېږي، چې د الله تعالی برکت دې دربانديې وي، په ارام ویده شه، ځکه له تا سره ډېر ښه ملګري (نېک عملونه) دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې هیله، چې ګران قدره لوستونکي به د دنیاوي ژوند په څېر د برزخي (قبري) ژوند لپاره هم رښتیني او وفا لرونکي ملګري او دوستان پیداکړي، تر هغې چې په قبر کې هم بې مینې او بې یاره پاتې نه شي.

د لرې پښتونخوا پیاوړی او خوږ ژبی شاعر، چې دا مهال د قبر نړۍ ته تللی، صاحب شاه صابر هم خپل ژوند د خوږو یارانو په غېږه کې ګوري:

دا یو څو یاران که نه وي، بیا به نه یم
زمـــا ژوند دغه یو څو خــواږه یاران دي

## شینکی قبر

انس بن مالك رضی الله عنه د حدیث راوي دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: کله چې بنده په قبر کې کېښودل شي، خپل خپلوان، ملګري او نور خلك ترېنه راستانه شي، دی د خلکو د پایزار غږ اوري، بیا دوه پرښتې ورته راشي.

دی په قبر کې راکېنوي، دواړه ورته وايي:د دې کس په اړه څه وايي؟



رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: مؤمن به په ځواب کې ووايي:(أَشْهَدُ أَنَّهُ عَبْدُ اللَّهِ وَرَسُولُهُ).

بیا به ده ته وویل شي، اور کې دې د خپل ځای ننداره وکړه، ستا ځای په اور کې و، مګر الله تعالی تاته د هغه په بدل کې په جنت کې ځای درکړ.

د الله تعالی نبي کریم صلی الله علیه وسلم وویل: دی به دواړه ځایونه ګوري.

قتاده رضی الله عنه وايي: دا هم موږ ته ذکر شوي، چې قبر به ورته اویا ګزه پراخه کړای شي او قبر به یې د قیامت تر ورځې پورې له شینکی او سرسبزۍ نه ډک شي.[1]

## زه د عمل صالح ځای یم

1- تفسیر ابن کثیر، ټوک:۳، مخ:٦٧٦. صحیح البخاري (2/ 98)

(c) ketabton.com: The Digital Library



وايي چې کله د جنتي مېرمنو سرداره فاطمة الزهرا رضی الله عنها له دې نړۍ نه مخ واړوه، سترګې يې پر ابدي خوب ويدې شوې.

د جنازې د لمانځه، تلقين او تجهيز نه وروسته يې د څلورو کسانو علي، حسين، حسن او ابوذر رضی الله عنهم په بدرګه د هغې لاش ترقبره ورساوه، د جنتي مېرمن د جنازې کټ يې د قبر پر غاړه کېښود.

ابوذر رضی الله عنه قبر ته په خطاب کې وويل: قبره! پوهېږې څوک مو درته راوړې؟ دا فاطمة الزهرا رضی الله عنها، د محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم ګرانه لور ده، د علی المرتضی رضی الله عنه مېرمن او د جنتي زليميانو د سردارانو حسن او حسين رضی الله عنهما مهربانه مور ده.

د قبر نه غيبي اواز پورته شو:((زه د حسب او نسب ځای نه يم، زه د عمل صالح ځای يم، له مانه يوازې هغه څوک نجات مونډلای شي، چې د خير چارې يې ډېرې وي، زړه يې سالم او روغ وي او عمل يې د اخلاص پر ګاڼه سينګار وي.))[1]

1- درة الناصحين، تاليف: عثمان بن حسن بن احمدالخويري، مخ:۱۹۱، سعيديه کتب خانه، مردان.



## د قبر ناوې

ابو هريره رضی الله عنه د حديث راوي دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي:((کله چې سړی په قبر کې کېښودل شي. يا يې وويل: چې ستاسې يو کس په قبر کې کېښودل شي، دوه سپين سترګې پرښتې ورته راشي، چې يوې ته يې منکر او بلې ته يې نکير وايي. دواړه به ووايي: د دې سړي (محمد صلی الله عليه وسلم) په اړه دې څه ويل؟ دی به ووايي، هغه څه چې ويل يې، ياني وبه وايي، دا د الله تعالی بنده او رسول دی؟

(اشهد ان لااله الاالله و اشهد ان محمد عبده ورسوله)

دواړه به ووايي: موږ پوهېدو، چې ته به همداسې و ايي، بيا به ورته قبر اوياګزه په اوياګزو کې پراخه کړای شي، قبر به يې له نور (رڼا) نه ډک کړای شي.

بيا به ورته وويل شي: ويده شه! دی به ووايي: زه به خپلې کورنۍ ته ورشم، چې هغوی خبر کړم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پرښتې به ورته ووايي: د هغې ناوې په څېر ويده شي، چې يوازې د کورنۍ هغه غړي يې له خوبه راويښولی شي، چې ده ته ګران وي.**

**تر هغې چې الله تعالی يې د قيامت په ورځ د خپل ارام ځای نه راپاڅوي.**

**او که قبر والا منافق وي، د پرښتو ځواب کې به وايي، له خلکو نه مې چې څه اورېدل ما به هم هماغه رنګ ويل، بس نه پوهېږم!**

**دواړه پرښتې به ووايي: موږ پوهېدو چې ته به همداسې وايې، بيا به ځمکې ته ووايي: پرې راټوله! نو له هرې خوا به پرې ځمکې داسې راټوله شي، چې پايله کې به يې يوه پوښتۍ په بله کې ننوځي، ده ته به تر هغې د قبر عذاب ورکول کېږي، چې الله تعالی يې بيا په قيامت کې له ځمکې نه راپورته کړي.**[1]

## شنې څانګې

1- ترمذی، ابن کثير، ټوک:۳، مخ:۶۷۸.



**د امام شافعي رحمه الله د مسلك فقهاء وايي، د قبر خوشبويه کول څه باك نه لري، د حنابله وو او احنافو فقهاء هم ورته خبره کوي.**

**دا هم مستحب خبره ده، چې پر قبر اوبه وشيندلی شي، همدغه ډول شنې څانګې، ريحان او نور پرې لګول سنت دي. هغه که شين بوټی يا د کبلو د چمن څه برخه وي.**

**له وچېدلو مخکې له قبر نه د هغې اخيستل پکار نه دي، ځکه شنو څانګو او بوټو کې مړي ته د ښېنې غوښتلو او د الله تعالی د ثنا ويلو راز نغښتی دی.**

**رسول الله صلی الله عليه وسلم يوه شنه څانګه دوه ځايه کړې وه، نيمه يې د يو کس پر قبر او نيمه نوره يې د بل کس پر قبر دروله وه... همدا شان د خپل زوی ابراهيم پر قبر يې اوبه ورشيندلې وي او هم يې پرې واړه واړه کاڼي ايښي وو.**[1]

1- الفقه الاسلامي وادلته، ټوک:۲، مخ:۴۶۷.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اووم څپرکی

## درې ګونې نړۍ

د ژوند مینه والو!

خوښ یم، چې پر دې حقیقت پوهېږئ، چې د دنیوي ژوند هره شېبه د ژوند د دوو نورو پړاووونو لپاره مدرسه ده، دا خبره هم تر ډېرې کچې سمه ده، چې وايي:((لومړی د وروستي پل دی.))

ربښتیا هم داسې ده، ډېر ځلې یو زلمی د ژوندانه نړۍ کې د کوچنیتوب له شېبو د الهام او زده کړې کیسې کوي، دا ځکه چې د تجربې پر مټ روزل شوی وي او د تجربې د پوهنتون محصلان د ژوندانه په چارو کې ډېر بریالي وي.

پوهان وايي:((تجربه هغه پوهنتون دی، چې په ډېره لوړه بیه محصلان روزي.))



او دا حقیقت هم دی، چې هغوی د ژوندانه په لومړي پړاو یانې دنیا کې د الله تعالی د پېژندګلوۍ، بنده ګۍ او د هغه پر وړاندې د غاړه ایښودلو پر عبادتي سینګار مزین وي، هره شېبه یې د الله تعالی بنده ګي د محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم د سنتو په رڼا کې انجام کړی وي، طبیعي ده چې د دنیوي او اخروي ژوند ترمنځ د برزخي نړۍ په غېږه کې به د الله تعالی له فضل او مهربانۍ او لورېینو برخمن وي، د ژوند دویم کور قبر کې به یې د ایمان او عقیدوي مشالونو د رڼا وړانګې خپرې وي او د قبر شپه به یې د نېک عمل په رڼا روښانه او ځلېدونکي وي، د قبر له کړاوونو به په امن کې وي او روحونه به یې له اووه اسمانونو وربره د علیین په مانیزه ماڼۍ کې استوګن کوي.

او هغوی چې د ایمان عقیدې او د دې په رڼا کې د نېکو اعمالو، عقایدو او اخلاقو بې برخې وي، یقیني ده چې دنیوي ژوند به یې هم ګډوډ او له ستونزو ډک وي او برزخي نړۍ کې به هم د قبر په شپه کې په تورو تیارو کې ډول ډول عذابونو په ورکولو ځورول کېږي، د قبر په نااشنا او هیبتناک کور کې به پرې د ځمکې نااشنا حشرات،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاماران او لړمان ګومارل شوي وي او د دنیوي ژوند د لنډو ورځو شپو د مستیو او نافرمانیو غچ به ترینه اخلي او روحونه به یې د اووه ځمکو لاندې د سجیین په زنداني دفتر کې قید وي.

هوکې ګرانو لوستونکو!

د ژوند درېیمه نړۍ چې تلپاتې نړۍ ده، ژوند، نعمتونه او خوندونه یې حقیقي او تلپاتې دي.

هو هغه نړۍ چې یوازې ژوند به پکې د بادشاهۍ پر ګدۍ ناست وي او مرګ به د کایناتو د ستر بادشاه پر امر حلال او قصابي شي.

د اخرت نړۍ ده، چې هر چا سره به د ذرې ذرې په کچه محاسبه کېږي، عدالت به واکمن وي، د میزان تله به ولاړه وي، پر چا به ظلم نه کېږي، هر چاته به د هغه د نېکو او بدو اعمالو په کچه مکافات او مجازات ورکول کېږي، څوک به د ښي لاس پر عملنامو نازول کېږي او چاته به په چپ لاس کې ورکول کېږي، څوک به نېکبخته اعلانېږي او څوک به بدبخته، چاته به مهربان پیغمبر محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم د حوض کوثر سپینو او خوږو اوبو نه



ډک جام ورکوي او څوک به د پرښتو له لوري د کوثر له حوض نه شړل کېږي.

څوک به د صراط له خطرناک پل نه د خپلو ښو اعمالو په رڼا کې تېرېږي او ځینې به یې د دوزخ ژورې او هیبتناکې کندې ته د خپلو بدو کړنو له امله ورغورځېږي.

چاته به وویل شي، چې تاسو د جنتیانو ډله کې جنت ته لاړ شئ او چاته به وویل شي، چې تاسې د کافرانو، مشرکانو، منافقانو او مجرمانو په ډله کې دوزخ ته لاړ شئ او دې ته ورته نورې نااشنا پرېکړې به د ژوند په درېیمه نړۍ کې انجامېږي.

په دې هیله چې زما په شمول مې درانه لوستونکي ورونه او خویندې او په ټولیز ډول مسلمانان د ژوند په لومړۍ، دویمه او درېیمې نړۍ کې نېکمرغه او بریالی شي.

## لومړۍ ګومبزه

د ښځینه مړي د تابوت یا جنازې پر کټ پرده نیول مستحب عمل دی، ځینې وایي، چې تر ټولو لومړی د ام

(c) ketabton.com: The Digital Library



المؤمنین زینب بنت جحش رضی الله عنه د جنازې کټ لپاره پرده نیول شوې وه.

او ابن عبدالبر ویلي: فاطمة الزهرا رضی الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم لور لومړۍ هغه مېرمن وه، چې په اسلام کې یې د جنازې پرکټ پرده جوړه شوې وه، له دې وروسته بیا د زینب بنت جحش د جنازې کټ د پټولو لپاره پرده نیول شوې وه.[1]

فقهاء وایي: دا د یو گومبز په ډول دجنازې پر کټ جوړېږي، ځینې یې د لرگو نه، ځینې یې د خرما له څانگو او ځینې یې د ډُرمو نه جوړوي؛ ځکه په دې ښه ستر راځي.

## تر ټولو به لومړی زه له قبره پاڅېږم!

امام مسلم رحمه الله د ابي هريره رضی الله عنه په روایت حدیث نقل کړی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي:(أَنَا سَيِّدُ وَلَدِ آدَمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَأَوَّلُ مَنْ يَنْشَقُّ عَنْهُ الْقَبْرُ،

1- الفقه الاسلامي وادلته، ټوک:۲، مخ: ٤٥٢.



وَأَوَّلُ شَافِعٍ وَأَوَّلُ مُشَفَّعٍ.)[1] یانې:زه به د قیامت په ورځ د ادم علیه السلام د اولاد سردار یم او تر ټولو لومړی به زه له قبر نه پاڅېږم، تر ټولو لومړی به زه شفاعت کوم او تر ټولو لومړی به زما شفاعت قبلېږي.

امام ترمذي رحمه الله د ابی سعیدالخدري رضی الله عنه په روایت حدیث نقل کړی:(أَنَا سَيِّدُ وَلَدِ آدَمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَا فَخْرَ، وَبِيَدِي لِوَاءُ الحَمْدِ وَلَا فَخْرَ،... وَأَنَا أَوَّلُ مَنْ تَنْشَقُّ عَنْهُ الأَرْضُ وَلَا فَخْرَ)[2]

یانې: زه به د قیامت په ورځ د ادم علیه السلام د اولاد سردار یم او پر دې فخر نه کوم او زما په لاس کې به د حمد بیرغ وي او پر دې فخر نه کوم، ... او تر ټولو لومړی به زه د ځمکې له چاودلو سره له قبره پاڅېږم او زه دا خبره د فخر په توگه نه کوم (بلکې د شکر او منني په ډول یې کوم).

امام احمد بن محمد بن حنبل رحمه الله د بخاري او مسلم په شرط برابر حدیث نقل کړی، وایي:((یوې یهودۍ مېرمنې به د عائشې رضی الله عنه خدمت کاوه، کله به چې

1- صحیح مسلم (4/ 1782).

2- سنن الترمذي ت شاكر (5/ 587).

(c) ketabton.com: The Digital Library



عائشې رضی الله عنه له هغې مېرمنې سره څه نېکي وکړه او هغه به خوشاله شوه، نو عائشې رضی الله عنها ته به یې داسې دعا کوله:((الله تعالی دې د قبر له عذاب څخه پناه درکړي.)) عائشه رضی الله عنها وايي، رسول الله صلی الله علیه وسلم کور ته راننوت. ما ترې وپوښتل: ایا د قیامت نه وړاندې د قبر عذاب شته.

هغه وویل: نه؛ ولې دا پوښتنه کوې؟

عائشې رضی الله عنها په ځواب کې وویل: له دې یهودی مېرمنې سره چې کله څه نېکي او یا مرسته وکړم، نو دا راته وايي، چې الله تعالی دې د قبر له عذابه وساته.

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: یهودیان دروغ وايي او دوی پر الله تعالی تر ټولو لوی دروغ وايي.

بیا چې څومره د الله تعالی خوښه وه، له دې وروسته په کور کې تم شو.

یوه ورځ غرمه مهال په داسې حال کې له کوره ووت، چې جامې یې پر ځان رانغاړلې وې، سترګې یې تکې سرې وې، په اوچت غږ یې خلکو ته داسې وویل:ای خلکو! قبر د تورې شپې د یوې برخې په څېر دی، که چېرې تاسې پر



هغه څه پوه شوئ، چې زه پرې پوهېږم، ډېر به وژاړئ او لږ به وخاندئ، ای خلکو! پر الله تعالی د قبر له عذاب نه پناه وغواړئ، ځکه د قبر عذاب حق دی.[1]

## د مړي هډوکي

که ډېر اهم ضرورت نه وي، د مړي د قبر سپړل او هډوکي یې هاخوا-دېخوا وړل راوړل نه دي پکار.

که چېرې د کوم شرعي مطلب پر بنسټ او د کوم روا هدف په خاطر د مړي هډوکي قبر نه ویستل کېږي، ډېره پاملرنه دې وشي، چې هډوکي یې مات نه شي، ځکه د مړي د هډوکو ماتول ګناه ده.

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي:

((د مړي د هډوکو ماتول په ګناه کې داسې دي، لکه د ژوندي انسان هډوکي چې ماتولای شي.))

یا دا چې:

1- د حدیث سند صحیح دی، تفسیر ابن کثیر، ټوک:۵، مخ:۴۵۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**((د مړي د هډوکو ماتول داسې دي، لکه د ژوند پرمهال يې چې هډوکي ماتولای شي.))**

**لومړی حديث ابن ماجه د ام سلمه رضی الله عنها په روايت نقل کړی. او دويم يې احمد، ابوداود، ابن ماجه د ام المؤمنين عائشې رضی الله عنها په روايت نقل کړی.[1]**

1- الفقه الاسلامي وادلته، ټوک:۲، مخ:٤٦٤.



## کوم هډوکي نه خاورې کېږي!؟

**بخاري، مسلم او د حديثو په نورو کتابونو کې د ابو هريره رضی الله عنه په روايت حديث نقل شوی، رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: د انسان په بدن کې داسې کوم غړی يا د غړي برخه نشته، چې نه خاورې کېږي؛ مګر يوازې يو هډوکی دی، چې په قبر کې نه خاورې کېږي، هغه (عجب الذنب) يانې د ملا د بېخ هډوکی دی، چې له دې نه به د قيامت په ورځ د دوباره پيدايښت د لړۍ جوړښت پيلېږي.**

**د ابوهريره رضی الله عنه په روايت بل حديث کې راغلي، رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: د قبر خاورې د بني ادم هر غړی او هره برخه خوري، پرته له عجب الذنب يانې د ملا هډوکي نه، چې د انسان پيدايښت هم له دې ځايه پيلېږي او د دويم ژوند پرمهال به هم د انسان د بدن فزيکي جوړښت له همدغه ځايه پيلېږي.[1]**

1- صحيح بخاري، مسلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابن اثیر رحمه الله په خپل کتاب (النهایة فی غریب الحدیث والاثر) کې حدیث ذکر کړی:د بني ادم د بدن هره برخه خاورې کېږي، پرته د ملا له هډوکي څخه.

او په یو روایت کې راغلي (الا عجب الذنب) مگر د ملا هډوکی.[1]

وروسته پیاوړی عالم او څېړونکی ابن اثیر الجزري رحمه الله د دې (عجب الذنب) څېړنه داسې کړې ده:"(عجب) هغه هډوکي ته ویل کېږي، چې د ملا په لاندینۍ برخه کې، کوناټو ته نېږدې ساحه کې ځای لري.

او په ځارویو کې دې برخې ته (عسیب) ویل کېږي، یانې د لکۍ هډوکی یا د ویښتو د شنه کېدلو ځای یوه نازکه برخه ده."[2]

په ټولیزه او ساده اصطلاح کې د لکه لمي هډوکي په نوم پېژندل کېږي.

## تعزیه که فاتحه!؟

1 -النهایة فی غریب الحدیث والاثر، ټوک: ، مخ:۱۶۷.

2 - التذکره فی احوال الموتی واموراالآخرة ، مخ:۱٤٥.



د مړي لپاره دعا کول او ښښنه غوښتل ښه عمل دی او د شرعي تعزیې موده درې ورځې او شپې وي.

له دې وروسته مکروه ده؛ مگر د غائب لپاره جواز لري، له درې ورځو هاخوا؛ ځکه پکار نه ده چې په دې سره د مړي کورنۍ ته غم تازه کېږي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: هېڅ یوې مسلمانې مېرمنې ته دا روا نه دي، چې پر الله تعالی او د اخرت په ورځ ایمان لري، پر مړي له درېو ورځو زیات ویر او خپگان وکړي؛ مگر پر خپل خاوند چې مړ شوی وي، څلور میاشتې او لس ورځې ویر او غم کولای شي.[1]

د شوافعو او حنابله وو په نېز د تعزیې (فاتحې) ته کېناستل مکروه دي، چې مړي والا ځانگړي ځای کې کېني او خلک دې ورته راځي، ځکه دې سره غم اوږدېږي.

د ابوحنیفه رحمه الله د مسلک فقهاوو لیکلي: د تعزیې (فاتحې) لپاره له جومات پرته تر درېو ورځو لپاره کېناستل څه باک نه لري؛ خو لومړۍ ورځ یې غوره ده.[2]

1- الفقه الاسلامي وادلته، ټوک:۲، مخ:٤٧٨.

2- الفقه الاسلامي وادلته، ټوک:۲، مخ:٤٧٨.

(c) ketabton.com: The Digital Library



باید یادونه وکړو، چې جوماتونو کې د مړو فاتحې اخیستل د امام ابوحنیفه رحمه الله د مسلک خلاف عمل دی.

ځکه له جوماتونو نه د حجرو-دېرو په ډول کار اخیستل د اسلامي مقرراتو خلاف عمل دی. له بده مرغه چې ډېری خلک ځانونه کلک حنفیان ګڼي؛ خو په لوی لاس د حنفي مسلک ودانۍ نړوي.

که تر دربو ورځو پورې څوک فاتحه اخلي، په کور یا بل کوم ځانګړي ځای کې دې کېني، چې هم اسلامي او هم ټولنیز اخلاقي اصول مراعت شي.



## اتم څپرکی

## اوس دې د ګور خونه را ورانه شوه د بامه سره!

د اسمان ښکلی مخ نیمه نیمه ورېځو پر خپل شال پوښلی و، لمر به کله پر دې بریالی شو، چې د ورېځو شال له خپل سپېڅلي رخسار نه لرې او د څو شېبو لپاره خپلو نورو همزولو کایناتو ته د رڼا وړانګې ډالۍ کړي.

د ورېځو خدمتګار شمال هم په غمازۍ کې ډېره تجربه لرله، په دومره بیړه به یې د ورېځو شال د لمر پر ځلېدونکي څېرې وروغوړاوه، چې تا به ویل، ورځ د مازیګر له شېبو سره غاړې غړۍ ده او نور نو لمر د سفر تابیا نیولې... هاخوا سپین غر د همت ناک زلمي په څېر د رنګینو کایناتو نندارې ته ولاړ و او د سپینو واورو په رحمتي لباس د کایناتو خالق نازولی و، شمال به هم د واورین سپین غره له لوري راښکته او د پسرلي پر وږمو مست ګلونه بوټي او فصلونه به یې مات رامات پرمخ ښکل او بیا به بل خوا لاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څه هم چې زما خیال د چاپېریال رنګینیو د کایناتو د ښکلا بڼ ته وربللی و او د ژوند مسافرې شپې مې له یاده وتې وې.

هلته څنګ کې د تللو مسافرو ښارګوټي ته ورستون شوم، چې پر سلام او پوښتنه یې څه ناڅه حق ورپوره کړم.

دې ښارګوټي کې زما پلار، مور او تره هم ډېره نیولې وه، ډېری مشرانو، ځوانانو، کوچنیانو، نارینه او ښځینه وو دلته د نااشنا ژوند خوږې او ترخې شپې ازمویلې، الله تعالی ته پته ده، چې د چا د بدن جوړې روحونه به علیین او د چا به د سجیین په دفترونو کې قید وي.

څوک به په ازموینه کې بریالی او څوک به ناکام شوي وي، د جنت له ښکلې او خوشبویه بڼ نه به د چا د قبر مانۍ ته خوشبویۍ او رڼاګانې ورننوځي؟

او څوک به بیا د دوزخ له ګرم اور نه په اور سوځېږي، چاته به قبر هرکلی ویلی وي.

غېږه به یې ورته خلاصه کړې وي، مینه او د مینې خواږه به یې ورکړې وي او چاته به یې ویلي وي، چې بد دې وکړه، زما غېږې ته راغلې، چاته به د جنت له باغچو باغیچه



ګرځېدلي وي او چاته به د دوزخ له کندو څخه یوه کنده ګرځول شوې وي.

سره او سپین غلافونه او شالونه پرې غوړېدلي وو، آن پر ځینو په دودیزه غیر شرعي ډول جنډې هم درول شوې وي، چې شمال به یې رنګینې ټوټې پرمخ وهلې او غږ به یې تر لرې ځایه اورېدل کېده.

د دغه ښارګوټي مسافرو ته د دعا او ښښنې غوښتلو وروسته مې د هدیرې په خاموشه نړۍ کې پر یو داسې قبر سترګې ولګېدې، چې په ټولیز ډول له څلورو خواو نه شلېدلی او غرق شوی و او له خاورو او شناختو سره یوځای او د ځمکې تل ته ښکته شوی و، د قبر دغه ورانې او ړنګې خونې د لرې څخه د خلکو سترګې ځان ته را اړولې او په لیدو یې په لیدونکو هومره وحشت او وېره راتله، تا به ویل، چې همدلته کېنم او د دې ړنګ شوي قبر څخه د دنیا د لنډمهالي ژوند په اړه زده کړه وکړم.

که څه هم چې قبرونو ته په شرعي توګه تګ د شریعت له نظره دا ګټه لري، چې د ژوندي انسان اړیکه له دنیا او د دنیا د لنډمهالیو خوندونو سره پرېکوي، د اخرت فکر ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وده ورکوي، انسان پرې له بديو نه راګرځي او الله تعالی د نېکيو توفيق ورکوي، خو د مسافرو په ښارګوټي کې دې رنګې شوې ماڼۍ زما په ژوند کې يو مثبت انقلاب رامنځ ته کړ.

د دنيا ماڼۍ او رنګين کورونه يې زما د ذهن له نړۍ نه وويستل او زه يې پر دې پوه کړم، چې د دنيا ماڼۍ رنګېدونکي دي.

هو؛ د قبر ماڼۍ هم رنګېږي، يوازې نېک عمل به له انسان سره ملګرى او پاتې وي.

هماغه شېبه مې د يو شاعر پر دې بيت خپل زړګي ته د دنيا د پناه کېدونکي رڼا او ښکلا ياد تازه کړ:

اول دې ښې لوړې ماڼۍ لوړې بنګلې درلودې
اوس دې د ګور خونه راورانه شوه له بامه سره

## ډالر يم!

شمشاد د خپل معنوي غرور عظمت، خپلواکۍ او ملي مسووليت پر بنسټ د بې کوره کډوالو، تلونکو-راتلونکو کړېدلو افغانانو سلام او هر کلي ته په احترام ولاړ و، د سپرلي مستو او خوشبويه څپو يې تازه تازه پر ښکلي مخ د



زلميتوب شنه ليکه راښکلې وه، ورځې هم شېبه په شېبه د لمر په اشاره د رڼا څادر ټولاوه او رخصتېدله.

د مسافرو افغانانو، مېرمنو او کوچنيانو بېړې، زوګ او خبرو ساحه داسې پوښلې وه، ګوا چې د حشر ورځ ده او هر انسان د خپل ځان په فکر کې ډوب دی. هر چا بيړه کوله، چې د مازيګر لنډې شېبې پرې د ماښام تورې لړې راخپرې او مېلمنې نه کړي.

او له پولې هاخوا يا دېخوا خپلو پناه کېدونکو جونګړو ته ځان ورسوي، ما سره هم له لرې اشغال شوې پښتونخوا نه يو کس د لارې ملګرتيا کوله، چې د پښتون په ټپي زړګي د راښکل شوې کرغېړنې چاړې له ځايه دېخوا له ده سره بل کس ملګری شو، دا کس له څرګندې بڼې ډېر نېک خويه او ژمن مسلمان ښکارېده، د دنيا په پناه او د دنيا والو په مالي او دنياوي حرص سره غږېده، د اسلام له سپېڅلي دين نه يې د خلکو سرغړونه، بې پروايي او مخ ګرځونه يادوله.

زموږ د لارې دې فکرمن ملګري د خبرو لړۍ همداسې غځوله، ويې ويل: يو کس چېرې په سفر تله، د خپل ژوند ملګرې (مېرمن) يې له ځانه سره د موټر په لومړي سيټ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېنوله، د لارې په اوږدو کې د سړک پرغاړه ولاړې يوې اغلې ته ودرېد، ترې ويې پوښتل: څوک يې؟

هغې وويل: کلداره يم!

دې کس خپلې همېشنۍ ملګرې ته وويل: ته وروسته سيټ کې کېنه! ځای کلدارې ته پرېږده.

کلداره له موټر چلوونکي سره په لومړي سيټ کې کېناسته، لږ وړاندې چې لاړل، پر يوې بلې مېرنۍ يې سترګې ولګېدې، پوښتنه يې ترې وکړه: تاسې څوک يئ؟

په ناز پالل شوې خپلواکې نړۍ وويل: افغانۍ يم!

موټر چلوونکي کلدارې ته وويل: تاسې وروسته سيټ کې کېنئ!

افغانۍ ته يې وويل: راځئ له ما سره په لومړي سيټ کې کېنئ!

موټر چلوونکي خپل سفر بيا پيل کړ، وړاندې ګوري، چې د سړک پرغاړه يو داسې ځېور ولاړ دی، چې خپلې ول ول ځنې يې غوړې کړې او پر شونډو يې مرموزه مُوسکا له مستۍ نه غزونې کوي، موټر چلوونکی د حرص شهواني قوې پر لېونتوب اخته کړی و، د عادت له مخې يې



د شوخ او مست ځېور مخې ته موټر ودراوه، ترې ويې پوښتل: ستاسې نوم؟

ځېور چې د موټر چلوونکي چاپلوسي او غوړه مالي وليده، نور هم د مستۍ څپو واخيست، ويې ويل: ډالر يم!

چلوونکی له خوشالۍ نه وارخطا شو، خپلې مېرمن ته يې وويل: ته د موټر په ډاله کې کېنه، افغانۍ ته يې وويل، تاسې له کلدارې سره وروستي سيټ کې کېنئ! او ډالر ته يې وويل: صيب مهرباني وکړئ! له ما سره همدلته کېنئ.

د ډالر مينې چلوونکی نشه کړی و، په ډېر ناز او غرور يې د سفر لاره لنډوله، يو ځای کې يې د نورانيت د روښانه مشال د رڼا وړانګې خپرېدلې، سيمه د روحاني سکون او ارام معنوياتو پوښلې وه، د ژوند د بري راز د همدغه پانوس په رڼا کې ترلاسه کېده، د الهي رحمت وړانګو هم په دغه سيمه د سپېڅلتيا نوراني څادر غوړولی و، د امنيت په دغه ډاډمنه چاپېريال کې سړک ته څېرمه د معنوياتو پر ګاڼه پسوللی يو معنوي شخصيت ولاړ دی، چلوونکي د ياد شخصيت په اشاره موټر د هغه مخې ته ودراوه، پوښتنه يې ترې وکړه: ته څوک يې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رڼاګانو سمبول ووېل: زه اسلام (دين) يم.

موټر چلوونکی، چې د ډالر پناه کېدونکې مکارې مينې په زړه داړلی و، ووېل: سيټ پوره دی.

هوکې!

د دنيا مينه وه، چې ډالر يې د لومړي سيټ، کلداره او افغانۍ يې د دويم سيټ او خپله مېرمنه يې د ډالې مېلمنه کړه او دين ته پکې ځای نه و؟!

## د ګور شپه نه په کور کېږي

ملګرو پرې ډېره سپارښتنه کوله، چې دا ځل به له موږ سره ډېرې ورځې تېروې، حامد، سلمان او ارمان به هم راوغواړو، د ننګرهار مستو او ښايستو سيمو او درو ته به په سيل لاړ شو، د غازي امان الله خان پارک به ووينې.

وخت به راشي د سپين غره سيل ته به لاړ شو
صبر وکړه لا ګورګرې پخـــــــــــــې نه دي

که وشو د سپين غره سيل ته به لاړ شو، ګورګرې به پخې وي، د ماڼوګانو ځانګې به له ځانه سره راوړو.

يوه ورځ به د علامه سيد جمال الدين افغان د زوکړې سيمې ته چکر ووهو، د کونړ د مست او ښپاند سيند ننداري



ته د سالار باغ د بڼ شنو ونو لاندې کېنو، واپسۍ کې به د دې ځلوريزې د شاعر سرسبزې سيمې ته سلام وکړو.

د ژونـــــدون مـېره اوږده ده تږی کېږې
ګوټ د شـــوندو د شربت درسره واخله
د وصال ډيوه به مـړه وي موږ به نه يــــو
دا په ياد د محبـــت درسره واخلـــــــه

هو؛ عماره! محمد موسی شفيق درته يادوم، د صديق الله رښتين او قيام الدين خادم قبرونو ته له سلام وروسته، به:

اول ځان د قام خادم کړه
بيا هله د قام سردار شه

د شعر شاعر ملنګ جان قبر ته ورشو، که زړه دې و، يوه ورځ به د احساس د ځلي مزار ته سر ورښکاره کړو، چې ويل به يې:

يو پټ غلی احساس دی په ارام مې نه پرېــــدي
په اور مې کړوي، لکه چې خام مې نه پرېـــــدي
جرائت مې زياتوي دومره پر ځان يمه پوی شوی
غافل له خپله حقه او غلام نه مې نه پرېـــــدي

(c) ketabton.com: The Digital Library



الفت صیب یادوم، د عمار ذهن مې چې څومره د خیال پر وزرو سپور په ننګرهار، کونړ او لغمان کې وګرځاوه، درېز یې ډېر کلک و، ډېر مې وهڅاوه، چې دا ځل به له ننګرهاره کندهار د علامه عبدالحی حبیبي او عبدالرووف بېنوا ښارونو ته چکر ووهو.

خو زړه یې د بېړني پرواز او الوت په شېبو کې ښکارېده، عمار ماته ډېر ګران و، د هغه مینې زما د زړګي پر تخت واکمني کوله.

د هغه پر لیدو به زما زړه د ارام احساس کاوه، هغه زما له کوچنیتوب آن له ښوونځي نه تر پوهنځي پورې صمیمي دوست و، نه پوهېدم چې څنګه یې پخلا او ځان سره یې ایسار کړم، خو دا ځل یې خېره کې د جدایۍ نااشنا نښو غزونې کولې، هو اراده یې پر هوډ بدله کړه.

له نورو ملګرو سره یې خدای پاماني وکړه او له هغه وروسته یې ماته په داسې شېبو کې مخ راواړوه، چې ښکلې سترګې یې له مسافرو مرغلرو اوښکو ډکې ډکې کېدلې، پر ښکلي رخسار یې د مسافرۍ خزان د خپګان خړې ورېځې خورې کړې وې، شونډې یې رپېدلې، پر ژړغوني او



لړزانده غږ یې راته وویل: رومانه! ماته غاړه راکړه، نور به د موټرو تم ځای ته ځان ورسوم، ناوخته کېږي، زما زړه هم د فراق خپګان داسې پر څپېړو وواهه، چې هغه سره د غاړه غړې کېدلو پرمهال مې له سترګو اوښکې روانې او ژبه مې بنده بنده کېدله، سلمان اجازه واخیسته، دا نو داسې شېبې وې، چې لمر په ورور خپل طلایي رنګ زیاتوه، شېبه پر شېبه ورځې خپله غوړېدلې غالۍ راټوله او د شپې د راتګ زېری یقیني کېده.

تر ډېره مې له عمار سره تلېفوني اړیکه فعاله وه، خو څه وخت وروسته موبایل هم راسره د وفا مزی وشلوه، ډېر اندېښمن وم، چې عمار به کابل ته رسېدلی وي که نه، له بده نصیبه هېڅ لاره نه وه، چې زه دې پرې د عمار له حاله خبر شوی وای، شپه تېره شوه، سهار مهال مې له میډیا نه د غم دا خبر واورېدل، چې تېر ماښام د ماهیپر هسکې غړۍ ته څېرمه د مسافرو دوه موټرونه سره ټکر شو، چې ډېری سورلۍ یې ټپي او یو زلمي هلک په کې خپل روح او خوږ ژوند له لاسه ورکړ... وروسته معلومه شوه، چې دا زلمی هم هاغه زما ګران دوست عمار و، د مرګ زېري یې ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ودردولم، مگر څه چاره نه وه، ځکه تقدير په تدبير نه بدلېږي، هماغه شپېه مې د مشرانو پر دې خبره يقين نور هم پوخ شو، چې د گور شپه نه په کور کېږي، هو؛ نه په کور کېږي.

## ته څوک يې؟

يوه ورځ عاصم له مېرمن او بچيانو سره له کوره په چکر ووتل د لارې په اوږدو کې يې يو سړی وليد، چې د لارې په سر ولاړ و، عاصم ترې وپوښتل: تاسو څوک يئ؟

هغه وويل: زه مال يم.

عاصم له خپلې مېرمنې او بچيو نه پوښتنه وکړه: څنگه مو خوښه ده، ده ته له ځانه سره ځای ورکوئ او که نه؟

ټولو په يو غږ وويل: ولې نه، ده ته به هرومرو ځای ورکوو، ده ته خو سفر کې ډېر اړتيا پيداکېږي او د ده په شتون کې ډېر څه لاسته راوړلای شو.

مال يې له ځان سره اوچت کړ او سفر يې بيا پيل کړ، لږ وړاندې چې لاړل، هلته يې يو بل کس وليد، چې لاره کې ولاړ و، عاصم ترې وپوښتل: تاسې څوک يئ؟

هغه په ځواب کې وويل: زه مقام او منصب يم.



عاصم له خپلې مېرمنې او بچيو وپوښتل: څنگه دی له ځان سره کېنوئ؟

ټولو وويل: هرومرو، ولې نه! ده ته په سفر کې اړتيا ليدل کېږي، د دنيا ډول ډول لذتونه د مقام په وسيله لاسته راوړل کېږي، ده ته به هرومرو په سيټ کې ځای ورکوو.

مقام او منصيب يې هم له ځان سره په موټر کې کېناوه، د خوښيو او خوشاليو ډک سفر کې مېله ځای ته روان وو او کوم لذت او نفسي غوښتنې سره به يې چې ملاقات کېده، له ځان سره به يې موټر ته اوچتولې.

د سفر په جريان کې يې يو بل کس وليد، چې د عمومي سړک پر غاړه ولاړ و، عاصم د هغه څنگ ته موټر ودراوه، ترې ويې پوښتل: تاسې څوک يئ؟

هغه وويل: زه دين يم.

عاصم خپلې مېرمنې او بچيو ته وکتل ويې ويل: څنگه دا له ځان سره ځايوئ؟ د خوښيو پر وړو مستې کورنۍ يې وويل: اوس د دې وخت نه دی، دا مهال له دين سره د سفر کولو وخت نه دی، اوس موږ د دنيا په سيل او چکر وتلي يو، د دنيا له طبيعي منظرو او گلورينو باغيچو له گلونو او گلدستو به خوند اخلو، په ازادۍ او خپلواکۍ به گرځو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**او دين خو پر موږ په زرګونو پابندۍ لګوي، زموږ د خوندونو په وړاندې خنډونه پيداکوي، مخنيوی يې کوي.**

**هو؛ داسې به وکړو، چې له چکر وهلو څخه راستانه شو، بيا به دين له ځان سره په څه طريقه موټر کې ځای کړو.**

**دين يې هملته پرېښوده او دوی ترې وړاندې لاړل، د سفر په بهير کې په عمومي سړک لږ لا نه وو تلي، چې د تالاشۍ پر پوستې وربرابر شو، هلته پر لوحه ليکل شوي وو: ودرېږه (Stop)، يو سړی ولاړ و، عاصم نه يې په ډېرې تونديې لهجې سره د موټر نه د راکوزېدو غوښتنه وکړه او دايې هم ورته وويل: عاصمه! ستاسې د سفر وخت ختم شو او له دې سره سره يې د موټر دننه سترګې واچولې او ويې ويل: زه له تاسې سره دين ګورم، چې شته که نه؟**

**عاصم وويل: دين مې لږ وړاندې ځای کې پرېښوده، که اجازه کوئ، زه به هغه پسې بېرته لاړ شم او موټر ته به يې له ځان سره رااوچت کړم.**

**هغه کس وويل: اوس ناشونې ده، ستاسې وخت ختم شوی، اوس به تاسې له ما سره ځئ.**

**عاصم وويل: سمه ده؛مګر له ما سره مال، منصب، مېرمن او بچي دي.**



**هغه کس وويل: اوس ستاسې مال، منصب، مېرمن او بچي تا د الله تعالی له عذاب څخه نه شي ژغورلای، يوازې دين ستاسې په کار راته، کوم چې تاسې وړاندې په لاره کې پرېښی دی.**

**عاصم وپوښتل: ته څوک يې؟**

**هغه وويل: زه مرګ يم، له کوم نه چې تاسې په بشپړه توګه غافل او بې پروا وئ او عمل مو هېر کړی و.**

**د هغه مېرمن او بچو دی پرېښود، مال او منصب لپاره يې بل چا سره خپله د سيل او چکر سفر په لور مخکې لاړل، هېڅ يو هم د عاصم د مرستې لپاره له موټر نه ښکته نه شو، آه... آه... .**

**(يَأَيُّهَا ٱلَّذِينَ آمَنُواْ لاَ تُلْهِكُمْ أَمْوَالُكُمْ وَلاَ أَوْلاَدُكُمْ عَن ذِكْرِ ٱللَّهِ وَمَن يَفْعَلْ ذٰلِكَ فَأُوْلَـٰئِكَ هُمُ ٱلْخَاسِرُونَ﴿٩﴾سورة المنافقون)**

**ژباړه:((ای مؤمنانو، ستاسې مالونه او اولادونه دې تاسې د الله له ياد نه غافل نه کړي. کوم کسان چې دا کار وکړي هغوی زيانمن دي.))**

**(وَلَن يُؤَخِّرَ ٱللَّهُ نَفْساً إِذَا جَآءَ أَجَلُهَآ وَٱللَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ﴿١١﴾ سورة المنافقون)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه:((په داسې حال کې کله چې د يو چا د عمر د پوره کېدو وخت رارسېږي، نو الله هغه ته هېڅکله نور مهلت نه ورکوي او تاسې چې څه کوئ، الله پرې ښه خبر دی.))

﴿يَوْمَ لاَ يَنفَعُ مَالٌ وَلاَ بَنُونَ﴿٨٨﴾ سورة الشعراء﴾

ژباړه:((کله چې نه مال څه ګټه ورسوي، نه اولاد.))

﴿كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ ٱلْمَوْتِ وَإِنَّمَا تُوَفَّوْنَ أُجُورَكُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَامَةِ فَمَنْ زُحْزِحَ عَنِ ٱلنَّارِ وَأُدْخِلَ ٱلْجَنَّةَ فَقَدْ فَازَ وَما ٱلْحَيَاةُ ٱلدُّنْيَا إِلاَّ مَتَاعُ ٱلْغُرُورِ﴿١٨٥﴾ سورة ال عمران﴾ ژباړه:((په پای کې هر څوك د مرګ خوند څکونکی دی او تاسې ټول د قيامت په ورځ د خپلو خپلو پوره اجرونو ميندونکي يئ، بريالی اصلاً هغه څوك دی، چې هلته د دوزخ له اوره وژغورل شي او جنت ته ننويستل شي، پاتې شوه دا دنيا، دا خو صرف يو غولوونکی شی دی.))

﴿قُلْ إِن كَانَ آبَاؤُكُمْ وَأَبْنَآؤُكُمْ وَإِخْوَانُكُمْ وَأَزْوَاجُكُمْ وَعَشِيرَتُكُمْ وَأَمْوَالٌ ٱقْتَرَفْتُمُوهَا وَتِجَارَةٌ تَخْشَوْنَ كَسَادَهَا وَمَسَاكِنُ تَرْضَوْنَهَآ أَحَبَّ إِلَيْكُمْ مِّنَ ٱللَّهِ وَرَسُولِهِ وَجِهَادٍ فِي سَبِيلِهِ فَتَرَبَّصُواْ حَتَّىٰ يَأْتِيَ ٱللَّهُ بِأَمْرِهِ وَٱللَّهُ لاَ يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلْفَاسِقِينَ﴿٢٤﴾ سورة التوبة﴾

ژباړه:((ای پېغمبره! ووايه چې که ستاسې پلرونه، ستاسې زامن، ستاسې وروڼه، ستاسې مېرمنې، ستاسې خپل-خپلوان، ستاسې هغه



مالونه چې تاسې ګټلي دي، ستاسې هغه تجارت چې د هغه په ورانېدو انديښمن کېږئ او ستاسې د خوښې کورونه تاسې ته له الله او د هغه له پېغمبر او د هغه په لار کې له جهاد نه ګران وي، نو انتظار وباسئ تر دې پورې چې الله خپله فيصله ستاسې مخې ته راولي او الله فاسقانو ته لارښوونه نه کوي.))

﴿وصلی الله علی خير خلقه محمدٍ وآله وصحبه اجمعين.﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لیکلړ

موضوع — مخ

## لومړی څپرکی


د مؤمن لپاره ډالۍ ........ 7
د ژوند جوړه ........ 10
د مرګ هیله ........ 13
د مرګ یاد ........ 15
د مرګ یاد زړه کې نرمي پیداکوي ........ 20
د مرګ پرښته له چا اجازه نه غواړي!؟ ........ 23
د مرګ استازې ........ 24
ملك الموت هر کور ته پینځه ځلې ګوري ........ 25
د ځناورو او حشراتو روحونه څوك اخلي؟ ........ 25
د مرګ پرښتې له چا اجازه غوښتې وه!؟ ........ 27
د شپې غړیز پیغام ........ 28
د مرګي سیلۍ ........ 29


## دویم څپرکی


وصیت مو له ځان سره لیکلی وساتئ!! ........ 31
وروستۍ خبره ........ 32
وروستۍ شپېه ........ 34





نصرانۍ پېغله ........ 35
د غوره خاتمې نښې ........ 37
د جبین پرخه ........ 42
د غرغرې شپېې ........ 45
سپینه مانۍ ........ 47
د الله تعالی دوسته سلام! ........ 48
الله تعالی مو پر مینه نازوي ........ 48
روحونه چېرته ځي!؟ ........ 49
د روحونو ارام ځای ........ 53


## درېیم څپرکی


غسل ........ 54
د غسل ورکوونکي ځانګړنې: ........ 56
د جمهورو فقهاوو دلایل: ........ 56
غسل ورکوونکی دې بیا غسل وکړي ........ 59
د مړي تخت ........ 61
د غسل د پیل اودس ........ 61
زړه مـــې له غیرته په ګوګل دننه دود شي ........ 65
ږمنځ چې دې بې پامه و هې ګوتې په کاکل ........ 65
د قبر جوړه!؟ ........ 67
د ښخولو حکم ........ 71

(c) ketabton.com: The Digital Library



مړي ښکلولی شئ؟ ........................................ 73
مړی مه ځنډوئ! ........................................ 74
د قبر ځنګ کې ژړا ........................................ 77
د جنازې د لمانځه طريقه ........................................ 78
د جنازې لمونځ چېرې کېږي؟ ........................................ 83
د کومو کسانو د جنازې لمونځ کېږي او د کومو نه؟! ........ 83
دوه ستر غرونه ........................................ 86
پر قبر که د اور پر سکروټو ناسته؟ ........................................ 86

## څلورم څپرکی

د قبر بنسټګر ........................................ 88
د قبر ودانيز جوړښت ........................................ 89
د مسافرۍ کور ........................................ 92
د قبر ژبه ........................................ 95
لحد ........................................ 95
قبر به خومره ژوروئ؟! ........................................ 97
د مړو قبله ........................................ 98
تابوت ........................................ 99
درې لپې خاوره ........................................ 100
څلور پوړيزه قبرونه ........................................ 102
د خپلوانو هديره ........................................ 104



د قبر شپه او تش پالنګونه ........................................ 104
د عليين ماڼۍ او د سجيين زندان! ........................................ 106
د ازموينې پاڼه ........................................ 115
د ازموينې ژبه ........................................ 117

## پينځم څپرکی

په قبر کې روح بدن ته څنګه راځي!؟ ........................................ 118
د قبر عذاب په قرآني هينداره کې ........................................ 121
د قبر عذاب له څه سرچينه اخلي!؟ ........................................ 125
د قبر عذاب ........................................ 127
د قبر عذاب حق دی! ........................................ 131
ګرُز ........................................ 133
قبر يې له غېږې غورځوي؟ ........................................ 135

## شپږم څپرکی

د قبر له عذاب نه نجات ورکوونکی سورت ........................................ 137
ژغورونکې ډالۍ ........................................ 139
دوه ورځې، دوه شپې ........................................ 140
د قبر ياران ........................................ 141
شينکی قبر ........................................ 143
زه د عمل صالح ځای يم ........................................ 144
د قبر ناوې ........................................ 146

(c) ketabton.com: The Digital Library



**شنې ځانګې ....................................................... 147**



## اووم څپرکی

**درې ګونې نړۍ ................................................. 149**

**لومړۍ ګومبزه ................................................ 152**

**تر ټولو به لومړی زه له قبره پاڅېږم! ......................... 153**

**د مړي هډوکي ................................................. 156**

**کوم هډوکي نه خاورې کېږي!؟................................ 158**

**تعزیه که فاتحه!؟ ............................................... 159**

**اتم څپرکی ....................................................... 162**

**اوس دې د ګور خونه را ورانه شوه د بامه سره! ............. 162**

**ډالر یم! ........................................................ 165**

**د ګور شپه نه په کور کېږي...................................... 169**

**ته څوک یې؟...................................................... 173**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**